# روښـــــــان

# او پـر روښـانـيانـو لـيكلي آثـار

لـيكوالـه:
عـــزيـزه افغـــانـي

پـېژنـدګـلوي د:
دوكـتـور فـاروق اعظم

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب ټول حقـــــوق مؤلف ته خوندي دي


## کتاب پېژندنه:

دکتاب نوم :
روښان او پر روښانيانو ليکلي آثار
ليکواله: عزيزه افغاني
پېژندګلوي د: دوکتور فاروق اعظم
چاپ نېټه: 1387 ل
شمېر : 500 ټوک
ډيزاين: ذبيح شفق

چاپځی:

د دانش خپرندويې ټولنې تخنيکي څانګه _ پېښور
**Tel:2564513Email:Danish2k2000@yahoo.com**
**WWW.DANISHPRESS.COM**

# پېژندګلوي

ددې لیاره چې ستاسو په وړاندې پروت کتاب (د روښان او پر روښانیانو لیکلي آثار) نسبتا سم وپېژندل سي، زه یې د پېژندګلوۍ ترعنوان لاندې پر درو لویو برخو وېشم. یوه برخه یې د کتاب د محترمې لیکوالې پېژندنه ده چې دا څوک ده؟ په څنګه محیط او ماحول کی پیدا او لویه سویده؟ څه تعلیم یې کړیدی او ددا ډول مهم کتاب د لیکلو صلاحیت یې څومره دی؟ فکري بنیاد یې کوم او روښاني دورې ته یې څنګه کتلي دي؟ او ځینې نورو دا ډول سوالونو ته جواب چی بیله دغه برخې به ددې کتاب پیژندګلوي ناقصه وي.

د پښتو ادب په تاریخ کې د روښاني دورې په اهمیت او ددغې دورې پرمهمو لیکوالانو یا پردغه فرهنګي تحریک د لیکنو د معرفي په ارزښت هغه وخت پوره پوهید ای سو چې موږ د بایزید روښان او د روښاني دورې پر فکري، سیاسي او ادبي بهیر او د هغو پر څرنګوالي یوه هراړخیزه علمي څېړنه وکړو. سره لدې چې له نیکه مرغه د پښتو ادب پر دغه مهمه دوره غنیمت خو تیت و پرک څه لیکل سویدي مګر یوې مفصلې هراړخیزې علمي څېړنې ته یې اوس هم تږي یو. زه پردې مهمی دورې دغسې یوه لیکنه چې د پښتو ادب د مېنانو تنده په ماته سي دلته نکوم؛ دا ځکه نه غواړم چې ددې کتاب یوه کوچنۍ او ساده پیژندګلوي په یوه داسې مفصله څېړنیزه لیکنه واوړي چې ددی کتاب موضوع وربدله کړي. خو پر دې دورې باندې د یوه اجمالي نظر او پیژندګلوۍ پرته هم ددی کتاب په اهمیت او د محترمې لیکوالې د زیار په قدر لکه څنګه چې په کارده ډېر خلک نسي پوهید ای. په همدې منظور ددی پیژندګلوۍ په دوهمه برخه کې د بایزید روښان او روښاني دورې فکري، سیاسي او ادبي حالاتو ته یوه لنډه کتنه سویده.

د پیژندګلوۍ دریمه برخه د کتاب پر لیک او ترتیب یو انتقادي نظر دی.

## د کتاب د لیکونکې لنډه پېژندنه

آغلې عزیزه افغاني د مرحوم حاجي اختر محمد خان لور او د میوند د غازي مرحوم سرتیپ نورمحمد خان لمسۍ ده. د کندهار د ښار د لومړۍ ناحیې په یوه روڼ انده او دینداره کورنۍ کې زوکړیده؛ لومړني او منځني تعلیمات یې په عینو او زرغونه آنا لیسه کې سرته رسولي او د کابل د پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي د پښتو څانګې څخه فارغه سویده. پر افغانستان د روسانو ترحملې سمد ستي وروسته پاکستان ته مهاجره سوه. هلته یې د شوروي تجاوز پخلاف د خپلو مجاهدو وروڼو په څنګ کې ښوونیزه او فرهنګي مبارزه کول. د وخت څخه په استفاده یې د پېښور پوهنتون د پښتو څانګې څخه ماستري او ورپسې یې ایمفل وکړ. ډاکټر محمد اقبال نسیم خټک د پیښور د پوهنتون د پښتو څانګې پخواني مشر په هغه تقریظ کې چې د شیر افضل خان بریکوټي پر کتاب (بایزید انصاری) چې په اردو ژبه چاپ دی لیکي چې: (د پیښور پوهنتون) په پښتو څانګه کې یوې شاګردې - عزیزه - پر بایزید او د بایزید پر تحریک ډګري کړیده (شیرافضل خان بریکوټي، ص. ۳۹). پر ډاکترۍ یې هم تر ډېره کار کاوه. په فارسي ادبیاتو کې هم ښه لوی لاس لري او په دغه څانګه کې یې د پیښور له پوهنتونه دماستري درجه اخیستې ده. د کال ۱۹۸۷ څخه تر ۱۹۸۹ پورې په پیښور کې د مجاهدینو د ښځو په پوهنتون کې د پښتو ژبې او ادبیاتو استاذه وه. له ۱۹۸۹ څخه تر ۱۹۹۲ پورې د مجاهدینو په عبوری حکومت کې د پوهنې د وزارت د ښځو د تعلیم د څانګې رئیسه وه. کله چې په ۱۹۹۲ کې مجاهدین کابل ته ولاړل عزیزه

خور ورسره نه ولاړه او د خپلې کورنۍ سره پېښور کې پاته سوه. تر ډېره په پاکستان کې وه او اوس کندهار کې پر کور ناسته ده. واده یې کړی او مور ده.

عزیزې خور پدغه کتاب کې چې ستاسې په وړاندې دی افغانی خو په ځینو نورو ځایو کې نورې تخلص کارولیدی چې نسبت یې و خپل نیکه (سرتیپ نورمحمد خان) ته کړیدی. په مهاجرت کې یې د افغاني تخلص خوښولو وجه ښائي داوي چې هغې پخپل افغانیت فخر کاوه او غوښتل یې د پاکستان په علمي محیط کې یې خلک د افغانی په نوم وپېژني.

په فرهنګي برخه کې عزیزې خور مهمې او جرائتمنده لیکنې کړیدي. دلته دهغې دیوې لیکنې د مثال په ډول یادونه کوم چې د جهاد په دوران کې دافغانستان دجهادي څېړنو دمرکز څخه په خپرېدونکي قلم مجله کې چاپ او ډېر لاس په لاس سوه. مرحوم مولوی محمد یونس خالص چې دجهاد له پیاوړو مشرانو او لیکوالانو څخه وو د جهاد د وخت د خپل تنظیم په اخبار کې یې یو عالمانه مضمون ولیکي چې عنوان یې وو (مور هم مور او خور لرو) مولوی صاحب دا مستدل مضمون د یرغلګرو او معاندینو د انتقاداتو په جواب کې لیکلی وو چې ګواکې مجاهدین ښځو ته حقوق نه ورکوي. عزیزې خور د مولوی صاحب پردغه مضمون یوه ښه کره انتقادي لیکنه وکړه او د قلم په معتبره مجله کې یې چې د جهاد یوه مشهوره غیرتنظیمي، علمي او ادبي خپرونه وه په همدی عنوان چاپ کړه چې موږ هم مور و خور لرو. هغې استدلال کاوه چې نورو زموږ د ښځو غم ندې اخیستی بلکه پرموږ دا د تمساح اوښکې د خپلو استعماري اهدافو لپاره تویوي. داڅنګه کیدای سي چې دوی له یوې خوا زموږ وروڼه اشرار او تروریستان بولي، هغوی راوژني، زموږ میندې بورې کوي، خویندې را ورارې کوي، د سر سیوری مو ورکوي، کورو ته مو په زور راننه وزي، پت و عزت مو رالوټي او له کورو مو شړي او مهاجرت ته مو مجبوروي خو بلې خوا ته زموږ د حقوقو او پر موږ د زړه سوی ناری وهی؟ په عین حال کی چی لاسونه یی زموږ د پلورونو او وروڼو په وینو سره دی او زموږ کورنی ټول بشری بینیادی حقوق یی تر پښو لاندی کړیدی زموږ د یو شمیر حقوقو چیغی وهی. موضوع داسی ساده نده. دوی فکر کوی چی د اشرار او ترهګر په ټاپه او ورپسی پخپلو توپ او طیارو به زموږ روحیات او مقاومت وځبی، زموږ څخه به د عقیدی د دفاع او وطن د آزادی د ساتلو رمز (جهاد) واخلی او د ښځو د حقوق په نارو او ډنډورو به اسلام چی زموږ د بقا او عزت راز او رمز دی کمزوره کړی. او چی کله یی موږ ددغه راز او رمزه محروم او ذهنا مریان کړو بیا چی هرڅه راباندی کوی کوی به یی؛ داځکه نور به نو موږ فکری هډانه، خودی او علو همت نلرو چی د استعمارګر پخلاف مو و مقاومت ته وهڅوی. .... عزیزه خور پخپل دغه عالمانه مضمون کی د خپلو مشرانو او علماء کرامو څخه هم ګیله لری چی د خدا (ج)، اسلام او زموږ د مؤمن ولس د هوسائی لپاره او هم د استعمار د دسیسو د خنثی کولو په منظور ولی د ښځو حال ته د اسلام د هدایات مطابق توجه نکوی؛ تل دا وائی چی ښځه داحق نلری او دا حق نلری خو نه وائی چی دغه حقوق بیا لری او باید ورکول سی. زموږ ښځینه طبقه ولی په سلو کی ۹۹،۹ بی علمه ده، لمونځ یی ندی زده او قرآن نسی لوستلای؛ په معنی پوهیدل او نور ددین ضروری احکام او عصری علوم لکه طبابت، اولاد روزنه، کورنی چاری او داسی نور ورښوول خو لا پرځای پریږده؟ دا حق چا ځینی سلب کړیدی او زموږ د ناپوهی او له اسلامه د ناخبری ګناه د چا ده؟ منم، دا ترڅه حده د تیرو حکومتونو ده خو تر ډېره حده د علماء کرامو هم ده. دوی ولی په لوی لاس د اسلام د دښمنانو تبر ته لاستی ورکوی؟ اسلام خو پخوا په نړۍ کی تر ټولو نورو ټولنو مهذبه او نه یوازی په دینی بلکه په دنیوی علومو کی هم تر نورو ټولو جوامعو پرمختللې نظام وو. د سلف صالحین لار ولې خوشې سوه؟ زموږ محترم علماء دین د اسلام د صریح ارشاداتو پخلاف زموږ د ځینو رواجونو د اصلاح لپاره ولې اقدام نکوي؟ دلته ښځه ولې په بدیو کې ورکول کېږي؟ یو فاسق او فاجر پلار یا ورور ولې خپله لور یا خور په قمار کې یو بل معلوم الحال فاجر او فاسق ته ور ودوي؟

داسې نکاح ملایان ولې تړي؟ او دداسې نورو غیر شرعي رواجونو پرخلاف ولې نه راپورته کېږي؟
ما (ددی پیژند ګلوی لیکونکی) مولوی صاحب خالص ولید ، دقلم مجله مي ورکړه او پـه دغـه مـورد کـې مې هغه ته وویل چې که د عزیزې خور پر جوابیه مضمون څه ولیکي. نور خلک هم ښایي څه پر ولیکي او پـدې ډول به دا مهمه مسئله روښانه او د یو مثبت علمي، فرهنګي او ټولنیز تحول پیلامـه سي. خو مولوی صاحب راتـه وویل چې دا خور موږ ته محترمه او زموږ د جهاد د سنګر ملګرې ده. څه چې وایي درست، پر شریعت برابر او د اسلام سره د همدردۍ او خواخوږۍ په منظور یې وایي؛ په رشتیا هم موږ باید دغو مسـاېلو تـه رسیدګي وکړو خو په اوسنیو شرایطو کې چې د یو لوی دښمن سره مخ یو ددې حساسې موضوع شاربل مصلحت نه بولـم.
په اسلامي ـ افغاني چوکاټ کې په افغانانو کې د ښځو دغې حساسې مسئلې ته په دغسې یو جرائت ډېر کم کسان را وړاندې سویدي؛ داځکه هغوی ویریږي چې د بیدینۍ ټاپه به پر ولګیږي په تېره بیا د جهاد په خاصو شرایطو کې چې ډېرو (په سر کې یې غربیانو) تحجر او افراط ته پکې واهه. خو عزیزې خور دا وېره نـه درلوده داځکه خپله د دین او وطن د دفاع په سپیڅلي سنګر کې ولاړه وه او اخلاص یې ډېرو ته معلوم وو.
د مسلک په لحاظ، د عزیزې خور د قلم مؤثریت او د فکر د تمثیل قوت هغه وخت چاته ښه څرګند ېږي چې د هغې د (بیوطنه شهزادګۍ) کیسه دقلم په مجله کې څوک ولولي چې هغې دخپل مهاجرت د سفر پـه وخت کې د دوو نورو پښتني مېرمنو د مهاجرت پـه بـاره کې لیکلې ده. دا د خارجي تجاوز پـه وړاندې زموږ د ښځمنو د عظیم مقاومت او د خپل دین او پاکې خاورې سره د پښتني مېرمنو د بې کچه مینې او فداکارۍ واقعي داستان دی.
زموږ د نجونو د تعلیم پـه برخه کې د عزیزې خور د ستاینې وړ زیار خو مثالي دی. هغې د هجرت پـه ډېرو سختو شرایطو کې دنجونو لپاره په پېښور، کویټه، اسلام اباد، کراچۍ او دمهاجرو په ډېرو لېرې پرتو کمپونو کې ابتدائیـه، متوسطه او ثانوي پـه سوو دیني او عصري مدرسې جوړې کړې. دا کار هغـه وخت او پـه هغـه شرایطو کې څه اسانه کار نه وو؛ علمي توان، دینداري، د ولس په نبض پوهېدنـه او خپلو خلکوتـه یې دخدمت سرشاره جذبه غوښته.
پدې ډول علمي لاسته راوړونو، فرهنګي هلوځلو او په ولس کې دننه ټولنیزو خدمتونو عزیزه افغانې خور ته ددې کتاب په لیکلو کې یو ممتاز موقعیت او پر موضوع یو خاص تسلط ورکړیدی.

## د بایزید روښان ژوند، کورنۍ او تحریک یې

### دبایزید روښان دنسب شجره:

بایزید د قاضی عبدالله زوی وو. عبدالله د شیخ محمد زوی، د بایزید پرنده لمسی، د سراج الدین کړوسی، د چراغ الدین کوسی او د سلطان ابراهیم دانشمند چې د بنګله دېش پـه ډاکه کې ښخ دی کودی وو. ځینې د بایزید په حوالـه د هغـه د نسب سلسله تر ابوایوب انصاري(رض) رسوي. بایزید خپـل ځان انصاري او وروسته مسکین باله؛ پیروانو یې پیر روښان او مخالفینو یې پیرتاریک ورتـه ویـل. کورنۍ یې د جنوبي وزیرستان د کاڼیګرم د سیمې وه. ددې سیمې خلک اورمړ (برکیان) وه
ځینې مؤرخین وایي بایزید اورمړ وو او اورمړ پښتانه ندي خو ډېری بیا اورمړ یا برکیـان پښتـانه بولي او استدلال کوي چې دا ښېلتون د پښتنو دکمزورولو لپاره پردو رامنځته کړیدي. څرنګه چې مؤثقو مؤرخینو اورمړ سړبني پښتانه او دخرښبون له اولادې څخه بللي او بایزید اورمړ وو نو هغه پښتون وو (شیر افضل خان ص

۱۵۰؛ تاریخ حیات ا فغا ني ). مولنا عبد القدوس قا سمي اورمړ او برکیان یو ګڼي او پښتانه يې بولي. دده په قول دا قوم پخوا د غزني په شاوخوا کې اوسېده او د سلطان محمود په وخت کې وزیرستان ته کډه سو او د خدمت په بدل کې هلته ځای ورته ورکول سو.

د بایزید د قوم په مورد کې دا استدلال هم کېږي چې مخالفینو د بایزید په وخت کې غوښتل چې هغه غیرپښتون ثابت کړي، تجرید يې کړي او بیا يې په پښتنو ووهي. پداسې حال کې چې که هغه پښتون نه وای نو خپل کتاب يې په پښتو نه لیکي داځکه هغه وخت نه یوازې د فارسي سره د خلکو حساسیت نه وو چې دده مخالفت به خلکو کړی وای بلکه پښتو او پښتانه تر سخت فشار لاندې هم وه.

بایزید ځانته دوه لقبه ورکړی وو: یو انصاري او بل مسکین. انصاري يې لومړی وو او وروسته يې هغه په مسکین بدل کړ. انصاري لقب يې ممکن په دوو وجوهاتو کړی وي. یو داچې ده ځان د خدای (ج) د دین په انصارو او ملاتړو کې باله او د عیسی علیه السلام د حیات طیبه په پیروی به يې دا نوم پر ځان ایښی وي. قرآنکریم د عیسی علیه السلام په باره کې فرمایي چې یوه ورځ هغه مبارک خلکو ته وویل: من انصاری الی الله. قال الحواریون نحن انصارالله (څوک د خدای په لار کې زما مرسته کوي. حواریونو وویل چې موږ د خدای په مرسته یو ). ښایي د بایزید هدف د انصاري تخلص څخه همدا معنی وي (د خدای په مرسته ).

دوهمه توجیه يې ښایي دا وي چې ممکن بایزید ددې لپاره ځانته د پیری، په اوله مرحله کې انصاري وایه چې ځان تلویحا عرب وښیي ترڅو خلک يې احترام وکړي او پیغام ته يې اهمیت ورکړي. خلک ده ته د عرب او د یوه داسې کس په سترګه وګوري چې پلرو نو يې اسلام دوی ته راوړی دی. پدې ترتیب لکه دښمنانو چې د بایزید د تجرید په منظور هغه غیرپښتون کاوه همداسې ممکن بایزید خپله هم د نورو د محبوبیت د جلبولو په منظور ځان غیر پښتون ښوولی وي (والله أعلم بالصواب ).

ځینو د بایزید و انصاري لقب ته داسې توجیهات جوړ کړیدي چې په اومه هجري پېړۍ کې یو تن چې شیخ ابراهیم دانشمند نومیده او ځان يې د ابو ایوب انصاری (رض) له اولادې باله او د شیخ شهاب الدین سهروردي مرید وو په عراق کې د خپل پیر تر وفات وروسته هندوستان ته ولاړ او هلته د شیخ بهاء الدین زکریا ملتاني سره دېره سو او د هغه لاسنیوی يې وکړ. څه وخت وروسته شیخ بهاء الدین زکریا هغه وزیرستان ته د ارشاد لپاره واستاوه. د دانشمند کورنۍ هلته د اورمړو سره مېشته سوه او کرار کرار ډېر سول.

پورتنۍ روایت چې د بایزید کورني د ابو ایوب انصاری (رض) د اولادې څخه وه او د عراق څخه وهندوستان ته او له هغه ځایه بیا وزیرستان ته راغلې وه زما په نظر کمزوره ښکاري. یو دلیل دادی چې د بایزید په اووه پښته کې یوه هم خپل د نسب سلسله د ابو ایوب انصاری سره نده تړلی. ټول مؤرخین پدې متفق دي چې بایزید د قاضی عبدالله زوی د شیخ محمد (امین ) لمسی، د بایزید پرنده کړوسی، هغه د شیخ محمد، هغه د سراج الدین، هغه د چراغ الدین او هغه بیا د ابراهیم دانشمند زوی وو. په دوی ټولو کې یوه هم انصاری تخلص ندی کړی بلکه بایزید لومړی سړی دی چې ځانته يې انصاري لقب ورکړیدی (شیرافضل خان بریکوټی، ص. ۷۹).
دوهم دلیل داچې دده هغه نیکه چې وائي عرب وو (شیخ ابراهیم دانشمند ) او د عراق څخه هندوستان ته راغلی وو ولې و ځانته د دانشمند لقب اختیاراوه؟ داخو سوچه فارسي ترکیبي کلمه ده. حتی د بایزید د ځینو نیکه ګانو نومان او القاب هم فارسي دي لکه پرنده، چراغ او دانشمند. عرب او عربي ژبه د هند په مسلمانانو کې ښکاره او منل سوی عزت درلود او تراوسه يې لری. که شیخ ابراهیم دانشمند په قوم عرب او انصاري وای نو په ډېر فخر به يې ځان و ابوایوب انصاری ته منسوب کړی وای او انصاري به يې ځان بللای څو هرچا يې قدر کولای. د هرات مشهور صوفي خواجه عبدالله ځانته انصاري وایه او دغه تخلص يې و شهرت ته ښه ګټه رسولې ده. څه دلیل دی چې شیخ ابراهیم یو داسې مهم تعلق چې په هغه به يې ټولو خلکو عزت کولای له ځانه لیرې او

يو بل متنازع فيه نوم (دانشمند) يې پر ځان کښيښود او په سل زياره به يې خلک قانع کول چې که عرب او د پيغمبر د قوم څخه نه دی نو پوه او دانشمند خو دی چې عزت يې بايد وسي. تاسې وګورئ! د پښتنو په سيمو کې مېشته عربان او سيدان يو نيم زرکاله وروسته هم پخپل عربوالي فخر کوي او د عرب او سيد وصف له خان سره ساتي. بلکه ډيری يې د خپلو نومانو په سر او پای دواړو کې د سيد او آغا توری د خپل اعزاز لپاره راوړي لکه سيد احمد آغا، سيد محمد آغا او داسې نور نومان. دلته سيد د ښاغلي او آغا د بادار په معنی دی خو په اصطلاح او عوامو کې ددواړو نسبت و پيغمبر عليه السلام ته کېږي. حتی ځينې خو پدغه هم بس نکوي او هاشمي هم د خپل نوم په پای کې ورزياتوي مثلا سيد حميد آغا هاشمي. همدا ډول حضرتان چې ځان د حضرت عمر (رض) اولاده بولي هرچېرې ځانو ته حضرتان (مجددی) وايي او د نوم په سر و پای کې لکه سيدان د خپل نسب او د حضرت عمر (رض) سره د خپل قومي تعلق ذکر کوي لکه حضرت مياجان جان آغا مجددي، حضرت بزرګ آغا مجددي او داسې نور حضرات. بل مثال يې د خواجه ګانو دی؛ دا خلک خپل دنسب سلسله وحضرت صديق (رض) ته رسوي او د ځان سره د خوجه يا خواجه توری حتمي تړي لکه حضرت خواجه معين الدين چشتي او داسې نور. څه دليل دی چې شيخ ابراهيم دانشمند يا دده اولادې د بايزيده تر وخته ځانو ته انصاري ونه ويل؟ تر بايزيد دمخه دده د کورنۍ هېچا او حتی دده خپل معاصر خپلوانو (د پلار په شمول يې) هېڅ يوه ځان ته انصاري ندي ويلي. څرنګه چې په پښتنو کې ډوک خپل قام نسي بدلولای نو د بايزيد کورنۍ هم خپل قام نسوای تغييرولای او په زيات يقين بايزيد د انصاري تخلص د خدای د مرستندوی په معنی استعمال کړيدی نه خپل تعلق د ابو ايوب انصاری (رض) سره. مغلو هم بايزيد پښتون باله نوځکه مرزا حکيم د کابل والي ته خپل درباريانو وويل چې که پير روښان خوشې کړي نو رسوخ به يې پخپل قوم (افاغنه) کې نور ډېر سي او هغوی به زموږ له خراجه ډډه وکړي.

پدې ډول د بايزيد د کورنۍ د تاريخ له مطالعې څخه سړی په زغرده ويلای سي چې دا کورنۍ بيخي عرب نه وه بلکه پښتانه وه او بايزيد ځانته د انصاري لقب د يو څه وخت لپاره ښايي په هغو دلايلو انتخاب کړی وي کوم چې ما دمخه ذکر کړل.

## دبايزيد روښان پيدا ايښت او لوئېدنه:

د اورمړو څه کورنۍ د لودي پښتنو د سلطنت په وخت کې د پنجاب جلندهر ته کډه سوې وي. په دوی کې د ابراهيم دانشمند د اولادې څخه يو څو کورنی هم وي او په جلندهر کې يې دغه نوې مينې ته د تبرک په منظور بستي دانشمندان وويل. د بايزيد نيکه، شيخ محمد، او زوی يې عبد الله په کانيګرم کې او سېدل خو يو بل زوی يې په جلندهر کې وو. هغه هلته وفات سو او کونډه يې (بی بی آمنه) د هغه ورور قاضی عبد الله وکړه پدی شرط چی دغه ميرمن به له خپلې پلرګنۍ څخه چی په جلندهر کی وه نه جلا کوی. ددوی څخه په ۹۳۱ هـ ق (۱۵۲۴م) کی يو زوی پيدا سو چی نوم يی دبايزيد بسطامی په اقتفا بايزيد پر کښيښود.

د بايزيد پلار (قاضی عبد الله) مجبور وو چی پسله څه وخته وطن (وزيرستان) ته ولاړسی داځکه هلته يی بله ښځه (فاطمه)، زوی (يعقوب) اونور ماشومان وه او ورسره يی ملايی هم وه؛ نوموړی په ټولو ورونو کی ښه ملا وو. قاضی عبد الله به کله په وزيرستان او کله په جلندهر کی وو. پر هندوستان د مغلو يرغل پيل سو؛ بابر باچا په هند کی د پښتنو سلطنت ړنګ کړ (۱۵۲۶م). پښتانه هرځای تر تعقيب او شک لاندی وه او مغلو هرځای پښتانه ځبل. پدغسی شرايطو کی نور عبد الله په آسانه د وزيرستان او جلندهر ترمنځ چی ډيره لاره وه تګ راتګ نسوای کولای. د بايزيد مور يی پدی راضی کړه چی وزيرستان ته ورسره ولاړه سی (۹۳۷ هـ ق). دا وخت به بايزيد د ۶ کالو وو. د عبد الله بل ورور (خديداد) هم له جلندهره و کانيګرم ته ورسره کډه سو.

د بایزید مور (بی بی آمنه) په کانیګرم کې د خپلې بنې سره ګذاره نسوای کولای او بېرته جلندهر ته خپلې پلرګنۍ ته ولاړه خو بایزید د پلار سره پاته سو. وائي چې مور میره سي پلار پلندر سي. میرې بد ورسره کول او پلار یې سر نه په ګرځاوه. پدې ډول یې پلار پلندر او مور پر جلندهر سوه. قاضي عبدالله خپل زوی، بایزید، خپل یو شاګرد، ملا پاینده، ته حواله کړ چې مروجه دیني علوم وروښئي. سبق یې تر منیة المصلي او عمدة الاسلام پوري وواېه خو د کورنۍ ستونزو په وجه یې نور ادامه ورنکړای سوای. کلونه هسې بې سبقه پر تیر سوه. چې ځوان سو د پلار څخه یې و حج ته د تلو اجازه وغوښته چې د حج په نیت ځم خو که پر لاري پر یو کوم سم چا پیښ سوم علم به هم ځیني زده کړم. پلار یې موافقه ونکړه ویل پیسه ته نلرې د پور په پیسو یا په لار کې په فقر کولو حج ندی پکار.

بایزید ذهین، سرشار او مبتکر سړی وو. هغه چې ولیده د علم حصول یې د کورنۍ مشکلاتو په وجه ترسره نسو نو د معرفت پرخوا یې مخ کړ. هغه وخت د مریدی بازار په وزیرستان کې څه چې په ټوله پښتونخوا کې تود وو. پیرانو به د خپل لنګر د تود ساتلو او مریدانو به د ځان د پورته او ښه ښوولو په منظور هرځای د پیرۍ او مریدۍ تبلیغ کاوه. دا خبره خو عامه وه چې څوک پیر نلري دین نلري. پیرانو د مریدانو په خولو کې ځینې عربي جملې ورکړې وې چې ګواکې احادیث نبوي دي او هرځای به یې پر عوامو د تیری توری پشان کارولې. مثلا یو صحیح حدیث دی چې محمد (ص) فرمائي: لادین لمن لاعقل له. یعني چا لره چې عقل نه وي دین نسته. همدا سبب دی چې په اسلام کې پر کوچنی، بیسده او لیوني دیني مکلفیتونه یا نسته یا معطل او یا تخفیف دی. خو هغه وخت دوی دا حدیث اړولی وو او ویل بې چې لا دین لمن لا شیخ له (څوک چې شیخ نلري دین نلري). یعنې چې څوک پیر نلري ګویا عقل نلري او چې عقل نلري نو دین نلري.

د بایزید ټولې کورنۍ په پیرۍ کې ګوتي وهلې. دده اکا (خدایداد) چې بایزید ډیر پر ګران وو پیری کول او د کانیګرمه دوړو ته چې هلته هم څه برکیان او سیده کېده سو. خدایداد هلته چا مړ کړ او پر ځای یې زوی، اسمعیل، د پیرۍ پر ګدۍ کښېنوست. شیخ اسمعیل په لږ وخت کې ډیر شهرت پیدا کړ او په مریدانو کې یې دا خبره مشهوره وه چې دده مخلص مرید په دې دنیا کې الله پاک لیدای سي. عالمانو او نورو پیرانو د شیخ اسمعیل مخالفت کاوه او عوامو یې رغبت. هغه وخت یو مرید باید د یو پیر د مریدی او ماذونی له لاري د پیری مقام ته رسیدلی وای. داځکه ددوی په نظر بیله دغه لاري پیری ته رسیدل ممکنه نه وه؛ بیله پیره د پیرکیدو ادعا یې بدعت او ګمراهي بلل. خو شیخ اسمعیل ویل چې ماته خپل پلار په خوب کې طریقه راښوولې ده. پر بایزید خپل د اکا زوی (شیخ اسمعیل) ګران وو او چې بیا د شیخ پلار شهید سو نو دده نور زړه سوی هم ورسره ډیر سو او چې کله هغه ادعاء وکړه چې ماته د پیرۍ طریقه پلار په خوب کې راښوولیده نو د بایزید هم زړه نرم سو او بل داچې ګویا د یوچا په لاسنیوی پیر سویدی او بدعت یې ندی کړی. بایزید د شیخ اسمعیل د لاسنیوی اراده وکړه خو پلار یې له هغه څخه د مریدۍ مشوره ورنکړه. یو خو دا چې ښائي پرنفس به یې نه هواریده چې دده زوی دي دده د وراره مرید وي او بل دا چې د بایزید پلار ویل چې شیخ اسمعیل ځان بې اذنه او بې پیره پیر کړیدی. خلکو ښه نه ګاڼه او پیرانو خو سم صفا ګمراه باله. هغه وخت حالات داسې وه چې حتی اخوند درویزه غوندې یو لوی عالم دین لیکي چې پیربابا په اول ملاقات کې پسله هغه چې ما د طریقت په لار کې د خپلو خواریو او ریاضت حال ورته وواېه راته وویل «د پښتنو کامل پیر شوی یې خو ښه دې ندي کړي چې بې پیره یې. د شیخ فاني في الله د اجازت نه بغیر په ریاضت کولو اخیر سړی ګمراهي ته رسي» (اخوند درویزه، مقدمه ید).

پاته دي نه وي چې پیربابا (سید علي غواص ترمذي مشهور په پیربابا) په ۹۰۸ هـ ق کې په هندوستان کې زیږیدلی او د یوسفزو علاقې ته په ۹۵۰ / ۱۵۵۷م کې ورغی او په بنیر کې دیره سو. د هغه ځای یو خان (ملک

دولت مليزى) خپله لور ورکړه، ټوله ژوند يى په بنير کى تير او همهلته د ۸۱ کالو په عمر وفات سو. زيارت يى ما (د پيژندګلوى ليکونکى) ليدلى دى. پيربابا تقريبا څلويښت کاله په پښتنو کى په روحانى ارشاد مشغول وو. اصلى نسب يى چاته معلوم ندى خو ده ځان د مرکزى آسيا د ازبکستان د ترمذ سيد باله او فارسى يى ويل. ورنيکه يى د مغلو (ګوډ تيمور) سره له مرکزى آسيا څخه هندوستان ته راغلى وو. د پيربابا پلار (قنبرعلى) په هند کى د مغلو د سلطنت د مؤسس (ظهيرالدين بابر) ډير نژدى ملګرى او د هغه لپاره يى د پاچهى په نيولو کى ډيرى منډى کړيوى. کله چى بابر پاچهى ونيول نو قنبرعلى ته يى ښه منصب ورکړ او وروسته د همايون باچا په دربار کى يى هم ډير عزت وو. د پيربابا پلار د پښتنو خلاف د بابر او همايون نژدى ملګرى وو. کله چى همايون د شيرشاه سورى څخه په ۹۴۰ هـ ق کى ماته وخوړه او کابل ته په تيښته وو يو د هغو څو محدودو نژدى ملګرو څخه چى په دغسى سخت وخت کى ورسره وو د پيربابا پلار وو (اخوند درويزه، مقدمه، ى). پيربابا شخصا هم د مغلى دربار سره کورنۍ دوستى درلوده او د مغلو د سلطنت د ټينګښت لپاره يى په پښتنو کى پخپله روحانى طريقه کار کاوه. دلته د اخوند درويزه صاحب ذکر هم په لنډو ضرور دى داځکه پدى کتاب کى يى ډير نوم راغلى دى. دغه متبحر عالم او دده اولادى پښتو ادب ته د قدر وړ خدمتونه کړيدى. د روښانيانو د دوران څيړنه د اخوند درويزه صاحب د نوم له ذکر پرته نسى پوره کيداى. اصلى نوم يى درويزه او په خټه د مرکزى آسيا څخه دراغلو ترکانو څخه وو؛ مور يى تاجکه وه (اخوند درويزه، مقدمه ب). خپله اخوند درويزه صاحب ځانته ننګرهارى وايه. هغه د پيربابا خليفه وو. په ۹۴۰ هـ ق /۱۵۳۳م پيدا او په ۱۰۴۸ هـ ق کى په پيښور کى وفات او په هزارخانۍ کى ښخ سو. مايى قبر ليدليدى. د اخوند درويزه صاحب د پښتو کتابو څخه تر ډيره وخته په مساجدو کى د وعظ او نصيحت لپاره کار اخيستل کيدى. اخوند صاحب په افغانستان کى د مذهبى تعليم د نصاب له بنسټ ايښوونکو څخه دى.

د بايزيد پلار هم لکه اخوند درويزه او پيربابا داسى فکر کاوه چى بيله پيره څوک نسى پير کيداى ځکه يى خپل زوى، بايزيد، د شيخ اسمعيل له مريدۍ منع کړ. بايزيد ته پلار مشوره ورکړه چى د خپلى کورنۍ او مشرانو پر پله ولاړ سى او د شيخ بهاء الدين زکريا ملتانى د خاندان لاسنيوى وکړى. بايزيد د پلار مشوره قبوله نکړه خو د شيخ اسمعيل مريدى هم ځينى پاته سوه. پدى ډول لکه د علم حصول چى يى نيمګړى پاته سو د طريقت وصول يى هم نيمه خوا سو.

بايزيد د تپ و تلاښ سړى وو. خو د هغه د شخصيت د تکوين په مخکى د هغه کورنۍ او ټولنيز خنډونه وه چى غوښته يى نومړى پر زړو او مروجو لارو روان او د رواج په يو خاص او معين چوکات کى عيار کړى. مګر د هغه سرشاره او باغى فطرت هغسى نسواى کيداى. بايزيد بى پيره عبادت، نفلونو، اورادو او رياضت ته زور ورکړ خو ورسره يى د ځوانانو د بزم په محفلو کى هم برخه اخيسته؛ ساز يى خوښ وو او ګډيدى به. د پلار يى دا ګډوډ وضعيت نه خوښيدى. په کورکى دده او د ميرې هم جوړه نه وه. پدى ترتيب د ژوند هره خوا ورته ناسازګاره وه. د بايزيد فکر ډير خراب وو. پلار ته يى وويل چى زما وستا ګډ ژوند نور نه کيږى ماته يو څه راکړه چى ځانته جلا ژوند او کور په جوړ کړم. پلار يى هم چى فکر وکړ چى د زوى يى هره خوا خرابه سوه څه مځکه او مال يى وربيل کړل. ده پخپلو خپلوانو کى يوه نجلۍ، بى بى شمسو، وغوښته او واده يى ورسره وکړ (۹۵۵ هـ ق /۱۵۴۵م).

د بايزيد ژوند هسى چى ده غوښته سم نه تيريدى. له ناچاره يى د پلار نيکه لار بدله او تجارت ته يى مخه کړه. پدغه اميد، د يوې قافلې سره کندهار ته ولاړ چى يا به يو ښه پير پيدا کړى، يا به څه پيسه وګټى او کيداى سى بخت يارى ورسره وکړى دواړه ترلاسه کړى. معلومه سوه چى په تجارت کى يى هم د ګټى قسمت نه وو. له هاخوايى پر لار قافله د مغلو له خوا تقريبا چور سوه (مغلو مامورينو د مال ۳/۲ د ماليې او ټيکس په قسم ځينى

واخیست). هغه وخت (۹۵۷ ق هـ) د مغلو حکومت وو؛ دوی بیرم خان ته چې د همایون لخوا په کندهار کې والي وو عرض وکړ. هغه یې غور ونکړ او پدې ډول بایزید بیرته کورته تاواني راغی (شیرافضل خان، ص ۹۰). روایت دی چې د مغلو د والي د دربار وضعیت پربایزید بد اثر وکړ او فکر یې وربدل کړ. په کندهار کې هم د مغلو په دربار کې د هندوستان درباري آداب مراعات کیده. لکه په هندوستان کې چې به څوک د باچا سلامت په حضور مشرف کیدل نو اول به ورته پر گونډو کیدی او د تعظیم سر به یې ورته ټیټاوه او بیا به یې د هغه په اجازه عرض کاوه. دلته هم بایزید او ملگری یې بیرم خان ته په دا ډول تعظیم مکلف وه. د بایزید پر پښتني غرور دا صحنه بده ولگیده، احساس یې ورزخمي کړ او لدغه عمله شرمنده وو.

## دبایزید روښان مذهبي او سیاسي ژوند:

د بایزید تلاښ د علم په حصول، د طریقت په قبول او د تجارت په وصول کې یو په بل پسې ناکام سو. د مغلو دربار یې احساس هم ورجریحه داره کړ. خو دغه ذهین او مبتکر سړی باید د ژوند یوه لاره ایستلې وای. انسان چې مأیوس سي او ټولې لارې پر خپل مخ بندې ووینې نو خدای (ج) ته مراجعه کوي. د حالنامې مؤلف (علي محمد کندهاري) چې د بایزید د پیروانو څخه وو وایي چې کله بایزید د ناکامه تجارت څخه راوگرځید او ډیر خفه وو نو د خدای (ج) لخوا ږغ پر وسو چې: «یا بایزید ! ملوک الدنیا مخلوق ولاینبغي للمؤحد أن یخدم المخلوق لأجل شئ من الدنیا ... - یعني بایزیده ! د نړۍ باچاهان مخلوق دي، یو مؤحد ته (چې یوازې د خدای پرستش کوي) نه ښائي چې د دنیا لپاره د مخلوق خدمت وکړي. ته پنځه کاله په کور کې کښینه، ریاضت کوه، د خلکو سره مه گډیږه او ددنیا کار مه کوه که نه په غضب به اخته سې.» بایزید ښه ډیر وخت په چله او ریاضت کې تیر کړ. هلته یې د تفکر، پلان، عمل او مبارزې لار طرح او خپله نقشه یې له شریعته تر مسکنته جوړه کړه.

د بایزید په قول یوه شپه یې حضرت خضر علیه السلام ولید او ده ته یې لاس ورکړ. له دغه ځایه ده ځان پوره او کامل وباله خو پوره کوونکی او مکمل لا تراوسه نه وو چې نورو ته دعوت او ارشاد وکړي. وایي څه وخت وروسته بیا ږغ پر وسو چې که اوس څوک صادق د لارې د موندلو لپاره درته راځي نو لار ورو ښیه چې له یوه څراغه نور ډیر بل سي (بایزید انصاری، ۱۹۶۷، ص ۱۱). له دغه ځایه بایزید ځان پیر کامل او مکمل وباله او نورو ته یې دعوت پیل کړ. مریدان نیول او د خپلې طریقې تلقین یې کاوه. هغه وخت په عرفاني محافلو کې د سنائي، عطار، مولوي، جامي، حافظ او داسې نورو عارفانو اثار ویل مروج وه او یقینا به بایزید ویلي او برخه ځینې کړیوي خو د پیرۍ طریقه یې چې په هغه کې موسیقي او د ښځو گډیدل روا وه جلا او ځانگړې وه چې له بل چا یې نه وه اخیسته. هغه د سلوک څو مقامونه هم له خپله ځانه ایجاد کړه. بایزید متجدد وو، خپل یې مذهب، خپل یې تصوف او خپله یې لار وه. هغه خپله طریقه ویسیه (اویس بن عامر قرني یمني - وفات ۳۷ هجري) بلل چې بیله واسطې د حق تعالی څخه د الهام په ذریعه هدایت اخلي او د لدني علم خاوند وو (آنچه از راه کسب و درس دست ندهد علم اولیاء و أنبیاء راعلم لدني گوید) او یا (گویند حق با او بدون میانجي جبرئیل سخن کردی - دبستان مذاهب، ص ۳۰۹). بایزید د سلوک اته مقامه تعیین کړیوه: شریعت، طریقت، حقیقت، معرفت، قربت، وصلت، وحدت او مسکنت. اخیري درې مقامه (د روښانیانو په نظر) د وحدة الوجود دي او د مسکنت (سکون) مقام یوازې د بایزید وو او نور څوک حتی ده ته ډیر نژدې خلیفه هم دغه مقام ته نسوای رسیدای.

بایزید خپل دعوت او تلقین اول له خپله کوره پیل کړ، خپله ښځه یې په خلوت او چله کې کښېنول او بیا یې په کلي کې څه خلک مریدان کړل. ده به هر مرید او د طریقې شوقي پخپل کور کې په چله کې کښېناوه او ښځې به یې د هغو خدمت کاوه. د بایزید پر پلار دا بده لگیده چې ځوانه مېرور یې د پردو نارینو خدمت کوي. همداراز، ده د کلي یو شمیر ښځې هم خپل مریدانې کړې او چلې ته یې راوستې. البته د ښځو او نارینه کوټې

بیلی وی. په چله کی به ښخو هم سرود ته ذکر کاوه. دا کار د هغه وخت له مسلطو ټولنیزو شرایطو سره ښکاره ټکر وو او هرچا خصوصا عالمانو نه خوښول. خو بایزید چی پخوا هم د خپل سر وو او اوس خو ورسره پیر کامل هم وو د چا پروا بیخی نه درلوده. بایزید هغه سرود چی د خدای (ج) لپاره وی حلال گاڼه نو ځکه هغه سرود چی دده په خانقاه کی دده په قول د الله (ج) د محبت لپاره ږغیدی (سرود سلوک) حلال وو. ځینی وایی بایزید خپله هم آهنگونه جوړول او ویل یی؛ د موسیقی څو راگونه ده ایجاد کړیدی. د بایزید په خلیفه گانو کی میرفضل الله ولی او د هغه خلیفه حاجی محمد په موسیقی کی لوی لاس درلود؛ دوی د موسیقی شپږ مقامه جوړ کړیوه. حاجی محمد په رباب کی څو تاره اضافه کړه او د هغه په ښوونه افغان موسیقارو د تصوفی رقص ځینی نوی نغمی ایجاد کړی. خو قوالانو دا په پوره وزن برابرولای نسوای نو بایزید ددی نغمو په وزن کی اصلاح وکړه او دده په رهنمایی کی موسیقاران ددی قابل شول چی د سلوک سرود، طربیه نغمی او شپږ سروده (ناسری، پنج پرده، چهارپرده، سه پرده، جنگی آهنگ، مقام شهادت) جوړ کړی. د بایزید لمسی (احداد) به ملا زمان اخوند چی لوی موسیقار وو همیش د ځان سره گرځاوه. احداد (د شیخ عمر زوی او د بایزید لمسی) خپله په خواږه آواز او د موسیقی په ترنم کی خیرالبیان وایه. مرزاخان انصاری هم د موسیقی په وده خصوصا رباب کی لاس درلود؛ خیرالبیان او مقصودالمؤمنین به یی په ښه آواز ویل. د مرزاخان د زامنو (عبدالحکیم او خدایداد) هم د موسیقی سره علاقه وه. د عبدالحکیم زوی عبدالحلیم هم موسیقی ږغول (کرگر، ص ۲۵۰-۲۵۳، ۲۲۱). هغه وخت د سرود شپږ مقامه وه چی د بایزید پیروانو به د خپل پیر او ملگرو اشعار، غزل او قصیدی پکښی ویلی.

بایزید ویل چی هغه سرود چی ددنیا لپاره کیږی حرام دی، چی د جنت لپاره کیږی مباح دی او چی د الله (ج) لپاره ږغیږی حلال او ښه دی. روښانیانو به ویل چی حق تعالی افغانانو ته دوی خزانی ددوو کسانو له طفیله ورکړیدی؛ یوه د علم توحید خزانه د پیرروښان له طفیله او بله خزانه یی د موسیقی د ملاحاجی محمد له طفیله. هغوی استدلال کاوه چی دریی (دف) ته محمد (ص) اجازه ورکړی وه او الله (ج) فرمائی چی هل من حرم زینه الله التی أخرج لعباده والطیبات. مگر ملایان ددوی په دغه تحویل کله قانع کیدل؟ که څه هم د موسیقی پر مسئله او د هغی پر کیف و کان د اهل شریعت او طریقت اختلاف دی او حتی اهل طریقت پخپل منځکی هم پردی خبره ټول په یوه خوله ندی خو بایزید په ډیر جدیت دا مسئله مطرح کړه. ترده پخوا او وروسته هم یو شمیر پیرانو او صوفیانو موسیقی ته د خدای (ج) ذکر کړیدی. د مولنا جلال الدین بلخی ثم رومی شپیلۍ دا زر کاله زغیږی چی وایی (بشنو از نی چون حکایت میکند ـ وزجدائیها شکایت می کند). تراوسه د ترکیی په قونیه ښار کی د مولنا بلخی په دربار کی درویشان رقص کوی. د خواجه معین الدین چشتی موسیقی خوښه وه او د هغه مرید امیرخسرو دهلوی په موسیقی کی لوی لاس درلود او خپل تصوفی اشعار به یی پکښی ویل. د هندوستان مشهور صوفی شیخ علاء الدین بخپله موسیقی ته کښیناستی. ابوسعید ابوالخیر، حجة الاسلام امام غزالی او ځینی نور متصوفینو سرود روا گاڼه خو په غونډو او مجلسونو کی یی د ښځو او زلمو گډون روا نه باله. په افغانستان کی په ډیرو زیارتو کی اوس هم سهار او ماښام او یا د کال په یو ځانگړی وخت کی نغاری ډنگیږی. د هیلمند د دریشان د امیربلند آغا، د گرش د سید تاجدار آغا او د کندهار د خاکریز د شاه آغا په دربارونو کی تر اوسه نغاری ډنگیږی او ملنگان او مخلصین رقص ورته کوی. په نقشبندیه طریقه کی خو موسیقی د ارشاد یوه مهمه وسیله ده. او په هندوستان کی د هندو اکثریت فرهنگ چی موسیقی یی د مذهب یوه برخه ده د مقابلی لپاره مسلمانانو قوالی چی نعتونه پکښی ویل کیږی د خپل مذهب د ټینگ ساتلو د یوی وسیلی په توگه رواج کړیده. د مشهور قوال نصرتعلیخان مرحوم له خولی ما اوریدلی دی چی ویل یی زه پخپله موسیقی سره خلک د خدای (ج) خوا ته متوجه کوم. پدغه مناسبت می رایاد سوه چی په کندهار کی چا د یو منلی ښه سړی (ملا محمد

حسن اخوند ) څخه چې د وخت مشهور بزرگ وو او رباب یې خوښ وو پوښتنه وکړه چې ملاصاحب مبارکه ! رباب وهل څنګه دي، خلک یې بد ګڼي؟ هغه په ډېر اخلاص ورته وویل زما دي خوله ماته سي چې به وایم رباب بد دی. ملاحسن اخوند به هر وخت پخپل جومات کې یو طالب درلود چې ده ته به یې رباب واهه.

د بایزید پنځه کلنه چله پوره سوه، د باندي راووت (۹۲۲ ق هـ) او په ډېر زور سره یې خپل دعوت چلاوه. تر ډېره یې د پیری آوازه خپره سوه. دده ذهانت او د نفوذ چټګ خپریده دي دومره په اولو وختو کې چې د پیري کار یې ښه مخ په بره روان وو او متشدد کړی وو چې نورو ته یې سلام هم نه کاوه؛ پر ملایانو، پیرانو او خانانو سخت لګیدی او ویل یې چې ملایان د خانانو په خدمت کې او خانان و پیران بیا د ظالمو حاکمانو په استخدام کې دي. خو وروسته یې د ټولنیزو عکس العملو په نتیجه کې خپله رویه نرمه کړه. یوه ورځ بایزید تیریدی؛ ګوری مړی ښخیږي او د خلکو ګڼه ګونه ده. بی اعتنا ځینی تیر سو حتی سلام یې هم ورته ونکړ. خلک ډېر خفه سول. بایزید چې یو څو قدمه تیر سو بیرته راوګرځید او خلکو ته یې سلام وکړ. خلکو پوښتنه ځینی وکړه چې دا ولې؟ بایزید ورته وویل چې ماته الهام وسو چې سلام ورته وکړه (سلام قولا من رب الرحیم). تر هغه وروسته یې خپله رویه د خلکو سره څه نرمه کړه.

بایزید د ذهینو الی سره یو ځای د استدلال ښه قوت درلود او ژبه ور سړې وو چې چا په آسانه نسوای ماتولای. په څلورو ژبو (پښتو، فارسی، عربی او پنجابی) ښه پوهیدی. اخوند درویزه هم د بایزید په هوښیارۍ اعتراف کوی او وایی: دا بایزید په عقل پور وو او شیطان غوندی پیشرو وو د بدانو ـ د هرچا په خوی یې کار کړ ځکه ډېر ټولې پری وشوی د عامیانو (اخونددرویزه، ص ۱۳۵). بایزید په پیری کی یو قدم مختـه ولاړ او ویل یې چې یوازې زه او زما مریدان پر سمه لار روان یو، نورو ټولو لار ورکه کړې او پر شرک روان دي. لکه پیربابا او د هغه وخت نورو پیرانو چې ویل بیله پیر کامله څوک سمه لار نسی موندلای بایزید هم او ترهغو یو قدم مخته ویل چې بیله زما د لاری په بله لار کی نجات نسته. په ځان کی د پیری دغه انحصار او یوازې د خپلی لاری د حقانیت دعوی د بایزید پخلاف د کانیګرم علماء راوپارول خو څرنګه چې بایزید د قاضی عبدالله زوی، د شیخ اسمعیل د اکازوی او د طریقت ددرنی کورنۍ سړی وو نو هرچا په اسانه لاس نسوای وراچولای. ده هم د موقع څخه استفاده کول او خپل دعوت یې په ښه درز چلاوه؛ د هری ورځی په تیریدو یې پیری نور رونق پیدا کاوه. د نورو علماء په ډله کی یې د پلار سره هم ورځ په ورځ اختلاف ډیریدی. هغه دده څخه احترام غوښت او ویل به یې که ته هرڅه پیر یې خو زما زوی یې او ماته باید راسی او احترام می وکړې خو بایزید به ویل ماته امر سویدی چې له کوره مه وزه. پلار ته یې سخته وه چې د زوی د احترام لپاره د هغه کور او خانقاه ته ورسی او لاسنیوئ یې وکړي. دا ځکه له یوی خوا د بایزید په علمیت نه وو قانع، له بلی خوا بی پیره پیر سوی وو؛ او تردا ټولو مهمه دا چې زوی یې وو او مریدي یې نفس نه اخیست.

شیخ اسمعیل چې د بایزید د اکا زوی او په دوړو کې پیر وو وفات سو. دا هغه پیر وو چې یو وخت پخوا بایزید غوښته مرید یې سی خو پلار اجازه ورنکړه. د شیخ اسمعیل پر ځای د هغه ورور، محمد، د پیرۍ پر ګدۍ کښیناست. هغه یوه ورځ کانیګرم ته راغی او بایزید یې ولید، د مجلس اثر یې پر وسو او مرید یې سو. دغه نوی انکشاف د بایزید سره ډېره مرسته وکړه او هلته یې په دوړو کی ډېر مریدان پیدا کړه. هسی هم د بایزید د خپل اکا (خدایداد ) او د هغه د زوی شیخ اسمعیل سره مینه وه، اوس چې محمد دده مرید سو نو پر هغه نور هم ګران او ډېره توجه یې ورته وکړه او ښه یې پر پیرزو وه. بایزید و محمد ته تردی وروسته محمد کمال وایه او خلیفه یې کړ.

کله چې د بایزید مریدان په کانیګرم، دوړو او شاوخوا سیمو کی ډېر سول نو بیا یې خپل پلار ته محمد کمال وروا ستاوه چې که ته پدی دنیا د حق له معرفته بی برخی یې په هغه دنیا به هم د الله (ج) له دیداره محروم

یي. خدای (ج) بایزید د معرفت او علم څښتن کړیدی، ډیر افسوس دی چی ته پخپل کور کی ددغسی نعمت د موندلو څخه محروم یې. پلار یی په قهر سو او وی‌ویل چی هغه دی ماته کرامت راوښئی بیا به یی زه مرید سم خو بایزید ویل چی اول می ته مرید سه بیا به کرامت درته وښیم. پلار یی دا نه منل. بایزید محمد کمال ته وویل چی دی پخپل نسب او علم مغرور دی هیڅکله به هدایت نه مومی. دی د خپل وخت فرعون، هامان او قارون دی (بایزید انصاری، ص ۱۵). ښائی د بایزید اشاره به دلته د پیغمبر علیه السلام هغه حدیث ته وی چی د بدر د غزا په نتیجه کی چی د قریش ډیر مهم خلک لکه عتبة بن ربیعة، زمعة بن الاسود، امیة بن خلف، حنظلة ابن ابوسفیان او ابوالحکم ابن هشام (مشهور په أبوجهل) مړه سول نو آنحضرت (ص) د ابوجهل په باره کی وفرمایل چی: هذا أبوجهل فرعون هذه الأمة. دا ابوجهل ددی امت فرعون دی (سیرة ابن کثیر ج ۲ ص ۴۴۴).

د بایزید د یو بل لوی پیر (د سنگ توئ شیخ اوریا) سره چی په سیمه کی یی ډیر مریدان درلوده هم نژدی وو ټکر راغلی وای. خو د بایزید د پلار رسوخ ددغه ټکر مخنیوی وکړ. پلار یی که هرڅه هم دده لار نه خوښول خو د نورو بده یی هم نه وه پر پیرزو. دغه حالت بایزید ته گټه رسولی وه. خو د بایزید پلار د ملایانو او پیرانو د ډیر فشار طاقت نه درلود او د بایزید له لاسه مځکه پر تنگه وه. هغه پدی معنی چی بایزید به د هر عالم، پیر او خان مخالفت کاوه او د هغو سره به مناقشی ته ناست وو. پلار به یی ددغو صحنو په لیدو زوریدی خو د زوی منع کیده یی په وس نه وه. بالآخره یی فیصله وکړه چی کانیگرم بایزید ته پریږدی. د بایزید نه وه خوښه چی پلار یی وطن پریږدی او بل ځای ته کډه سی داځکه چی د هغه د وتلو په صورت کی دده گذاره په کانیگرم کی بیخی نسوای کیدای او بل دا چی د پلار وجود یی هلته په هرصورت ورته ښه وو. نو فیصله یی وکړه چی خپله کډه سی. هغه وو چی بایزید کلی پریښود او دوړو ته ولاړ.

د بایزید کاروبار په دوړو کی ډیره ترقی وکړه. څه وخت وروسته یی وویل چی خوب می لیدلی چی وایی سړبنو ته هجرت وکړه. کله چی د سړبنو څخه څلورتنه د پیر د موندلو په تلاښ دوړو ته راغله او له ده څخه یی لاسنیوی وکړ نو بایزید ته یی دعوت ورکړ چی ددوی سیمی (سړبنو) ته هجرت وکړی. هغه وو چی ده سړبنو ته حرکت وکړ. په لار کی یی په اورکزو، افریدیو، بنگښو او تیراه والو کی ښه ډیر مریدان پیدا کړل. د علی محمد کندهاری په وینا پیر دستگیر چی به هر کلی ته رسید نو نر او ښځی به د هغه د لیدو لپاره راوتی او د اوبو جامونه به یی ورته نیولی وه چی دم یی کړی. بایزید لومړی تیراه او بیا له هغه ځایه خلیلو ته ورسید او د ملک شانی پرځای دیره سو. ترمومندو، داؤدزو، خوږیانو، یوسفزو او ساپو یی د پیری اثر خپور سو.

په سیمه کی هغه پیران او خانان چی دده مریدان نه وه د خپل قدرت د کمیدو او زوال په ویره کی سول نو ملایان یی د بایزید پرضد وهڅول او هم حکومت ته عارض سول چی دا سړی د مهدی دعوه لری او په سیمه کی یی فتنه پیدا کړیده او باید ووژل سی. یو ددغو خانانو څخه ملک حبیب خلیل وو چی جانس خان (د پیښور حاکم) ته د ډیرو خلکو سره د بایزید پخلاف عارض سو. جانسخان څو عالمان بایزید ته واستول چی معلوم کړی رشتیا هغه د شرعی خلاف سړی او فتنه گر دی. هیئت د بایزید سره تر ملاقات او مناقشی وروسته راغی او جانسخان ته یی هغه سم مسلمان او فقیر وښود. جانسخان ملک حبیب راوغوښت او ورته وی‌ویل چی بایزید برئ الذمه دی او زه یی ناحقه وینی نه تویوم. د بایزید په وژلو کی باید هر حاکم ښه غور کړی وای داځکه دی څو ساده سړی نه وو؛ په خلکو کی یی نفوذ درلود. ملک حبیب چی دلته مأیوس سو نو د قوم د ځینی مشرانو سره کابل ته چی هغه وخت دا سیمه له پیښوره تر اټکه په کابل مربوط وه ولاړ او هلته مرزا حکیم خان والی ته چی د اکبرپاچا ورور او ډیر مقتدر وو د بایزید له لاسه عارض سو. دا اتهام هم پر ملک حبیب دی چی هغه د مرزا حکیم شاوخوا لوړ رتبه مامورینو ته بډی ورکړیوی چی د والی نظر ددوی پرخوا واړوی. والی (مرزا

حکیم) جانسخان ته ولیکل چې بایزید کابل ته ورولیږي.
بایزید د څو تنو عالمو او ژبغړاندو خلیفه گانو سره کابل ته روان سو. په لار کې یې هم ښه په درز خپل دعوت وچلاوه او ډېر مخلصان یې وموندل. په توئ کې یې د هغه قوم مشر عبدالکریم خان هم مرید سو. کابل ته په رسیدو سره یې والي (محمد حکیم مرزا) درناوی وکړ (۹۷۹ هـ ق) او خپل لوی قاضي (قاضیخان) ته یې دده د حال د معلومولو لپاره معرفي کړ چې هغه دده په باره کې څه وایي؟ بایزید د قاضیخان سره وکتل. هغه پوښتنه ځینې وکړه چې خلک وایي ته ځانته نبي او مهدي وایې؟ بایزید ورته وویل: خلک دروغ وایي. زه نبي نه یم، ولي یم او مهدي نه یم هادي یم. خلک له حسده دا خبرې په ما پورې تړي. بیا قاضیخان ځینې وپوښتل چې خلک وایي ته وایې وحې در باندې راځي؟ بایزید وویل: خلک دروغ وایي. زه وایم ما ته الهام کیږي او غیبي آواز اورم. قاضیخان ورته وویل چې د الهام او وسوسې ترمنځ فرق څنگه کوې؟ بایزید ورته وویل چې د قرآنکریم د آیات، احادیثو او د مشائخو د اقوال سره یې گورم؛ که د هغو سره موافق وو الهام دی او که نه وسوسه ده. قاضیخان بیا پوښتنه ځینې وکړه چې خلک وایي تا ادعا کړېده چې پرتا د وحې پذریعه څلوېښت څپرکي کتاب نازل سویدی؟ بایزید وویل «خلک درواغ وایي. زه وایم د الهام له مخې پرما کتاب (خیرالبیان) نازل سویدی چې څلوېښت بیانه پکښې دي. پر شیخ عبدالقادر الجیلاني هم غوثیه د الهام پواسطه نازله سوېوه. خلک ناپوه دي د وحې او الهام فرق نسي کولای». ترښه اوږد بحث وروسته قاضیخان و والي ته د بایزید په باره کې کوم منفي نظر ورنکړ او پدې ډول بایزید او ملگری یې له کابله په عزت رخصت سول. که پخوا د بایزید علم نیمگړی پاته سوی وو، پنځه کاله خلوت او تر هغه وروسته کوښښ هغه دومره رسولی وو چې د قاضیخان غوندې عالم سره استدلال وکړي او هغه قانع کړي. د قاضیخان پوښتنې یوازې په عقاید و کې نه وې بلکه په فقه او سیرت کې هم وې.
له کابله د راستنیدو پر لار په خلیلو کې تم سو خو ډېر پاته نسو داځکه د هغه ځای د ملک حبیب ورسره جوړه نه وه؛ د هشنغر مهمندزو ته ولاړ پر کومه سیمه چې د حکومت ډېر اثر نه وو او هلته دیره سو. د هشنغر مشهور پیر (ثاني پیر) یې هم پخپله حلقه کې راووست. بایزید په هغه ځای کې خپله یوه مریده (دنۍ بي بي) په نکاح کړه، د مهمندزو د پاینده خان زوی (علي محمد خان) ته یې خپله لور (کمال خاتون) ورکړه او د هغه سیمې دیو بل خان (بهادرخان) لور یې خپل زوی (شیخ عمر) ته په نکاح کړه. همدا راز یې دیوه بل خان (ملک ماما خان) لور یې خپل بل زوی (جلال الدین) ته وغوښته. بایزید پوهیدی چې خانان د حکومت او عوامو ترمنځ یوه مهمه ارتباطي کړۍ ده؛ خانان له یوې خوا عوام حکومت ته تابع ساتي او له بلې خوا حکومت هم د خپل موقف د تقویې یا دفاع په منظور په عوامو ویروي. اکثره خانان چې کله د حکومت سره ناست وي نو عوام ویروي چې گورئ حکومت (سوټئ) زما سره دی که مو ښور وخوړ هډونه به مو پدې سوټي درمات کړم او چې کله په ولس کې ناست وي بیا حکومت ته ښئي چې گوره دا ماران ما خوندي کړي او پخپل دم مې کرخت کړېدي کنه سرونه به درته راپورته او سل ځایه به دې وچیچي. همدا ډول پیران درواخله. بایزید غالبا پدې هم پوهیدی چې ملایان د خانانو او خانان و پیران بیا د حکومت سره په یو تفاهم د عوامو پر ذهن مسلط دي؛ داځکه ملایان که څه هم د خانانو څخه یې په زړه کې ښه نه راځي خو د ژوند شرایطو هغوی د زکات په ځنځیر په خانانو تړلیدي. همدا راز د ملایانو د پیرانو سره هم په زړه کې جوړه نده؛ ملایان پسله ډېرو کلو سبق، کړاو او خواریو د ملائي مقام ته رسیږي او بیا هم په خواري او محتاجي ژوند تیروي خو اکثره پیرانو چې ددوی د یوې ورځې زحمت د دین په لار کې ندی گاللی مفت د خوارو عوامو په مال و دارائي چړچې کوي. مگر ددې فهم سره سره ملایان بیا هم د پیرانو په مقابل کې آه نسي ایستلای داځکه پیران د اقتدار (خان او حکومت) سره جوړ دي او کولای سي چې ملا تجرید، بدنامه او حتی ځنځیر او زولانه کړي. ممکن همدغه علت وو چې بایزید غوښته د تکلیف په وخت

کی د خانانو څخه د مرستی او یا حداقل د هغوی د ضرر د خنثی کیدو په منظور د هغوی سره دوستی وکړی او پدی ډول په آرامه خپل د نفوذ ساحه خپره کړی. د بایزید شهرت ورځ په ورځ ډیریدی.

## د بایزید روښان خلیفه ګان او دعوت:

بایزید هریخواته د خپل مسلک د تبلیغ او دعوت لپاره خلیفه ګان واستول چی مشهور یی دادی:

شیخ مودود ترین یی د کندهار خوا ته واستاوه. هغه ورته په ترینو ، بړیځو ، کاسیو او کاکړو کی ښه ډیر مریدان پیدا کړل. شیخ مودود هلته خپل موذنان پرینښوول او خپله بلوڅو او بیا سیند ته ولاړ او هلته په سیدپور کی دیره سو.

شیخ دولت الله لوانۍ (د داد الله حسن خیل لوانی زوی) یی و اکبر باچا ته د دعوت لپاره واستاوه او ورسره یی یو کتاب (صراط التوحید) چی د بایزید تألیف وو (۹۷۸-۱۵۷۰) هم د تلقین او ارشاد لپاره ورکړ. دولت یو تکړه ملا ، متقی سړی او فلسفی شاعر وو. روایت دی چی اکبرباچا د بایزید روښان د استازی ښه استقبال وکړ. داچی اکبرپاچا ولی د بایزید د دعوت استقبال وکړ ممکن څو وجوهات وی:

لومړی داچی اکبر پاچا خپله دیندار سړی نه وو دا موضوع یی جدی نده نیولی بلکه غوښتل یی چی بایزید او پیروان یی له ځانه خوشحاله کړی. دوهم داچی د بایزید تحریک یی خپلی پاچهی ته کوم تهدید نه تصور کاوه. او دریم داچی اکبرباچا د مذاهبو دتعدد او مذهبی تحمل طرفدار وو. هغه په هندوستان کی د هیڅ مذهب قوت او بالادستی نه غوښته او نه یی دا غوښته چی مذهبی تاوتریخوالی حکومت ته احتمالی دردسر جوړ کړی. نوځکه هر نوی مذهبی او روحانی تحریک ته یی خیرمقدم وایه. خپله یی هم پدی لارکی بیدریغه کوښښ وکړ چی په برصغیر کی داوسنی ډیرو مذهبی فرقو موجودیت هم تر ډیره ځایه د اکبرپاچا د زیار نتیجه ده ترڅو هغوی سره پاشلی او په اسانی یی کنترول کړای سی. ده خپله هم پدغه سلسله کی یو نوی دین چی ده ورته دین الهی وایه او په هندوستان کی د ټولو مسلطو ادیانو ګډوله وه راوپوست. څلرم داچی د روښانی تحریک په زور اخیستو سره په پښتنو کی اختلاف راتلی چی دا هم د مغلو په ګټه وو. مغل خو د پښتنو سخت مخالفین وه او په پښتنو کی هر اختلاف (خصوصا مذهبی اختلاف) دوی خپل په ګټه باله. او پنځم داچی پر پښتونخوا د کابل والی (حکیم مرزا -د اکبرباچا میرنی ورور) نسبتا مستقل او خودمختاره حکومت چلاوه او د مرکز تسلط پردی سیمه ټینګ نه وو. ددوی په منځکی د صلاحیتو پرسر اختلافات وو او مرزاحکیم د اکبرپاچا د حکم پوره تابع نه وو . د بایزید ددعوت په قبول سره ممکن اکبرپاچا غوښته چی د مرزاحکیم په قلمرو کی تشنج پیدا سی او پدی ډول هغه بدنام، کمزوری او د مرکزی حکومت مداخلی ته لار هواره کړی.

شیخ یوسف یی د خپل یو بل کتاب (فخرالطالبین) سره د افغانستان شمال د بدخشان حاکم (مرزا سلیمان) ته واستاوه. هلته شیخ یوسف ښه استقبال سو ؛ کیدای سی مرزا سلیمان هم د اکبرپاچا پالیسی په مورد کی درلوده.

شیخ محمدعزیز ارزانی د برهان الدین خویشکی زوی یی چی په پښتو ، فارسی، عربی او هندی ژبو ښه پوهیدی، ښه ملا وو او ښه اشعار یی ویل د هند پنجاب ته واستاوه او په قصور کی یی واړول. هغه د پنجاب په قصور کی زیږیدلی او لوی سوی وو نو ځکه په پنجابی ډیر ښه پوهیدی. دده په علمیت اخوند درویزه هم اعتراف کړیدی. ددې کتاب مؤلفه، ملا ارزانی د پښتو ژبی لومړنی صاحب دیوان شاعر بولی (عزیزه افغانی، ص ۲۲).

شیخ درویشداد یی چی ډیر متقی او تارک الدنیا سړی وو تیراه ته لیږلی وو (دده لور د ابوبکر کندهاری

ثخه وه؛ او ابوبکر د حالنامې د مؤلف علي محمد کندهاري پلار وو ). شیخ فضل الله ولي د بایزید یو بل تکړه خلیفه وو چې ډیر متقي ملا، د موسیقی په علم کې وارد او د بایزید په مینه او اخلاص کې مجذوب وو.
شیخ بایزید دوړ. دا سړی ډیر مخلص او پر پیربایزید دومره گران وو چې ویل به یې دا بایزید، هغه بایزید، یو بایزید. ډیر متقي او پرهیزگاره ملا وو. په تیراهي قبائلو، اورکزو او بنگشو کې یې ډیر مریدان درلوده.
ناشي بي بي. دا د بایزید خلیفه وه چې دده پیغام او طریقه یې ښځو ته رسول. ممکن نوري ښځینه خلیفه گاني یې هم درلودی. بي بي شمسو (د بایزید میرمن)، بي بي علایي (د جلال الدین لور او د بایزید لمسۍ او د احداد میرمن)، بي بي کمال خاتون، بسۍ خلیل، روښانۍ، أنۍ بي بي ددی تحریک مهمې ښځې وې چې روښاني دعوت یې چلاوه.
شیخ محمد کمال. نوموړی د بایزید د اکا زوی وو چې په دوړو (وزیرستان) کې یې د تلقین او ارشار لپاره پرې ایښې وو.
شیخ ایوب، ملا زکریا او ملا عمر خویشکي یې هم خلیفه گان وه چې دري واړه د بایزید د زوی شیخ عمر سره یوځای د یوسفزو په جنگ کې مړه سول. ملا برېخ، ملامیرولي، شیخ نور، ملا عبدالکریم شینواري، شاه یوسف علي، شیخ عمر، شیخ سید بهادر، شیخ پاینده، مته خان اکوزئ، علي محمد مخلص (د حالنامې کاتب ندی.د ملا ارزاني ورور دی) ، او اسحق مومند یې هم خلیفه گان وه.
سیدعلي غواص (مشهور په پیربابا ) ته یې هم دعوتلیک د یو خلیفه په لاس په ۹۷۸ هـ ق کې استولي وو. ښاغلی محمد اکبر کرگر د عبدالحسین زرینکوب په حواله لیکي چې بایزید بلخ او بخارا ته هم استازی استولي وه (کرگر، ص ۷۸). خو پیربابا دده دعوت رد کړ او سخت خفه سو او ویویل چې: «پر پښتنو مضبوطه بلا نازله سوه. خیال مې نشي چې ورکه سي. ځکه چې پدې حدود کې د اسلام بادشاه نسته .ددین وضاحت علماء کوي خو ددین طاقت په امیرانو دی» (اخوند درویزه، مقدمه، ص ک). په هغه وخت کې چې د اکبر پاچهي وه د یوسفزو سیمه د مرکزي حکومت له کنترول ه دباندې وه نوځکه پیربابا د باچا په ارمان وو چې د روښانیانو تحریک یې ځبلی وای. که بایزید یوسفزو ته سمه توجه کړې وای کیدای سي حکومت یې پکښې جوړ کړی او تړډیره چلیدلی وای. پاته دې نه وي د پیر بابا او اخوند درویزه او نورو علماؤ اثر هم هلته ډیر وو چې ښائي بایزید د هغو سره د مستقیم ټکر څخه ځان ساتي او چې یو واری یې په نورو شاوخوا سیمو کې ځان مضبوط کړی وای بیا به یې د یوسفزو او پیربابا دوی سره کتل. خو پیربابا بایزید خپلې پیرۍ، نفوذ او شهرت ته لوی تهدید گاڼه او ورپسې وایې خیسته. د بایزید د اصلاح لپاره یې د ملا اخوند درویزه په شمول نور ډیر عالمان وروغوښتل چې څه باید وسي. پیربابا پخپله د علماء د یوې ډلې په مشرۍ چې ملا اخوند درویزه او حاجي ملا محمد پاپینئ (مشهور په ملا زنگي ) هم ورکښې شامل وه د بایزید سره د کلامي مقابلې لپاره هشنغر ته ورغی او په دیني او تصوفي مسائلو کې ئې بحث ورسره وکړ (۹۷۹ هـ ق). خو نتیجه یې ورنکړه. اخوند درویزه وائي چې دوهم واربیا ورغلو او د شفاعت پر مسئله مو بحث ورسره وکړ. دریم واري چې موږ د مناظرې لپاره ورغلو هغه حاضر نسو. تر دغو مجلسونو وروسته هغوی (د اخوند درویزه په قول) وویل چې بایزید نه ملا دی او نه پیر نو ځکه يې د هغه په شدید مخالفت پیل وکړ. دوی پر پیرروښان د پیر تاریک نوم کښیښود چې هرځای به د عالمانو لخوا تبلیغ کیدی. پیربابا د بایزید د نفوذ سره د مقابلې لپاره اخوند درویزه و یوسفزوته واستاوه او د اکوزو په علاقه کې یې ډیر کار وکړ داځکه هلته د بایزید د زوی شیخ عمر خلیفه گان (مته خان اکوزئي او ملا عمر خویشکي ) ډیر فعال وه. که روښانیانو په یوسفزو کې مته خان درلود نو پیربابا په مخالفت کې حمزه خان نیغ ورته درلی وو. پدې ترتیب ددې دواړو ډلو د کشمکس ساحه تر ډیره حده یوسفزي وه او ددواړو تحریکو مهم خلک هلته یو دبل خلاف په مبارزه لگیاوه. اخوند درویزه هلته د شیخ عمر د فعالیت په باره کې وایي:

شیخ عمر په جهان غږ ؤ کنبیستلی
چی راځئ زه پاچا سومه دادنیا به ونیسمه
هرچه اوس یی وی اکرام
ماراوړی خزانی به ورویشمه
دغه لا په یی په خوله کړه چه بادشاه د پښتنو یم
پښتنو سره به ښه کړم پښتانه راپسی ځئ زه به ماتی دروازی کړم د آگری او د سیکرئ
(مخزن ص ۱۳۴).

په ۱۵۸۱م کی مغلو د کابل-لاهور لویه لار پراخه کړه چی له یوی خوا لوی تجارتی کاروانونه تگ و راتگ پر وکړای سی او له بلی خوا د پښتنو د قابو کولو او په دولت پوری د هغوی د تړولو کار اسانه سی. د همدی لوئی لاری پرسر په پرتو پښتنی سیمو کی د بایزید دعوت ډیر په زور پرمخ روان وو.

د ننگرهار د توئ په پښتنو کی د بایزید دعوت ښه خپور سو چی په نتیجه کی یی د هغی قبیلی د خان (عبدالکریم خان) په شمول ډیر مخلص او سرتیره مریدان پیدا کړل. روایت دی له هندوستانه کابل ته د تجارت یوه قافله روانه وه. د بایزید مریدانو د قافله راوگرځول او خلکو ته یې وویل چی دا څه کوی په خبیثه دنیا موښتی یاست او خدای (ج) مو هیردی؟ قافله یی وځنډول او خاوندان یی په ذکر او د شپی په ریاضت مجبور کړه. د قافلی مال یی په لویه میدانی کی کوټه کړ، آسان یی پروزغلول او پدی ډول یی ټول مالونه عبث او خراب کړل. د قافلی خاوندان کابل ته په عرض ولاړل چی د پښتنو د توئ قبیلی ددوی قافله چور کړه. د کابل والی (مرزاحکیم خان) ډیر خفه سو او پنځه سوه کسیز فوج یی سیمی ته واستاوه. فوج راغی خو د بایزید مریدانو یی مقابله وکړه. فوج په اول ځل ماته وخوړه، په دوهم ځل یی بیا د نور قوت سره ځان سمبال او پر روښانیانو حمله وکړه. دا وار مغلو د توئ قبیله سخته وځبله، نارینه یی ورمړه او ښځی و کوچنیان یی کابل ته بندیان بوتلل. بایزید د بندیانو په حمایت د کابل والی ته یو سخت لیک واستاوه چی بندیان خوشی کړی. دالیک د کابل پروالی بد ولگید او خپل د پیښور صوبدار (معصوم خان) ته یی امر وکړ چی بایزید او ملگری یی لاس تړلی ورته راولی. له دغه ځایه د بایزید او مغلو دښمنی پیل سوه.

ماته پورته روایت کمزوره ښکاری. د بایزید مریدان به ولی دومره ناپوه وه چی درسته قافله یی د تقوی په نوم له خپلی لاری گرځول او بیا یی چورول او ځان یی بی ضرورته بدناماوه او خپل اخرت یی خراباوه؟ پداسی حال کی چی بایزید پخپله په تقوی مشهور او په مریدانو کی یی ډیر لوی او متقی عالمان وه. د نورو پر تجارتی مال او ټوکرانو چا اسان گرځولی دی؟ او عجیبه لا داچی په روایاتو کی راځی چی ۱۵ تنه مریدان پرشاتورو آسانو سپاره چی د نل څخه یی غشی جوړکړی وه د مغلو د لوی او منظم فوج سره جنگیدل او هغوی یی مات کړل. دا روایت معقول نه ښکاری او دا ضد و نقیض خبری سر نه سره خوری. غالبا به دا موضوع داسی وه چی د ننگرهار په پښتنو کی دده دعوت هغه وخت ښه خپور سوی وو. بایزید هلته ځان مضبوط ولید. څرنگه چی مغلو پر پښتنو سخت ظلمونه کړی وه او په عین حال کی د کابل د حاکم واک پر دغو سیمو ډیر ټینگ نه وو او هم د مغل پاچا اکبر او د کابل د والی، حکیم مرزا چی د اکبر ناسکه ورور وو، ترمنځ د صلاحیتو پرسر کشمکش وو نو بایزید فکر کاوه چی همدا یی وخت دی چی د کابل د حکومت د کمزوری څخه په استفاده کرار کرار په سیمه کی د مذهبی نفوذ وڅنگ ته خپل سیاسی نفوذ هم خپور کړی. دا وخت جانسخان هم د پیښور څخه بدل او پرځای یی معصومخان د پیښور حاکم مقرر سوی وو. هغه لا په سیمه کی تراوسه ښه بلد سوی نه وو او خپل واک یی لا پوره نه وو غځولی. بایزید دغه وخت ښه موقع وگڼل چی دا قافله چی د مغلو وه د توئی په سیمه کی راوگرځوی ترڅو له یوی خوا په هغه ځان تقویه کړی او له بلی خوا د کابل د اداری عکس العمل ځانته معلوم

کړي. په تاریخ کې دا ډول تاکتیک ډېر ځله استعمال سویدی چې احیانا ځینې وختو یې مطلوبه نتیجه هم ورکړېده. د اخوند درویزه له یو بل روایته هم سړی پوهېږي چې بایزید د مغلو خلاف یو سیاسي فکر درلود «... لافها زده که تمام هند و خراسان را در تصرف خود خواهیم آورد و مممکلتهای را در میان یاران خود قسمت کرده خواهند شد و مردم سوداگر را فریب داده که اسپان را بمن قرض دهید تا خزائن اکبرباد شاه را بدست آرم بصد چندان اموال شما را خواهیم داد» (اخونددرویزه، ص ۱۲۵).

کله چې د کابل د والي لخوا د بایزید د بندي کولو او کابل ته د هغه د لاس تړلي ورلیږلو لیک د پیښور حاکم (معصوم خان) ته ورسید دهغه په دربار کې اتفاقا هغه وخت د هشنغر د مهمندزو دوه خانان (پاینده خان او بهادر خان) چې دواړه د بایزید خپلوان وه ناست وه (یو د بایزید د لور خسر او بل یې د زوی خسر وو). هغوی، بایزید د حکومت له اراديٰ خبر کړ. بایزید او ملګرو یې دمخه تردې چې د معصوم خان فوج مهمندزو ته ورسي سیمه پرېښوول او د یوسفزو ګلپاڼي ته نژدې شاهباز ګړهي ته ولاړل. معصوم خان هلته پسې ورغی خو بایزید او ملګري یې غروته وختل. مغلو نه پرېښودل او غرو ته پسې ورغله. وایي چې په تنګ سي نو په جنګ سي. کله چې بایزید پوه سو چې مغل یې نه پرېږدي او جنګ حتمي دی نو وسله یې راواخیسته او ښه په نره وجنګید. مغلو ماته وخوړه؛ څه مړه او څه په تېښته پیښورته ولاړل. بایزید پر دغه جنګ د آغازپور جنګ، پر هغه سیمه یې چې دا جنګ پکښې واقع سوی وو د آغازپوري نوم کښېښود او په دغه جنګ کې چې کومو ۳۱۳ تنو برخه اخیستې وه هغوی یې آغازپوریان وبلل. د آغازپور د نوم له ایښوولو او د هغه ترشا د اهدافو څخه معلومېږي چې بایزید له پخوا د یو سیاسي تحریک د چلولو خیال درلوداو یوه اوږدمهاله جنګ او مبارزې ته یې ملاتړلې او خپل مریدان یې هغه ته تیار کړي وه. بایزید پر قومي بنیاد دا جنګ نسواې کولای داځکه ده یو مضبوط قوم نه درلود نوځکه یې خپلې مبارزې ته مذهبي بنیاد ورکړ چې د یو مذهبي پیشوا او قوماندان په حیث د مغلو پخلاف د مبارزې واګې پخپل لاس کې ولرې. کیداسي د توئ د جنګ واقعه ددغه ستراتیجي د یوې برخې او پیلامې پحیث یو دبله رابطه سره ولرې او کیسه هغسې نه وې لکه چې راوایان یې وائي.

بایزید اوس د مغلو سره تمام عیار جنګ اعلان کړی وو او پوهیدی چې هغوی یې هم نه پرېږدي. ده نسوای کولای د مغلو د لوی امپراتورۍ په مقابل کې د خپل مقر دفاع وکړي نو ځکه په حرکت کې سو؛ له یوسفزو څخه تیراه ته ولاړ داځکه هلته جګ غرونه وه. د اپریدو په مرسته یې تیرا تر خپلې قبضې لاندې راوسته. محسن خان له کابله ورپسې راغی. روایت دی چې د اپریدو او مغلو ترمنځ دا وخت څو واره سخت جنګونه وسوه. چې هر واری د مغلو په ماته تمام سوه. په دغه وخت کې مرزا سلیمان (د بدخشان والی) د اکبرباچا لیدو ته هندوستان ته روان وو چې پر قافله یې د بایزید خلکو د خیبر په دره کې حمله وکړه. له پیښوره فوج راغی او د میزا سلمان د لښکر سره یې یوځای پر افریدو حمله وکړه، سخت جنګ ونښت خو ماته یې وکړه. حکومت د انتقام په لټه کې سو. دا وار مغل د لوی قوت سره راغله؛ سخت جنګ ونښت چې په نتیجه کې روښانیانو ماته وخوړه. بایزید پرشا سو او یوسفزو ته ولاړ او هلته یې هم د مغلو سره جنګونه وکړه. د آغازپور له جنګه دوه نیم کاله وروسته بایزید (پیر روښان) تر یو خونړي جنګ وروسته په یوسفزو کې جل وواهه او په کال ۹۸۲ هـ ق کې وفات سو. ځینې څېړونکي د عزیزي خور په ګډون یې د وفات کال ۹۸۰ اټکلوي. اخونددرویزه یې د وفات کال ۹۸۱ هـ ق بولي (مخزن، مقدمه، کج). خاطرغزنوي یې ۹۹۴ تخمینوي (بریکوټي، ص ۲۷). زما اټکل د ۹۸۲ هـ ق په شاوخوا کې دی داځکه بایزید اکبرپاچا ته په ۹۷۸ کې ملا ارزاني د صراط التوحید سره ددعوت لپاره استولی وو او طبعا هغه وخت لا ده د مغلو سره جنګ نه وو پیل کړی که نه بیا نو دداسې دعوت څه مجال وو. بل داچې که دوی په تاوده جنګ کې وای نو بیا اکبر باچا څنګه د بایزید استازی ښه استقبالاوه او دهغه په لاس یې بایزید ته سوغاتونه استول؟ د همدې کال په پای کې یې پیربابا ته دعوت واستاوه. تردې دعوت وروسته د بایزید او

پیربابا ترمنځ ډیر واقعات تیرسویدی او اخوند درویزه هم د بایزید پخلاف لوی تحریک چلولی دی چی طبعا وخت یی نیولی دی. که فرض کړو چی تردی دعوتونو ورسته ډیر ژر د یو یا دوه کالو په موده کی دبایزید روابط د حکومت سره خراب سوی او د آغازپور جنګ موښتی وی او له بلی خوا دا خو یقینی ده چی د آغازپور له واقعی وروسته تر دوه نیم کالو پوری د مغلو سره بایزید جنګیدلی وو. نو پدی حساب دده وفات ۹۸۲ تخمین کیږی.

دبایزید روښان تألیفات: بایزید له ځانه لاندی لیکلی کتابونه پری ایښی دی:

خیرالبیان: دا په پښتو ژبه د بایزید بلاتشبه قرآن وو. خیرالبیان د پښتو لومړنی مدون مذهبی دیوان دی چی په مسجع نثر د قرآنکریم د سورة الرحمن د آیاتونو په وزن لیکل سویدی. ددی کتاب اصلی نسخه چی بایزید پخپله یا دده په امر کوم مرید نوشته کړی وی موږ ته نده معلومه. او سنی خیرالبیان د بایزید تر وفات نژدی اتیا کاله وروسته دده د کورنۍ یو مخلص (فقیر بهارتوی چی مولنا عبدالقدوس قاسمی یی فقیر بهار توئی بولی) په ۱۰۲۱ هـ ق کی د څه لاسوهنی سره کتابت کړ او هغه یی و بی بی خیرخاتون ته اهداء کړ. دا نسخه مکمله نده داځکه بایزید و قاضیخان ته ویلی وه چی خیرالبیان ۴۰ برخی یا پاری دی پداسی حال کی چی موجوده خیرالبیان هومره ندی او ټول په څلورو ژبو (پښتو، فارسی، عربی او هندی) هم ندی. مؤلف یی ددی کمیو علت هم ندی ویلی. کیدای سی مکمله نسخه یی بله وی چی ترموږ نده رارسیدلی. په ۱۳۱۱ هـ ش/۱۹۳۳م کی امین الله زمریالی د کابل د ادبی انجمن په خپرونه کی د روښان او روښانی دوری پر اثارو یوه مقاله لیکلی وه چی په هغه کی یی د خیرالبیان ذکر کړی وو خو د خیرالبیان د موندلو د ځایځایگی پته یی نه وه ویلی. د خیرالبیان د خطی نسخی د ځایځایگی ذکر مارګنشترن (د ناروی مشهور مستشرق) په ۱۹۴۹ کی پخپله یوه مقاله کی کړیوو. بالآخره د خیرالبیان یوه نسخه د جرمنی د ټیوبنګن په پوهنتون کی پیدا سوه. په ۱۳۴۲ هـ ش/۱۹۶۳م کی په کابل کی د جرمنی سفارت د خیرالبیان دغه نسخه د افغانستان د خپلواکی په جشن کی د جرمنی د هیواد په نندارتون کی د ننداری لپاره کښیښوده. عزیزه خور د علامه استاد حبیبی په حواله لیکی چی مرحوم بینوا د خیرالبیان یوه عکسی نسخه تردغه نندارتون پخوا ترلاسه کړیوه او ده ته یی د کتنی لپاره ورکړیوه چی نوموړی علامه د هغه ذکر د پښتو ادبیاتو تاریخ ـ دوهم ټوک، دوهم چاپ (۱۹۶۳م) کی کړیدی. خو عزیزی خور دا ندی ویلی چی مرحوم بینوا دغه عکسی نسخه له کومه او څنګه ترلاسه کړیوه. وروسته مولنا عبدالقادر، د پیښور د پوهنتون د پښتو اکیډمی پخوانی مشر، د خیرالبیان نسخه د جرمنی د ټیوبنګن د پوهنتون څخه لاسته راوړه او زما د خدای بخښلی آشنا (حافظ مولنا عبدالقدوس قاسمی) په عالمانه پیژند ګلوی یی په ۱۹۶۷م کی په پیښور کی چاپ کړه. ما ئی د پیښور چاپ نسخه لیدلی ده.

ځینو مخالفینو او څیړونکو لکه اخوند درویزه او عبدالاکبرخان دعوې کړیده چې د خیرالبیان په لیکلو کي بنایي د پیر روښان سره ملا عزیز ارزاني خویشکی مرسته کړیوي. خو زه دا ادعاء ډیره پرځای نه ګڼم؛ هغه دا چي د خیرالبیان عربي ډیره قوی نده پداسی حال کي چي ارزاني لوی ملا وو او که هغه د بایزید سره د خیرالبیان په لیکلو کي مرسته کړې وای نو عربي به یې تر اوسنی شکل پخه او دوخت د ملایانو داعتراض سبب به نه وای.

صراط التوحید: دا کتاب په عربی او فارسی لیکل سویدی او بایزید هغه اکبر باچا ته په ۹۷۸ هـ ق کی د دعوت په منظور د ملا ارزانی خویشکی په لاس ولیږه.

مقصود المؤمنین: دا کتاب یی د خپل مشر زوی شیخ عمر په غوښتنه د خپلو پیروانو د ارشاد په منظور په عربی ژبه په ۲۱ څپرکو کی لیکلی دی. یوه نسخه یی پښتو ترجمه هم لری.

فخرالطالبین: بایزید روښان دا کتاب د شیخ یوسف په لاس د بدخشان حاکم (مرزا سلیمان) ته د هدایت

لپاره واستاوه.

مکتوبات. دا کتاب بایزید ته منسوب او د خپلو مریدانو یو لړ پوښتنو او د مخالفینو یو شمیر سؤالونو ته یې د جوابونو په شکل لیکلی دی. دبایزید دا ډول مکتوبات په متقفینو کې دومره مقبول عام سول چې تر ده ورسته ډیرو په شمول د شیخ احمد سرهندی د هغه په اقتفاء مکتوبات لیکلی دی

واجید دی شلوک. په پنجابی ژبه دا کتاب بایزید ته منسوب او خلیفه ملا ارزانی ډیر کلونه په پنجاب کې ددعوت او ارشاد په منظور تبلیغاوه.

رسم الخط پښتو. بایزید پښتو ته ځینی حروف ټاکلی وه چې ترهغه پخوا کارول سوی نه وه. دولت لوانئ په دی هکله وایی:

افغانی لفظ مشکل وو لوست کی نه شو
ورته وسوه کننده دیارلس حرفونه
(بریکوټی، ص ۱۱۹)

ځینی څیړونکی وایی چې بایزید رسالهٔ غوثیة، رسالهٔ روښانی، رسالهٔ علم او رسالهٔ فرحت المجتبی هم لیکلی دی.

حالنامه. د بایزید روښان ددغه کتاب اصلی نسخه چې بایزید پخپل لاس لیکلی او یا دده په هدایت بل چا لیکلی وی نده معلومه. موجوده نسخه یې د روښانی تحریک یو مخلص (علی محمد کندهاری د ابوبکر کندهاری زوی) په فارسی ژبه د اورنگزیب په زمانه کی دوباره ترتیب او لیکلی ده او په هغه کی یې د روښانیانو د تحریک، د هغوی د عالمانو او عاملانو او ددغه تحریک د مشر (بایزید انصاری) او د هغه د کورنۍ پوره معلومات ور زیات کړیدی. په حالنامه کی د بایزید ځینی اشعار هم نقل سویدی. ددغه حالنامی یوه نسخه د مولنا عبدالقادر په حواله د هند د علیگړه په اسلامی پوهنتون کی خوندی ده. بله نسخه یې د لاهور د اورئینټل کالج استاد محمد شفیع د علیگړهـد پوهنتون د نسخی څخه نقل کړی او شیخ محمد اکرم چاپ کړیده. د معلومات له مخی د پیښور پوهنتون یو استاذ (خیال بخاری) هم ددغه کتاب په سروسامان ورکولو کی زیار ایستلی دی خو تراوسه یې ما مدون شکل ندی لیدلی. عزیزی خور هم پر حالنامی باندی یو عالمانه او مبسوط تحقیق کړیدی. هغی د پیښور پوهنتون د پښتو ځانگی څخه د خپلی دکتورا لپاره هم پر حالنامه گټوره څیړنه کړیده. څرنگه چې علی محمد کندهاری (د حالنامی دوباره ترتیبوونکی) او د هغه پلار (ابوبکر کندهاری) د بایزید د لمسی (الله داد د جلال الدین زوی) ملگری او دوی ټول د مغلو په خدمت کی وه نو د حالنامی د لوستو په وخت کی باید پر هغو ځایونو چې د مغلو سره د بایزید او د هغه د زامنو د جنگونو سره رابطه لری څه غور او تأمل وسی. مؤلف کوښښ کړیدی وښئی چې روښانیان د مغلو دښمنان نه وه بلکه نورو ددوی په منځکی اوبه خړولی.

## د بایزید روښان د کورنۍ حالات:

د بایزید روښان اوه زامن (شیخ عمر، نورالدین، خیرالدین، کمال الدین، جلال الدین، الله داد او دولت الله) وه چې لومړی پنځه زامن یې له بی بی شمسو، الله داد یې د دنی ادې او دولت یې له توری ادې څخه وو. یوه لور یې درلوده (کمال خاتون) چې هغه یې علیخان مهمندزی ته ورکړی وه. زامن یې ټول ښه باتور او د پلار پر لار روان خلک وه. نژدی تر یوی پیړۍ پوری یې د پلار تحریک ژوندی وساتی.

شیخ عمر د پلار (بایزید روښان) تروفات وروسته د یوسفزو په آغازپور کی تقریبا اته کاله حکمرانی وکړه. ملا اخوند درویزه د شیخ عمر حکمرانی تائیدوی خو داسی: "این لعین از غایت جهل و ضلالت خودرا پادشاه

افغانان تصور کرده حتی که مردم یوسف زئی انقیاد بعضی او امر دنیوی او نموده بل بعضی در دین او درآمده بدادن عشر و خراج راضی شده مگر حمزه خان اکوزئی که اطاعت اورا درجمله عیوب دین و دنیا دانسته اطاعت ننمود/.

روښانیان د پیربابا، اخونددرویزه او د هغوی د ملګرو څخه په امان نه وه. روایت دی چې حمزه خان اکوزئی چې د پیربابا او او ملا اخونددرویزه په تحریک د روښانیانو سخت مخالف وو د شپې خپل سیمه دار ګوجر واستول او د بایزید مړی یې له قبره راویوست او د ځان سره یې وتښتاوه. شیخ عمر لښکر پسې وکړ او ګوجر یې ښه وځبل. حمزه خان د ګوجرو پرسر ودرید او د شیخ عمر سره سخت وجنګیدی خو ماته یې وخوړه. روښانیانو د حمزه خان مال و کور ټول ورلوټ کړل. د یوسفزو ځینو قبیلو د حمزه خان قومي ننګه وکړه او ملګری یې سول. ددوی ترمنځ بل جنګ په سرکاوه کې وسو. دلته هم روښانیانو د شیخ عمر په مشرۍ فتح وکړه. دریم جنګ په مینئ کې وسو هلته هم روښانیانو وګټل. د یوسفزو ترهری ماتی وروسته ددی قوم په پاته قبیلو کې قومي ننګه د حمزه خان په طرفداری او د روښانیانو پخلاف ډیریده. نور پښتانه هم تر دلازاکه د یوسفزو سره د انصاریانو پخلاف ودریدل. شیخ عمر او ملګرو یې ددغه قومي تړون او کش په نتیجه پوهیدل نوځکه وئی غوښتل سیمه پریږدی د سیند هغه بلی غاړی ته پوری وزی او دلازاکو ته ولاړ سی. هغو ته یې احوال وکړ چې موږ ستاسی خواته درپوری وزو، موږ ته پناه راکړی او مرسته راسره وکړی. هغو اول د هو وعده ورسره وکړه خو وروسته یې ټګی وکړه او د یوسفزو ملګری سول. کله چې دوی له سینده دلازاکو ته اووښته پداسی حال کی چې د یوسفزو لښکر له شا ورپسی وو د مخ لخوا دلازاکو ویشتل او پدی ډول روښانیان ددواړو خواوو ترمنځ د سیند په غاړه په تناول باړه کی سخت راګیر سول. جنګ ډیر خونړی وو او روښانیانو ډیر تلفات ورکړل. شیخ عمر او ورور یې خیرالدین دلازاکو مړه کړل له کومو چې دوی د مرستی توقع درلوده. دری نور وروڼه یې (نورالدین، الله داد او دولت الله) هم ووژل سول. ددغو درو وروڼو څخه یو یې په تیښته و مهمندزو ته د تلو پر لار غالبا مهمندزو وواژه. شپږم ورور یې (جلال الدین) چې د شپاړس کالو او تر نورو کشر وو په اوبو کې په تیښته بلی خواته ځان ویوست او د یوی ښځی په کور کی پټ سو. څرنګه چې جلال الدین ډیر ښایسته تنکی ځوان وو د ښځی پر مرګ پیرزو نسو او دښمنانو ته یې په لاس ورنکړ. د جګړی تر پایته رسیدو وروسته ژر روښانیانو د جلال الدین پته ولګول، ورغله او هغه یې پټ له سیمی ویوست او په هشنغر کی دیره سول. روښانیانو به د ګوجرو له پیښی وروسته، له ویری د خپل پیشوا (بایزید روښان) تابوت له ځان سره ګرځاوه. خو په دغه سخته اله ګوله کی تابوت سیند کی ایله سو او لیری اوبو یوی غاړی ته کړ. د جنګ تر سړیدو وروسته روښانیانو هغه پیدا کړ او دوړو ته یې یووړ او هلته یې ښخ کړ. پدی ډول دا جنګ د روښانیانو په لویه تباهی د حمزه خان په مشری یوسفزو وګاټه (۹۸۹ هـ ق). د بایزید د اولادی لویه غلطی د یوسفزو سره د هغوی مکرر جنګونه وه؛ خصوصا هغه وخت کله چې جنګ قومي بڼه واخیسته. روښانیانو قومي بنیاد نه درلود بلکه پر فکری بنسټ راټول سویوه؛ دوی ته نه وه په کار چې په قومي جنګ کی یې ځانونه دومره ښکیل کړیوای.

د شیخ عمر بل ورور (کمال الدین) د یوسفزو سره د وروستی خونړی جنګ په وختکی په تیراه کی وو او ژوندی پاته سو. پدی ډول د بایزید د اوو زامنو څخه یوازی دوه ژوندی پاته سول. د بایزید د تحریک په قوت کی روایت دی چې کله یوسفزو د بایزید ښځی (بی بی شمسو) ته چې د هغوی په بند کی وه د پنځو زامنو پریکړی سرونه راوړه هغی اوښکه باندی توی نکړه او ویویل چې دوی خو څه په غلا او کاسیری پسی نه وه تللی چې مړه سوه او پروژاړم. هغې د خپلو زامنو سرو ته وکتل او ورته ویویل: /آفرین شه درباندی زامنو چې د خدای په لار کی محکم پاته شوئ او ښه په بهادری مو ځانونه ورکړل/ (بایزید انصاری، ص. ۳۵). د ایمان جذبه همداسی وی او پښتنی میرمنو د تاریخ په اوږدو کی تکرارا دا ثابته کړیده چې دوی د تکلیف په انتهائی سخت

وختکي ځنګه د خپلو نارينو د زړه قوت او د شا تکيه ده؟

د کندهار د صوفي ګل محمد حکاک کيسه مې را ياد سوه چې محمود زوی يې چې د روسانو پخلاف د جهاد په اوائلو کې يو هوښيار او تعليميافته قوماندان وو روسانو په يوه مخامخ وسله واله جګړه کې شهيد کړ، پرځای يې ورور (داؤد) جبهه سامباله کړه. هغه هم روسانو شهيد کړ او پرځای يې کشر ورور (احمد موسی) د جبهې سرپرستي پرغاړه واخيسته. احمد موسی چې شلو کالو ته به ايله رسيدلی وو هم شهيد سو. زه او مور مې کوټتي ته فاتحې ته ورغلو. زما مور کيسه کوي چې کومې ښځې چې به د غمرازۍ په منظور د شهيدانو مورته لاس پورته کړ او وبه يې ژړل چې دري ځوانان زامن يې يو په بل پسې شيهدان سول نو د صوفي صاحب ميرمنې به (د شهيدانو مور چې اوس هم په کوټه کي اوسي) ښځو ته مخ ورواړاوه چې «مه ژاړئ چې د شهيدانو شهادتونه خراب نسي؛ دوی خو د خدای (ج) په لار کې تللي دی شهادت دی ئې مبارک سی». ددين او وطن ددفاع په لار کې مې ددی کتاب د ليکونکي (عزيزه افغاني) د بيوطنه شهزادګۍ هغه داستان هم راياد سو چې په قلم مجله کي يې د خپل مهاجرت کيسه چاپ کړيده. عزيزه خور وايي چي ددی سره د کندهار-چمن پر لار يوی ملګری ميرمنی ځنګه په يوازی سر دوی ځواني مړندی پاکستان ته په مهاجرت بوتلي او چې د سپين بولدک تر سرحد چمن ته واوښته کندهار ته ئې مخ کړ، اوښکي يې له سترګو توی سوی او ويويل: «څه وکړم؟ مجبوره وم. ما خو ژړ کندهار نه پريښووی. ما پاکستان څه کاوه؟ څه مې ليدلي وو؟ دوې مې راخوندی کولی چې مړونه يې په ډاډه زړه جهاد وکړی (اشاره يې خپلو دوو مړندو ته وه). خدای (ج) به دا کافران ورک کړی، بيرته به ورځو».

په تناول باره کي ترسختی ماتی وروسته د روښانيانو ځو مخور کسان د مغلو اکبرباچاته چی د کابل د سفر څخه په راګرځيدو په پيښور کی وو عرض وکړ چی ددوی بنديان د يوسفزو له بنده ورخلاص کړی. کمال الدين، جلال الدين او ددوی وراره (وليداد د نورالدين زوی چی پلار يی د شيخ عمر سره په جنګ کی مړ سوی وو) هم اکبرباچا ته ورغلل او د خپل حالت زار څخه يی واقف کړ. اکبرباچا ددوی عزت وکړ او امر يی وکړ چی د هرچا سره د روښانيانو بنديان وی هغه دی آزاد او ماته راواستوی او يوسفزو ته يی تأديبی سزاء هم ورکړه. اکبرباچا د جلال الدين څخه د هغه په دربار کی د پاته کيدو غوښتنه وکړه او پدی ډول جلاله (جلال الدين د بايزيد زوی) د اکبرپاچا سره سو (۹۸۹ هـ ق). خو د بايزيد مريدان د مغل په دربار کی د جلال الدين په پاته کيدو خوشحاله نه وه. هغوی دا دومره تکليفونه له مغلو بلل او د پير بابا، اخوند درويزه او حمزه خان اکوزئی د مخالفتونو، جنګونو او تباهيو ترشا يی د مغلو لاس کاته. جلال الدين د هغوی په تشويق د اکبرپاچا دربار نه پريښود. يوکال لا دده د مغلو په دربار کی نه وو پوره تير سوی چی مريدان يی د شيخ خليل په مشری ورغله؛ جلاله يی بيهوښه کړ او پټ يی له درباره وتښتاوه او تيراه ته يی بوت او په زاوه کی چی د تيراه او بنګشو ترمنځ پرته سيمه ده ديره سول. نوره کورنۍ يی هم له ټوپۍ او هشنغر څخه ورته ورغله (اخوند درويزه، مقدمه، لب).

د افريدو سره د مغلو له پخوا جنګ وو. روښانيان د جلال الدين او د شيخ عمر د زوی (احدداد) په مشری چی په احداد مشهور وو د افريدو ملګری سول. کرارکرار يی بنګښ او نور پښتانه هم جنګ ته د مغلو خلاف راوبلل. په ۹۹۳ هـ ق د کابل د والی مرزا حکيم خان ترمرګ وروسته اکبرباچا کابل ته د تلو پرلار (محرم ۹۹۴) اټک ته ورسيد. جلاله (جلال الدين) د کابل او پيښور لار بنده کړيوه. د مغلو باچا يو فوج د کنورمان سنګ په مشری د هغه د ځبلو لپاره ورواستاوه. په دره خيبر کی سخت جنګ ونښت او روښانيانو ماته وخوړه. جلال الدين د لښکر د راټولولو لپاره د پښتنو نورو سيمو ته ولاړ. په دغه تلاښ کی غزنی ته ولاړ خو هلته د هزاره ګانو له لاسه مړ (۱۰۱۰ هـ ق) او سر يی مغلو ته پيشکش سو (اخوند درويزه، ص ۱۳۲؛ بايزيد انصاری، ص ۴۳). پدې ډول د مغلو سره د جلال الدين په کلونو اوږد جنګ په غزنی کی پای ته ورسيد خو د کورنۍ مبارزه يی ادامه پيدا کړه. د اخوند درويزه په قول په کال ۱۰۱۲ هـ ق کی د غزنی په علاقه کی روښانيانو د جلال الدين هډوکی

راټول او په دوړو کې یې دده د پلار (بایزید روښان) وڅنګ ته ښخ کړل.
اکبرپاچا بل فوج د زینخان کوکه ئی په مشری د سوات، یوسفزو او باجوړ د پښتنو د تابع کولو لپاره واستاوه. خو هغه فوج د پښتنو د مقابلې نه وو. دغه جنګ کې روښیانیانو ښه توره وکړه. هغه نور تازه دمه لښکر د سیدخان کهکر او راجه بیربل په مشری د زینخان مرستې ته واستاوه. ټولو د سوات په درو کې سخته ماته وخوړه او بیربل د تیښتې په حال کې ووژل سو؛ اته زره لښکر یې تار و مار سو او زینخان کوکه په تیښته اټک ته ورسید (بخشي، ص ۱۳۸). دغو واقعاتو اکبرپاچا ډیر نا ارام کړ، یو لوی فوج یې یوسفزو ته واستاوه؛ هغوی یې سخت وځبل چې د هغه په نتیجه کې نه یوازې د روښانیانو بقایا ووهل سول بلکه اخونددرویزه او کورنۍ یې چې د مغلو ملګري وه هم ډیرې سختې ولیدې. اخوند د مغلو له لاسه پیښور ته په کډه مجبور سو.
روښانیان د اکبرپاچا سره د هغه تر مرګه وجنګیدل. اخونددرویزه چې د روښانیانو لوی مخالف او ددې تحریک یو ن دقیق څاري په ۱۰۲۱ هـ ق کې لیکي چې تر دې دمه د احداد د قیادت اته نهه کاله تیر سویدي. د جلال الدین د جنګو په وخت کې د هغه خپلوان لکه کمال خاتون (د جلال الدین خور چې د علیخان مهمندزي ښځه وه)، ولیداد (د خیرالدین زوی چې د جلال الدین وراره کیدی) او وحدت علي (د محمد کمال زوی او د بایزید د اکا لمسئ) په باجوړ کې اوسیدل. دوی ټول په یوه واقعه کې د کافرو او مغلو ترمنځ راګیر سول او د زین خان ښځه یې چې د سیمې لوی خان وو پناه وغوښته. هغه دوی لاسترلې لاهور ته د مغلو دربار ته بوتلل. اخونددرویزه لیکي چې کمال الدین هم د اکبرپاچا لخوا ونیول سو او په بندیخانه کې مړ سو (اخونددرویزه ص ۱۲۷). روایت دی چې ابوبکر (د حالنامې د مؤلف ـ علي محمد کندهاري پلار) روښاني بندیان په پټه په لاهور کې د مغلو له قیده راوتښتول او تیراته یې راوستل.
تر جلال الدین وروسته احداد (د شیخ عمر زوی) د روښانیانو مشر سو. ښه توري یې وچلولې خو څرنګه چې په مزاج تند وو مریدان پر کور ځیني کښینستل؛ خیلخانه یې هم که له یوې خوا له ډیره جنګه ستړې او له ډیرو تلفاتو یې زړه شین سوی وو نو له بلې خوا د احداد قیادت هم خوند نه ورکاوه. د جلال الدین څلور زامن وه (الله داد، هادیداد، کریمداد او میاداد). مشر زوی یې (الله داد) د احداد مخالفت کاوه. الله داد د جنګ مخالف او د مغلو سره د روغې طرفدار وو. پدې ډول د بایزید په لمسیانو او کورنۍ کې اختلاف پیدا او وده یې وکړه؛ یوه ډله د مغلو سره د جنګ د ادامې او بله یې مخالفه وه. د جنګ د ادامې طرفداران د احداد تر قیادت لاندې ورځ په ورځ کمیدل. احداد کرار کرار تجرید سو تردې چې د مغلو له خوا د ختکو په لواغر کې محاصره او ووژل سو (۱۰۳۵ هـ ق). تر احداد وروسته د هغه زوی عبدالقادر مشر سو او د مغلو پرضد وجنګید. هغه هلک وو په مشرۍ او د جنګ په چلونو ښه نه پوهیدی. که څه هم پښتانه ورسره وو دریده خو دده څخه وشوریده. په ۱۰۳۲ کې مغلو عبدالقادر او مور یې (بي بي علایي) ونیول او بندیان یې کړل. عبدالقادر په پیښور کې په بندیخانه کې په ۱۰۴۰ کې مړ سو. عبدالقادر چې بندي سو کریمداد د جلال الدین کشر زوی د مغلو پرضد د مبارزې مشري په لاس کې واخیسته خو هغه هم په پیښور کې د شاهجهان په وختکې (۱۰۳۸) ترور سو. د بایزید نوري اولادې له جنګه لاس واخیست او وروسته د الله داد په مشرۍ د شاهجهان باچا ملګري سول. مغلو هم دا فرصت غنیمت وګاڼه. شاهجهان و الله داد (د جلال الدین مشر زوی) ته د نواب رشیدخان لقب، چارهزاري منصب او د اګرې حکومت ورکړ. دده ورور (هادیداد) ته یې هم نوابي ورکړه. د روښاني دورې مشهور شاعر او لیکوال، مرزاخان انصاري (د نورالدین زوی او د جلال الدین وراره) چې د جلال الدین او احداد په وختکې د مغلو خلاف جنګیدی، کله چې الله داد د احداد څخه جلا سو او مغلو ته ولاړ نو مرزاخان هم ورسره ولاړ؛ مغلو مرزاخان ته هم لوی منصب ورکړ. مرزاخان انصاري په ۱۰۴۰ کې په دکن کې د مغلو په طرفدارۍ په یوه جنګ کې مړ سو. د حالنامې مولف علي محمد مخلص کندهاري د ابوبکر کندهاري زوی د الله

داد (نواب رشید خان) ملګری وو ( شیر افضلخان بریکوټی، ص ۵۵).

## د روښانی تحریک فکری یون:

بایزید د پښتنو په تاریخ کی د یو عظیم مفکر پحیث دیو داسی فکری تحریک بانی دی چی د خپل اسقلالیت، ابتکار او جرائت په وجه یی ساری ډیر کم موندلای سو. هغه د اسلام په چوکات کی پر الهی الهام ولاړه یوه مستقله ټولنه جوړه کړه او بیا د هغی په دننه کی یی د معنوی خوځښت لپاره د وحدت الوجود غامضه لار خپله کړه. بایزید ډیر لوړ کتل ځکه یی خپل د ژوند هدف ته آسمانی او از رهبر کړ، ډیر ژور یی کتل نو ځکه یی د وحدت الوجود په اخیره مرحله کی ځانته د سکون ځای وټاکی او لیری یی کتل. ډله یی جوړه کړه چی فکر او تحریک یې ابدی وی او یوازی تر ده یا دده تر ژونده محدود پاته نسی.

بایزید هدف تعیین او بیله پیره یی پخپل کوښښ ځان د پیری او ارشاد مقام ته ورساوه. ده اول مفکوره او ایدیالوجی جوړه کړه او بیا یی هغه د خیرالبیان په شکل مدونه کړه او د وړاندی کولو طریقه یی د محمد (ص) د حیات طیبة څخه تقریبا قدم په قدم نقل کړه. خو دا نقل داسی وو چی یو شمیر علماؤ نه خوښاوه او هغه یی بدعت او ضلالت ګاڼه. مثلا آنحضرت (ص) د حراء په غره کی اعتکاف کاوه، بایزید پخپل کور کی پنځه کاله اعتکاف وکړ. هغه قرآن راوړ، ده خیرالبیان؛ هغه ته وحی راتلی، ده ته الهام؛ هغه خپل رسالت جهان شمول باله او ده هم خپل شاوخوا سیموته هن تر ډهلی، بدخشان او بخارا پوری استازی واستول او د خلکو او اقوامو لپاره یی معرفت تلقیناوه. هغه د خپل قوم په ژبه (عربی) قرآن خلکو ته وړاندی کړ، ده هم د خپل قوم په ژبه (پښتو) خیرالبیان د خپل ولس مخته کښیښود. محمد (ص) رحمت اللعالمین وو، بایزید هم ویل چی زه ځراغ یم او بیله زما د پیروی بله ړنا او د نجات لار نسته. محمد (ص) نبی وو او بایزید ویل چی زه یی نظیر (ساری) یم. هغه مبارک له مجبوریته له مکې څخه مدینې ته هجرت وکړ، ده هم له کاڼیګرم څخه دوړو او بیا هشنغر او نور ځایو ته هجرت وکړ؛ او ډیر داسی نور څرګندونی او اقدامات. بایزید نه ویل چی نبی یم خو تر نبی یی ځان کم هم نه باله بلکه ویل به یی چی زه یی نظیر او ساری یم. پر الهام یی دومره یقین او تکیه وه لکه د پیغمبر علیه السلام چی پر وحی وه. لکه وحی چی د موضوع مطابق پر علیه السلام نازیلیده همداسی ده ادعا کول چی د موضوع مطابق الهام ورته کیږی. علماؤ داډول خبری، تشابهات او تشبیهات د نبوت د مقام سپکاوی او د اسلام تخریب ګاڼه.

بایزید لکه بل هریو لوی مفکر لویه ادعا درلوده؛ په وزیرستان یی اکتفا ونکړه او نه یوازی خپل د سیمی ملایانو، خانانو او ملکانو بلکه اکبرباچا غوندی امپراتور، پیربابا غوندی مشهور پیر او اخوند درویزه غوندی لوی عالم دین ته یی هم د مریدۍ او پیروۍ دعوت ورکړ. ده هرڅوک میدان او مبارزی ته وروبلل. د مغلو سره د بایزید د اولاد او مریدانو نژدی یوه پیړۍ اوږد او دلاوره جنګ او مبارزه د پیرروښان تاریخ، دده د تعلیم د انضباط اندازه او د قربانۍ د جذبی درجه ښکاره کوی. زه ښائی پردی خبره څه سوچ او تأمل وکړم چی آیا د روښانیانو تحریک له اوله سره د مغلو د استعمار پخلاف وو او یا حالاتو دغه مذهبی تحریک ته سیاسی بڼه ورکړه خو پدی کی هیڅ شک نلرم چی پښتو ژبی ته ددی دوری خدمت د پښتو د ادبیاتو په تاریخ کی یو زرین باب دی.

په ایران کی صفوی متعصبو شیعه ګانو د سنیانو څخه او په هند کی مغلو له پښتنو څخه نژدی په یو وخت کی قدرت ونیو او په دواړو ځایو کی پښتانه داسی وځبل سول چی بیا بې سر سم راپورته نکړای سوای. په ایران کی تر صفویانو دمخه تصوف ښه وده کړی وه خو د صفویانو په راتلو سره نور علمی څیړنو او خصوصا تصوف د تنفس مجال پیدا نکړ داځکه شیعه ګان ولایت فقیه ته معتقد وه. په عوض کی یی په هند کی ښه وده

وکړه داځکه چې مغل سنیان او فارسي ژبي وه او د سیمې د ټولو فارسي ژبو متصوفینو لپاره د ژوند او ودې ښه ځای وو. هسې هم پخوا (خصوصا د غوري، سوري او لودي پښتنو په وختونو کې) په هندوستان کې تصوف ته توجه سویوه خو د بایزید د پیدا ایښت په وختکې ډیر په زور کې وو. بابر او همایون او تر هغو وروسته اولادې یې لکه جهانګیر، شاهجهان او خصوصا اورنګزیب تصوف ته د عدم تشدد او ددولت په خلاف د نه بغاوت د یو مهم عنصر په ډول کتل او پاملرنه یې ورته کول. پدغه وختکې له شیعه ایرانه ډیر صوفیان او شاعران هند ته کډه سول.

طریقت او شریعت د اسلام ددوو مهمو او یو دبل د متممو څانګو پحیث د افغانستان څخه هندوستان ته تللي دي او هلته یې وده کړېده. هندوستان کې ددین ډیر جید علماء پیدا سویدي چې اسلام ته یې لوی خدمتونه کړیدي همدا سبب دی چې وائي قرآن په حجاز کې نازل، مصریانو یې قرائت وکړ او هندیانو یې څېړنه. طریقت هم په هندوستان کې ډیر رونق پیدا کړ حتی د دیني علومو د تحصیل په نسبت یې د نفوذ ساحه پراخه وه. تصوف دلته ځیني وخت د خلکو د ارشاد، تزکیه نفس، عرفان او انسانانو ته د خدمت کار ورکړیدی خو ځیني وخت بیا پیرانو همدا تصوف و حاکمه قدرت ته د خلکو د ایلولو، زبېښلو او د ولس څخه د تحرک او ډینامیزم د قدرت د سلبولو په منظور استخدام کړیدی. پر تصوف یوڅه له پخوا د یوناني فلسفي اثر وو خو چې کله مسلمانان د هندوستان پراخې مځکې ته ولاړل نو د هندو فلسفې او د هندوانو د ژوند طرز او طریقې هم پر هغو اثر وکړ او د هغو ګوشه نشیني، عزلت ګرائي او رهبانیت ته یې پخپل تصوفي حیات حتی سوچ کې چې په اسلام کې مردود وه لار ورکړه. له عرفانه د تحرک کمول او په دین کې تحجر د وخت د حاکمه قدرت په ګټه وو او تشویقاوه یې. عوامو ته په دغسي یو حالت کې د سم او کوږ تشخیص مشکل سی. څرنګه چې ډیر خلک په فطرت کې محافظه کار او خطر ته ځان نه ورکوي نو د یوه تحریک هغه خوا خوښوي چې ډیره سترړیا او د ابتکار خطر پکښې نه وي او ډیره قرباني ورڅخه نه غواړي. پدې ډول تصوف هم د تنویر او هم د تضلیل لپاره استخدامیدی چې اول یې روحاني تغذیه، ارشاد او د خلکو خدمت وو خو دوهم یې د خلکو ایلول، زبېښاک او د مرید د ژوند د تحرک ډیوه کمزورول وه. د اولې ډلې صوفیانو مثالونه د هډې ملانجم الدین اخوند، ملا مشک عالم، د ترنګزو حاجي صاحب، حاجي ملا عبدالرازق اندړ، چکنور ملاصاحب او ډیر نور دا ډول شخصیتونه دي چې تصوف یې د رهبانیت څخه ژغورلی وو. هغوی دعلم او تزکیه نفس وڅنګ ته د استعمار پخلاف هم قاطعانه مبارزه کول. ددوهمې ډلې د پیرانو مثالونه هم لړندي. دا دواړه طرز فکره د روښانیانو په وخت کې رواج درلود خو د مغلو یرغلونو چې د هندوستان په تاریخ کې یې د اول ځل لپاره مسلمان په مسلمان وجنګاوه ددوهمې خوا پله درنه کړه. سربیره پردې پر پښتنو د مغلو ظلمونو هم ددوهمې ډلې فعالیت ته نوره زمینه مساعده کړه. مغلي حاکمانو غوښته چې پښتانه چې ددوی د اقتدار حریفان وه سیاسي تحرک ونلري نو یې ځکه په هغو کې عزلت د پیرانو له لارې تقویه کاوه او هم عوامو د مغلو د ظلمونو څخه د خلاصون لپاره د امان ګوښې ته ترجیح ورکول. پدغسې یو حالت کې د پیرۍ او مریدۍ بازار ډیر ګرم وی. بایزید په همدغه زمانه کې پیدا او لوی سو چیرې چې پیر او پیربازۍ ښه توده او خلکو بې پیره انسان ګمراه او شقي باله.

د بایزید معاصر یا ترهغه دمخه د هند په لویه وچه کې دغه مشهور، مؤثر او مقبول عام صوفیای کرام وه چې اثر یې پر بایزید یقیني وو:

په لاهور کې داتاګنج بخش علي هجویري غزنوي.

په ملتان کې شیخ بهاء الدین زکریا او بابا فرید الدین مسعود ګنج شکر.

په ګجرات کې نورقطب عالم

په پاني پټ کې خواجه شرف الدین بوعلي قلندر

په اجمیر کی خواجه معین الدین حسن چشتی
په گلبرگه کی سید محمد گیسودراز
په گنگوهی کی شیخ عبدالقدوس گنگوهی
په دهلی کی ډیر اولیاء کرام سته چی مشهور یی خواجه نظام الدین اولیاء او خواجه قطب الدین بختیار کاکی دی.
په بنگال کی جلال الدین تبریزی
په اورنگ آباد کی بابا سعید پلنگ پوش او بابا شاه مسافرد پانجکی
د سوات په بونیر کی سید علی غواص ترمذی (مشهور په پیربابا )
د دیر په اوچ کی شیخ جلال الدین مخدوم

دمخه مو وویل چی بایزید په دغسی یوه دوره کی چی د طریقت، عرفان او پیری بازار ډیر تود وو پیدا او لوی سو. هغه وخت هرچا کوښښ کاوه چی پیر سی او که نه نو مرید خو حتمی سی. زما د آشنا، مرحوم مولنا عبدالقدوس قاسمی، خبره ده چی پیرانو به د بایزید په زمانه کی ویل چی من لاشیخ له فالشیطان شیخه (څوک چی پیر نلری شیطان یی پیر دی). حتی تر او سه هم دغه تبلیغات کیږی. یوه مشهور پیر به زما په مخ کی خپلو مریدانو ته چی کار به یی دده په زړه سم ونکړ ظاهرا په ټوکو ویل چی: /که د خدای امر ونه منی وا خیر دی، که د رسول دا ونه منی وا خیر دی خو چی د پیر دا ونه منی دواړه دی خطا سوی/. عوام به پدی خبره ډیر سره کوچنی او پریشانه سوه او دده څخه به یی بخښنه غوښته. خو که به چیری یو عالم اتفاقا ناست وو او هغه به د پیر په حضور کی احیانا او ندرتا جرائت وکړ چی پیر مبارکه دا خنگه ستاسی د امر متابعت د خدای (ج) او رسول الله (ص) تر متابعت مقدم او ضروری دی نو ده به ورته وویل چی که ته د خدای (ج) امر ونه منی هغه غفور و رحیم دی او رحمت یی ترقهر وسیع دی، بخښی دی او که د رسول (ص) امر ونه منی هغه پر مؤمنانو روف و رحیم دی تر گناه درتیریږی. پیر خو انسان دی که نسو درتیر دنیا و اخرت دی دواړه خراب سول نو د پیر سره ډیر احتیاط کول په کار دی. انسانان دخپل ماحول څخه متأثر وی. بایزید هم د خپلی ټولنی د معمول سره سم بی پیره د ژوند څخه خوند نسو ای اخیستای نو ځکه د کامل پیر په لټون سو. خو دده سرشاره او مبتکر ذهن په هر رجعت پسنده پیر پسی نسو ای تلای. په خلوت کی کښینوست، کلونه یی فکر وکړ او زیار یی ویوست. بالاخره خپله پیر راووت؛ البته پخپل طرز او پخپله طریقه.

د عقیدی په باره کی پوهر روښان ویل چی ایمان د عقیدی اقرار او په هغی د عمل نوم دی. دی په مقصود المؤمنین کی لیکی: ... څوک چی قرآن لولی او عمل نه پری کوی هغه په زړه کښی له قرآنه منکر دی (عزیزه، ص ۲). هغه کیدای سی دا استدلال کاوه چی هرځای په قرآنکریم کی آیة کریمة ده چی یا ایها الذین آمنوا نو سمدستی ورپسی و عملو الصلحت راغلی دی چی پدی ترتیب ایمان د عمل سره تړلی دی. شافعی صاحب هم عمل د ایمان جزء بولی خو امام أبی حنیفه عمل د ایمان جزء نه بولی. همدا راز بایزید ویل چی د خدای (ج) له معرفته پرته هیڅ عبادت هغه ذات ته منظور ندی (وماخلقت الجن والانس الا لیعبدون). ابن کثیر او ډیر نور معتبر مفسرین کرام لیعبدون په لیعرفون اخلی چی ښایی بایزید همدا گڼل. ده انسان د توحید د علم او معرفت له کبله تر نورو مخلوقاتو ښه باله. په ټولنیز اړخ کی، بایزید د هر بل مصلح پشان د حب مال، د ټگ پیرانو د زبیښاک، د ټولنیز فساد او د حاکمانو د ظلم په خلاف په یوه سنجول سوی مبارزه لاس پوری کړ او لومړی یی خواران د خان ملگری کړل او بیایی متنفذینو ته لاس واچاوه. ده پر پښتنو د مغلو بیحد و حصر ظلم لیدی. کیدای سی ده د مذهب له لاری د هغو مقابله کول غوښتل او د سیاست لپاره یی د پیری څخه چی د هغه وخت مؤثره حربه وه کار اخیست. ده د پخوانی مغلو (چنگیز، هلاکو او تیمور) د تاړاکو څخه پاته ځبلی عرفان د خپل

عصر د مغلو (بابر، همایون او اکبر) د ظلم په پنجو کی بسمل لیدی او غوښته یی چی په یوې منظمی او مؤثري طریقی هغه ته نجات ورکړی ځو بیرته د پخوا پشان د ټولنی د صلاح و فلاح کار وکړی او د اطمنان او تسکین مرحلی ته ورسیږی. ده دغه سکون ته اته پوړی تعینی کړی چی هر سالک یی باید طی کړی لکه شریعت، طریقت، حقیقت، معرفت، قربت، وصلت، وحدت او مسکنت.

لکه د هر داعی پخلاف چی یو شمیر خلک را پورته کیږی او د هغه تحریک خپلو ګټو ته تهدید ګڼی دا ډول د بایزید خلاف هم یو شمیر خلک را پورته سول. چی څومره ددی تحریک پیروان ډیریدل هغومره یی مخالفت هم زیاتیدی. د وخت شاوخوا پیرانو د خپل بازار سوړوالی ولید نو ځکه د بایزید په خلاف لومړی هغوی را پورته سول. عالمان یی ولمسول چی بایزید د شریعت په توره ووهی. د ملحد، مرتد، شیعه، اسماعیلی، تناسخی، حلولی، تأویلی او نور ډول ډول اتهامات یی د ځای او احوال په تناسب پر ولګول. ځینو ټاپه پر وهله چی شیعه وو. دا اشتباه لدی را پیدا سوه چی شیعه ګان و ولایت فقیه ته عقیده لری. په دوی کی امام د خدای نائب، معصوم او هرڅه د هغه په حکم دی او ځوک چی د امام معصوم پیرو ندی هغه ګمراه دی. بایزید هم پخپل تحریک کی د امام مقام درلود، پیر تمام وو او بغیر دده د پیروی د نجات بله لار نورو ته نه وه. دده پیروی پر ټولو واجب او نور په ګمراهی او شرک کی وه.

په شیعه مذهب کی تقیه واجب ده او په اسمعیلیه طریقه کی عقیده باید پټه وساتل سی. څرنګه چی بایزید خپلو مریدانو ته ویل چی هرچاته خپله عقیده اظهارول ندی پکار نو لدغه ځایه یی مخالفینو دی ګاهی شیعه او ځینو اسمعیلی باله. هغوی دبایزید دا قول رااخلی چی نحن معاشرالأنبیاء امرنا أن نکلم الناس علی قدرعقولهم - پرموږ د أنبیاؤ ټولی امر سویدی چی د خلکو سره د هغوی د پوهی مطابق خبری وکړو (بایزید انصاری، ص ۲۷۷). خو بایزید د آنحضرت (ص) په هغه حدیث استناد کوی چی فرمائی د خلکو د پوهی مطابق خبری کوی. اسمعیلیان مهدی آخرزمان ته عقیده لری او د امام زمان د اوامرو اطاعت واجب بولی. څرنګه چی روښانیانو هم خپل پیرتمام (بایزید) مهدی آخرزمان باله (که څه هم بایزید دا ادعا نکول) او اطاعت یی واجب نو ځکه مخالفینو اسمعیلیه ټاپه پر وهل. ملا ارزانی خپل پیر مهدی ګڼی او نور خلک یی هدایت ته داسی رابولی:

رښتینی لاره وغواړه
له مهدی آخرزمانه

ځینی بایزید دده د یوه مرید (خلیل) څخه په سم یا ناسم نقل قول تناسخی بولی (کرګر، ص ۱۲۴، ۱۲۲). ځینی یی حلولی بولی (کرګر، ص ۱۷۳). ځینی یی د مغلی استعمار پر ضد ملی مبارز ګڼی. شوروی مستشرقینو او په پښتنو کی د هغوی فکری ملګرو څلور پیړی وروسته د روښانیانو مبارزه د مارکس او انګلز پر سوسیالستی اصولو مبنی تفسیر کړه او هغه یې یو مخ طبقاتی مبارزه وبلل او هغه یی د مذهب تر پردی لاندی د فیوډالانو پرضد د بزګرانو قیام او بایزید یی د هغوی سالار ګڼلی دی (کرګر، ص ۲۰).

د بایزید پارونکی تګلاری هم علماؤ ته دستاویز په لاس ورکړ او مخالفت یی تسریع کړ. د بایزید سره د اخوند درویزه اختلاف تر ډیره حده مذهبی وو. داځکه هغه ملا وو او د بایزید سره یی معامله هم د دین او ملائی پر بنیاد وه. دا د اخوند درویزه وظیفه وه چی د دین د احکامو چی څنګه ده ته معلوم وه حراست وکړی او څرنګه چی بایزید هم له همدی سنګره په بیل جهت مبارزه کول نو ضرور یی اصطحکاک او تصادم ورسره راتلی. اخوند درویزه ترک (غلبا مغل) وو او د پښتنو په نسبت یی د مغلو سره نژادی نژدی اړیکی وی؛ کیدای سی څوک استدلال وکړی چی هغه به پر دغه قومی بنیاد د مغلو حمایت او د بایزید مخالفت کړیوی خو زه دی خبری ته ډیر وزن نه ورکوم داځکه هغه ملا وو او ملا قوم ته معتقد ندی. اخوند درویزه که څه هم د مغلو مخالفت ندی

کړې او د اکبرپاچا د بیدینی مقابله یې نده کړې خو ښه یې هم نه ورته کتل. که څه هم هغه د پښتنو د زار حالت مسؤل روښانیان ګڼې او په یوځای کې په داسې حال کې چې د شیخ عمر وروسته د جلال الدین په ژوندی پاته کیدو خفګان ښکاره کوی او هغه دین ته رخنه بولی خو د مغلو د ظلم او د پښتنو د تکلیف او زار حالت په باره کې وائی «لا رخنه وه ددین پاته چې پادشاه زموږ اکبر وو، دی د نفس په لوری تللی او له دینه بې خبر وو.... دا شومیت د جلال دین وو چه مقام د امراګانو پیښور شه، مغل ګډ په پښتانه شو له درونه یې خبر شو ـ قلنګونه یې زیاتی کړ هزیمت یې ور دوځار کړ، د جلال له بده پیله کل پښتون مغل په دار کړ» (اخوند درویزه، ص ۱۳۴ـ۱۳۵).
د پیربابا تر وفات وروسته اخوند درویزه هم د مغلو څخه تکلیفونه لیدلی دی. پدی ډول د اخوند درویزه اختلاف د روښانیانو سره مخامخ په سیاسی منظور او د مغلو د خوشحالی لپاره نه وو. لیکن، د اخوند درویزه مرشد (پیربابا) ته چې دی یې د بایزید مقابلې ته امر کړی وو باید په عین نظر ونه کتل سی. د بایزید سره د پیربابا په مخالفت کې نه یوازې د پیری د رقابت او حسادت مسئله مطرح ده بلکه د مغلی درباره سره د پیربابا او دهغه د پلار او کورنی نږدې دوستانه اړیکې له نظره نسی غورځیدای. نو پدی ډول په زیات احتمال د بایزید سره د اخوند درویزه د زیاتی دښمنی ترشا هم سیاسی لاس وو چې حتمی نده اخوند درویزه په آګاه وو.
قدرتمندان بیا ددی نوی راټوکیدلی تندروه روښانی اقتدار څخه ووېریدل چې مبادا د مذهب په نوم دا تحریک سیاست وکړی او په سیمه کې قدرت ترلاسه کړی. که وګورو، د سوات د میا عبدالغفور او په افغانستان کې د طالبانو په شمول په تاریخ کې داسې مثالونه لږ ندی چې یو سوچ مذهبی تحریک کرار کرار سیاسی سوی او بیا یې قدرت نیولی دی. پدی ډول یو شمیر قدرتمنو هم د بایزید پرضد و پیرانو او ملایانو ته لاسونه ورکړل. څوک چې د پیر، ملا او سرکار لغتی په یوه سلا وخوری نو بیا چندانی قد نسی سازولای؛ بایزید او روښانیان په همدا سرنوشت اخته سول. پدی ډول د بایزید خلاف د ملایانو، پیرانو او حاکمانو مقابلې ښایي دا مذهبی تحریک په سیاسی تحریک بدل کړی وي. خو بایزید هم د خپل ځان او تحریک د بقا لپاره د هغه وخت له هر امکانه کار اخیست. دلته د تخطیط (پلان و نقشه)، قلم او توری درو سرو څخه د سیاست د وسایلو په توګه کار اخیسته کیدی.
مغلو پاچاهانو په هند کې د خپل اقتدار د استحکام لپاره د هغه ځای د ادیانو د بهې او کردار د تغییر کوښښ کاوه خو پخلاف یې یو شمیر علماء حق لکه شیخ احمد سرهندی زیار یوست چې د هند مسلمانان د خپل دین او مذهب پر سنتی لارو ټینګ پاته سی. پدی ډول هری ډلی دین د ټولنی مهم عنصر ګاڼه او د خپل فکر پر بنیاد یې د هغه په شکل ورکولو کې کوښښ کاوه. بایزید هم د یوه مبتکر مصلح په توګه راپاڅید او پښتانه یې چې هغه وخت د قدرتونو د تناظر مرکزوه وپوهول. ده، ددغسې یو پوهاوی په منظور خیرالبیان په پښتو ولیکی. لکه هر مصلح چې خپله مبارزه اول له خپله کلی او د خپلو خوارانو په حمایت پیلوی، بایزید هم خپل د فکر د ترویج لپاره د خپل خوار قوم د خواری ژبې په خدمت کې تحریک پیل کړ. ده دا خواره ژبه (پښتو) چې اغیارو ورته د دوږخ ژبه ویل دجنت ژبه، د الهی الهام مبارکه ژبه او د الله(ج) لخوا د یو مهم رسالت د تفهیم په منظور یې مهمه، مقدسه او خوږه ژبه کړه. و خپلو مریدانو او مخلصانو ته یې په دی مبارکه ژبه د لیکلو او څیړنو مجال ورکړ. هغو په پښتو ډیر څه ولیکل او پدی ډول یې پښتو ژبې او پښتنو ته نه هیریدونکې خدمتونه وکړه. که له یوی خوا بایزید او ملګرو یې پښتانه په خپل تحریک او پخپله لار پوهول، نو له بلې خوا ددوی مخالفینو هم ددی لپاره چې پښتانه د روښانیانو د تبلیغاتو تر تاثیر لاندی رانسی په پښتو کتابونه او اثار ولیکل او خپاره کړل چې دغه مقابلې د پښتو ادب ته ښه وده ورکړه او عزیزی افغانی ددغه فرهنګی یون د شاه زلمو د کارنامو بیلګې تر ډیره حده پدغه کتاب کې چې ستاسې مخته همدا اوس پروت دی خوندی کړیدی.
ځینی داسې روایتونه هم سته چې پیربابا د روښانی تحریک د ځبلو لپاره سوات ته واستول سو. هغوی دا

ادعا د اخوند درویزه د هغه قوله څخه راباسي چې لیکي چې پیربابا د خپل پیر په هدایت ترمذ ته د ارشاد لپاره روان وو چې مریدانو یې ورته وویل چې په یوسفزو کې دوه ملحدان دي چې خلک د محمد (ص) د دین څخه اړوي او ډیر شهرت یې حاصل کړیدی. یو د غلجو پیر طیب او بل پیر ولي بړیخ دی. دوی ډنګ و ډونګ او سرود حلال کړیدی، ښځې ورته ګډیږي او پیرولي خو ځانته خدای (ج) وایي. که تاسي د یوسفزو علاقې ته ولاړ سي نو دا خلک به د ګمراهي څخه بچ سي. هغه وو پیر بابا بنیر ته ولاړ او د ژوند تر پایه هلته پاته سو. دوی پیرولي د بایزید روښان له خلیفه ګانو بولي چې پیربابا یې د نفوذ د خپریدو د مخنیوي لپاره ورغی. دا ادعا چې پیربابا د بایزید د خلیفه ګانو پخلاف یوسفزو ته تللی دی د تاریخ سره سمون نخوري. هغه د بایزید د پیري تر اعلان پخوا یوسفزو ته تللی وو. روایت کوونکي دغه پیرولي بړیخ د روښانیانو د ملا بړیخ او ملامیرولي سره چې ډیر وروسته تیرسویدی مغالطه کوي. که ښه ځیر سو پیربابا د ۹۵۰ هـ ق په شاوخوا کې بنیر ته تللی دی چې دا وخت به بایزید د ۱۹ کالو وو او یقینا پیر سوی نه وو او مریدان یې نه درلوده. پدا سي حال کې چې پیرطیب او پیرولي په هممغه وختکي مشهور پیران وه. هغوی د همایون د اول سلطنت او د دوهم وار پاچهي په اوئلو کې په اوج کې وه چې بایزید هغه وخت هلکئ وو.

داچې یوسفزو ته د پیربابا د ورتلو علت څه وو ځیرنه غواړي. ښائي لکه راوایان چې وائي د علماؤ او صوفیانو سره په سیمه کې د الحاد د خپریدو تشویش وو او پیربابا ته به یې چې هغه وخت په ډیر ښه سړي او ولي الله مشهور وو عذر کړي وي چې د دغه فتنې د ختمیدو لپاره ورسره ولاړ سي. او یا ښائي مغلي واکدارار (همایون) هغه د دغه پښتني سیمي ته استولی وي چې خلک ورته ارام کړي او شائعه یې ګډه کړیوي چې عوامو ورڅخه غوښتي وه چې یوسفزو ته ولاړ سي. همایون له پښتنو ډیر ویریدی، د شیرشاه هیبت یې لا د زړه څخه نه وو وتلی؛ تازه یې د شیرشاه سوري له وارثانو څخه سلطنت په ډیر تکلیف نیولی وو نو یې پخپل ټول توان کوښښ کاوه چې پښتانه بیا راټول نسي او ځانته مشر او قیادت پیدا نکړي. ښائي همایون د یوسفزو لویه غرنی سیمه چې د مغلو ترولکې د باندې وه د پښتنو د بیا راټولیدو بالقوه سنګر ګانه نو ځکه به یې پیربابا وراستولی وي چې کار پکښې وکړي او مغلو یا ددوی په اصطلاح د اسلام باچاته یې بیله جنګه تابع کړي. همایون ته داوخت د پښتنو په سیمو کې د خپل اعتمادي سړي لکه پیربابا سخت ضرورت وو. پښتنو ته ډیر داسي پیران را استول سویدي چې نه پیژندل او استعمارګرانو ورته سید، حضرت، خواجه، صاحبزاده او مبارک او پیر ویلي، شجره یې ورته جوړه کړي او د هغوی د پیري او کرامت لپاره یې پراخ تبلیغات کړیدي. زموږ ځایي ښه خلک او زاهدان چې پلار و نیکه یې خلکو پیژندل د دغو تبلیغاتو تر اثر لاندي محدود او بې ودي پاته سوي او ناچاره د وارداتي پیرانو مریدان سویدي او پدي ترتیب وارداتي پیران نور هم په ولس کې تقویه او مشهور سویدي. کرارکرار پردو شرایط داسي راوستي چې د وارداتي پیرانو سره کارکول د وخت ضرورت سویدی. پدي ډول استعمارګرانو د پښتنو هغه سیمي چې قابو کول یې اسان نه وو پدغو پیرانو تسخیر کړیدي او هغه څه چې یې په جنګ نسوای ګټلای په پیرانو یې ترلاسه کړیدي. د پیربابا په باره کې زما سره اسناد نسته چې دا ثابته کړي چې هغه په رښتیا څوک وو؟ کیدای سي هغه ډیر ښه سړي او روحاني مرشد وو او یا برعکس؛ خو دوستي یې د مغلو سره یقیني وه.

## سیاسي حالات:

په ۹۳۱ هـ ق/۱۵۲۲ میلادي کې پښتنو لودي سردارانو د هند د واکمن ابراهیم لودي پخلاف بابر ته بلنه ورکړه. د پښتنو د سردارانو د دغه بې اتفاقۍ په نتیجه کې ابراهیم لودي له بابر څخه ماته وخوړه او په هند کې نه یوازي د پښتنو د پیړیو حکومت ختم سو بلکه د پښتون قوم او د هغه د ثقافت پخلاف یوه اوږده او مؤثره

مبارزه روانه سوه چې تر څو پېړيو پورې يې دوام وکړ. بابر تر خپل مرګ وروسته (۱۵۳۰م) و اولادې ته يو پراخ، مضبوط او پښتون ضد سلطنت په ميراث پرېښود. که څه هم د مغلو اخير پاچا بهادرشاه ظفر وو چې انګريزانو په ۱۸۵۸ کې له هندوستانه فرار کړ خو د مغلو مؤثر واک تر ۱۷۲۰ ميلادي پورې وو؛ وروسته مغلو د افغانانو (احمد شاه بابا او دده د کورنۍ ترقيادت لاندې) او بيا څه وخت د انګريزانو تحت الحمايه نيمګړي واک چلاوه.

په هند کې د مغلو د واک پر وخت، زموږ و څنګ ته په ايران کې صفوي دولت (۱۵۲۲-۱۷۲۲ م) په زور کې وو چې د سنيانو سخت ضد وو او د پښتنو ځينې سيمې يې هم لاندې کړېوې. صفويانو په دغو دوارو وجوهاتو، پښتون ثقافت ودې ته نه پرېښود. پدې ډول پښتانه د دوو لويو دښمنو طاقتو په منځکې سخت راګير سوي وه. د سيمې دا دوه طاقتونه پخپلو منځو کې په رقابت کې وه خو د پښتنو پخلاف بيا سره يو وه؛ کله چې همايون د پښتون شيرشاه څخه ماته وخوړه (۱۵۴۰م) هغه ايران ته پناه يووړه؛ ترهغو هلته ميلمه وو چې د صفويانو په مرسته يې کابل بيرته د پښتنو څخه ونيو (۱۵۴۵م).

بايزيد روښان په همدغه وختکې (۹۳۱هـ ق/ ۱۵۲۲م) د هند د پنجاب په جلندهر کې پيدا سو. د مغلو په وخت کې پښتانه هرځای ځبل کيدل او له يوه ځايه بل ځای ته د سر د امن په تمه په کوچ و بار مجبوريدل. بايزيد هم ددغه ناتار قرباني وو. د اخوند درويزه په قول بايزيد د ۲ کالو وو چې د مغلو فوجونو په پنجاب کې پښتانه سخت وځبل او په دغه سلسله کې د جلندهر پښتانه مجبور سول چې پنجاب پريږدي او بيرته وزيرستان ته کډه وکړي (مخزن، مقدمه، يز). خو په پښتنو کې لاتراوسه څه ساه پاته وه؛ شيرشاه سوري وکولای سوای د بابر د زوی (همايون) څخه د پښتنو غصب سوی سلطنت بيرته ونيسي (۱۵۴۰م). دغه وخت پښتانه بيرته خپلو ځايو ته ستانه سول. خو د پښتنو د حکومت ډير کلونه لا نه وه تير سوي او پښتانه لا بيرته خپلو ځايو ته ټول نه وه ستانه سوي او ځانونه يې نه وه ټينګ کړي چې شيرشاه په يوه واقعه کې ځوانيمرګ سو او باچهي بيرته مغولو ونيول. څرنګه چې پښتانه د هندوستان د تخت و تاج دعوه دار وه نو مغلو د هغوی د ځبلو په منظور د هيڅ ظلمه مخ نه اړاوه؛ دا ځکه ددوی په کمزوری کې يې خپل قوت او ددوی په فنا کې يې خپله بقا ليدل. دا واري مغل د پښتنو ځبلو ته داسې متوجه سول چې ساه کښلو ته يې نور نه پريښوول. بايزيد په دغسې شرايطو کې لوی سو.

تر مغلو پخوا په هندوستان کې که به جنګ وو نو هغه به اکثرا د مسلمانانو او نامسلمانو ترمنځ وو. مغل لومړني خلک وه چې مسلمان يې په مسلمان وجنګاوه او پښتون يې په پښتون وواهه. د پښتنو څخه يې حکومت ونيو. بابر، همايون او ورپسې اکبر ډير پښتانه ووژل او د سرو څخه يې کله منارونه جوړ کړل. روښانيانو د حالت څخه په درس او استفاده سره پښتانه د روحانيت به چوکات کې راټول او د مغلو جنګ ته يې تيار کړل. لکه مغلو چې مسلمان پښتانه پدې نوم وژل چې باغيان دي همداسې روښانيانو د روحانيت وسله ددوی پرضد استعمال کړه. روښانيانو بغير د خپلې ډلې نور ټول خلک (خصوصا مغل) مشرکين بلل او خپل مريدان يې ديته تيار کړي وه چې د هغو سره په زغرده وجنګيږي. روښاني غورځنګ د پښتونخوا په يوه پراخه سيمه کې نژدې يوه پيړۍ دوام وکړ چې د مغلو امپراتورۍ ته يو سرخوږي وو. که څه هم مغلو په هندوستان کې د مسلمان په نوم حکومت کاوه خو د روښاني تحريک پواسطه پر پښتني سيمو د استعمارګر په ډول معرفي سول او روښاني تحريک د يو ضد استعماري حرکت په توګه.

روښاني تحريک يو فعال پښتني روحاني، سياسي، ټولنيز ژوندی غورځنګ وو چې ژور اثرات يې تر ډيره وخته وه. ښايي بايزيد په پښتنو کې ژر رسوخ پدې هم پيدا کړی وي چې پښتانه د مغلو تر سخت فشار لاندې وه. بايزيد او دده کورنۍ د پښتنو لپاره يو سياسي، مذهبي او ادبي منبر او سنګر جوړ کړ چې پخپلو وسايلو بيله بهرنۍ مرستې د زمانې د يوې لوئي امپراتورۍ سره نژدې يوه پيړۍ وجنګيږي. ډله يې دومره مضبوطه وه چې کله جلاله د اکبرباچا سره د همکاري اراده وکړه نو روښانيانو هغه راوتښتاوه او بيا يې مبارزې ته تيار کړ.

په مذهبي او فرهنګي لحاظ دا تحریک دومره قوي وو چې حتی د بایزید او دده د ټولو زامنو ترمرګ وروسته هم اخوند درویزه احساس د ناآرامی کاوه نوځکه یې ددې تحریک پخلاف ډیر وروسته لاهم د کتابونو لیکل ضرور ګڼل. هغه خلکو ته ګواکي ددین په حکم عذر کاوه چې د روښانیانو کتابونه مه لولې بلکه زموږ دا وو ایاست. هغه لیکي «... آنکه درباره تصنیفها که ازین ملحد مانده باشند اگر بدست اهل سنت و جماعت درافتد باید که به آتش بسوزاند و بدان معتقد نشوند. اگرچه در ظاهر بعضی سخنان دلکش و موزون و مرغوب دران هست و الا هلاک و گمراه و بیراه خواهند شد.... القصه هرکه از افغانان و سائر مسلمانان این زمانه طالب دین باشند از اولاد او احتراز بکنند و الا هلاک خواهد شد و ابدا در دوزخ خواهند ماند (اخوند درویزه، ص ۱۲۷). دا معلومیږي چې که د بایزید او دده د زامنو په مرګ سره دا تحریک مړ سویوای نو بیا اخوند درویزه وروسته ددغو کتابونو لیکلو ته ضرورت نه لید. که وکتل سی هغه خپل ټول کتابونه د ۱۰۱۲ او ۱۰۲۱ ترمنځ لیکلي دي؛ مخزن الاسلام یې په ۱۰۱۲ کې چې دا وخت د پیرروښان د اخیري زوی (جلال الدین) هڅوکې لا مریدانو یې په غزنی کې راټول کړیوه؛ تذکره الابرار والاشرار یې په ۱۰۲۱ کې لیکلي دي چې د احداد زمانه وه (احداد د بایزید روښان لمسی وو).

بالآخره دا تحریک پسله ډیرو قربانیو او مسلسل ځبلومات او د سر خلک یې له ناچاره د مغلو ملګري سوه. ددې مضبوط تحریک د ختمیدو ځو مهم علتونه ښائي داوي:

یو داچې د روښاني تحریک په قیادت کې کمزوري راغله. قیادت که تر یو حده کسبي دي خو تر ډیره حده فطري نوغې لري. هغه پدې معنی چې انسانان تر یو حده د خپل ماحول تابع دي خو ځیني خلک فطرتا او له کوچنیوالې د یو سرشار، مبتکر، هوډمن او مخکښ طبیعت څښتن وي چې دا خصوصیت یې په نورو ډیرو همزولو کې څه چې حتی د هغه د کورنۍ په نورو غړو کې نه وي کوم چې په یو ډول شرایطو کې پیدا، لوی سوی او ژوند ورسره کوي. دهمدغه فطري قیادي خصوصیت نوموړي له نورو بیل او متمایز کوي. د میرویس نیکه، احمدشاه بابا او سید جمال الدین افغان په زمانو کې ډیرو خلکو ژوند کاوه خو ټولو ددوی په شان د قیادت خصوصیات نه درلودل. همداراز سکندر، تیمور او ناپلیون د خپلو زمانو د عادي خلکو په نسبت څه جلا خصوصیات درلودل چې دوی یې له نورو متمایز کړیوه؛اوس ددغو څو کسانو نومان سته خو ددوی د وخت د نورو سوو ملیونو خلکو نوم نسته. تاریخونه همداسې کسانو جوړ کړیدي. رشتیا هم:

تاریخونه دي جوړ کړي اتلانو
هسې نه چې هر بزدله هوښیارانو

بایزید یو روحاني اتل وو. هغه د الهي الهام پر بنیاد ځانته فکر، د کار طریقه او د عمل چوکات جوړ کړي وو. هغه د خپلې کورنۍ او ملګرو په منځکې یو ممتاز خصوصیات درلودل چې اولادو یې هغه نه درلوده. نظامونه تل په اخیر کې د فساد او تشتت سره مخ وي دا ځکه د کورنۍ په اول سړي کې دا توان، استعداد او کمال وي چې نوی لار، او ابتکار عمل رامنځته کړي خو حتمي نده چې اولاده کې یې هم همداسې اوصاف ولري. قیادت تر یوحده فطري ملکه ده چې په بایزید او د تاریخ په لویو قهرمانانو کې وه خو اکثره په اولادو کې یې نه وي او هغوی هرڅه په مفته پیدا کړیوي. هغوی ته خو هرڅه په میراث او باد راوړي پاته وي. د یوې کورنۍ د سر سړي خپل ملګري د تاریخ په یوه مقطع کې پخپل قیادت قانع کړي یا تسلیم کړیوي خو په اولادو پسې یې خلک په ټپو سترګو نه ځي او که ولاړ سي نو تحریک ګړنګ ته غورځي. پیغمبر علیه السلام له همدې ویرې خپل د کورنۍ څوک خپل خلیفه ونه ټاکي چې مبادا خلافت میراثي سي. جمهوریت همدا معنی لري چې د زماني او

حالاتو مطابق به خلک خپل مشر ټاکي. پيري و مريدي او پاچهي د ولسواکۍ مخالف جهت دی. د بايزيد اولاد له يوې خوا د پير اولاد وو چې په اصطلاح واجب الاحترام وه خو له بلې خوا د ولسي تنظيم او سياسي مبارزې سره مخ وه چې دا دواړه اوصاف په يو وخت او په يو ځای کې ډير نه وي. ددې ټولو حقايقو سره هغه وخت ځينې نوری ستونزې هم وې چې زه د بايزيد پيروان نه ملامتوم چې ولې د هغه په اولاد پسې تلل يا نه تلل؟ د هغو د ستونزو بيان ددې لنډې ليکنې ځای نه دی.

د روښانيانو د ناکامۍ بل سبب د مغلو د امپراتورۍ قوت وو چې روښانيانو په يوازې سر نسوای ماتولای. د تاريخ يوه خاصه مقطع او شرايط ځينې وخت تحريکونه او مشران جوړوي او ځينې وخت يې بيا ځبې. روښانيان د پښتنو د تاريخ په داسې يوه نامساعده مقطع کې راپيدا سول چې د پښتنو واک شوړيدلی وو او د مغلو واک تازه منځته راغلی او په زورکې وو چې هندو اکثريت ته يو مناسب بديل وو. مغل د نړۍ په سطحه د خپل وخت يو لوی، مستقر او دوامداره طاقت وو چې تر دری سوه کاله ډير يې مسلسل او ارام حکومت وکړ (۱۵۲۶ څخه تر ۱۸۵۸م). يوازې اکبر، جهانګير، شاهجهان او اورنګزيب يعنی پلار، زوی، لمسی او کړوسی دوه سوه کاله مسلسل پر ټول هندوستان پاچهي وکړه. تر اوسه د هندوستان طلائي دوره همهغه د مغلو دوره ده. که هندوستان همهغسي پاته وای، انګريزانو نه وای مستعمره کړی او له پښتو يې نه وای غورځولی يقينا به اوس د دنيا د لومړيو طاقتو څخه وای. روښانيانو ته دداسې يو لوی طاقت سره جنګ اسانه نه وو. که چيری بايزيد تر اورنګزيب وروسته پيدا سوی وای ممکن د تحريک نتيجه يې برعکس بريالۍ وای.

د روښانيانو د ناکامۍ د پورتني علت څنګته چې مغل يو ډير قوي ځوان دولت وو بل مهم اړخ دا هم وو چې د پښتنو سره د مغلو بې کچه دښمني وه دا ځکه سلطنت يې د پښتنو څخه نيولی وو او له هغو ډير ويريدل. دوی د پښتنو هر يو سياسي تحريک په نطفه کې ځبی. پر پښتنو د مغلو د ظلمونو په سلسله کې حتی اخوند درويزه هم سلامت پاته نسو چاچې د روښانيانو په ځبلو کی له هيڅ راز کوښښه ځان نه وو سپمولی.

د بايزيد د ناکامۍ بل علت ښائي دده افراطي او پارونکي حرکت وو چې نور يې ټول کافر ګڼل. هغه دده او دده د مسلک پيروی پر هرچا فرض ګڼل چې پکښې پيربابا او نور پيران، اخونددرويزه او نور ملايان، اکبرباچا، مرزاحکيم او نور حکمرانان، خانان او عام وګړي ټول راتلل. په دغه طريقه چې يې ځومره ددعوت ساحه پراخيده هومره يې مخالفت هم ډيريدی. بايزيد پخپله زمانه کې بل چا ته نه يوازې په پيری نه وو قايل بلکه بل هرپير يې ګمراه او مشرک باله او د بل پير پيروان يې هم ګمراهان او مشرکان بلل دا ځکه دده په ادعا حق کلام (خيرالبيان) پرده نازل سوی وو او يوازې دده سره وو. دده په خيرالبيان کې راغلي «نشته په دا زمان پيرکامل بيرون له تا چه وارث د انبياؤ ئی-د رښتينی لار تښتن ئی-ته باور کړه په دا کلام». څرنګه چې بايزيد يوازې خپل ځان کامل، مکمل او پيرتمام باله نو پر نورو دده اطاعت لازم وو. په خيرالبيان کې راغلي دي: «من أخرج من طاعة شيخ الکامل و يدخل فی طاعة الناقص يذهب عن الايمان والاسلام والاحسان-هادی وئيلی دی رحمت د خدای په ده دا کلام» (بايزيد انصاری، ص ۲۳۷). داسې ادعا او رويه پارونکې وه چې دده د حلقې دباندی خلکو ته يې د تسامح او ګذاری ډير مجال نه ورکاوه.

بايزيد په پيرۍ کې هم افراط وکړ تردې چې که د نبي ادعا يې نه کول نو ډير يې ځان کم هم نه ګاڼه او ويل يې چې زه يې نظير، سيال او ساری يم «و ما من نبی الا و له نظير فی امته، هرچه نبی ويلی دی عليه السلام (بايزيد انصاری، ص ۳۳). بل ځای خيرالبيان کې راغلي دي «فان کنت فی شک مما انزلنا اليک فاسئل الذين يقرأون الکتاب من قبلک. لقد جاء الحق من ربک فلا تکونن من الممترين-وو ايه هغه سړی وته چه باور نه کا په دا کلام-چه راوړی له خدايه بهتر له دغه کلام-که ياست رښتينی آدميان. وان کنتم فی ريب مما نزلنا عل عبدنا فأتوا بسوره من مثله-بيان دی په قرآن» (بايزيد انصاری، ص ۳۳). يا چې وائي «بل تحسبونه کلام البشر-چه

جاهلان دا خیرالبیان د انسان کلام گڼي». یا بل ځای وائی: «من آمن به و عمل به وجد هدایة و معرفة و راحة. څوک چي پدا ایمان راوړی او عمل په وکړی هدایت، معرفت او راحت به بیا مومی (بایزید انصاری، ص ۲۹۴).
پدی ډول بایزید خیرالبیان د قرآن مجید په منزلت کی باله چی هم به څوک ایمان پر راوړی او هم به عمل په کوی او منکر یی کافر دی. سره ددی چی ده استدلال کاوه چی خیرالبیان زما کلام نه بلکه د الهام په ذریعه د خدای (ج) لخوا پرما نازل سویدی. خو په شریعت کی پر الهام ایمان راوړل جایز ندی. د همدی شرعی حکم په مقابل کی دی وائی څرنگه چی پرما الهام د قرآنی احکامو مطابق دی نو ځکه باور باید په وسی. بیرته څوک دلیل ویلای سی چی که د خیرالبیان ټول احکام د قرآنکریم مطابق وی نو بیا د هغه دوباره الهامی نزول ته څه حاجت؟
کیداسی ددی په مقابل کی هم ددوی سره دلایل وی چی پدی ترتیب بایزید یوه لویه دعوه روانه کړیوه چی ډیر هی و هوی یی په دینی حلقو کی راولاړ کړ. که څه هم هر پیر نور پیران په زړه کی نه منی او تر هغو خپل ځان او خپله طریقه مؤثره او ښه بولی خو دا کار په اشارو او کنایو کوی او خلک د هغه په منلو نه مجبوروی او له زوره هم کار نه اخلی. هغوی اصلا دومره لوړه ادعا هم نکوی لکه بایزید چی کول. ده په زغرده خپل ځانته د مسکنت مقام ټاکلی وو چی بل هیڅا د سکون د غه مقام نسوای حاصلولای؛ دی وائی: مسکین یودی - هریو محتاج دده دی عیان (بایزید انصاری، ص ۲۴۳). مقصود المؤمنین د وحدت د مقام په باره کی وائی چی پدی مقام کی سالک خپله هستی فنا کوی، د بشریت اوصاف ئی هم ختم سی او د ربوبیت په اوصاف ژوندی وی. د خپلی هستۍ احساس شرک خفی دی او کله چی خپله هستی فناه شی شرک هم مرتفع سی. د سکونت په مقام کی روح سکون پیدا کړی او د بدن سره ئی تعلق نه وی؛ د بدن هیڅ عمل روح نه متأثر کوی او بایزید هم پدغه مقام کی وو. هغه استدلال کاوه چی محمد (ص) به دعاء کول چی یا الله مسکین می ژوندی لری، مسکین می مړ کړی او په آخرت می د مسکینانو په ډله کی راپورته کړې. دهغه مطلب دمال نیستی نه وو بلکه معنوی سکون وو.
سربیره پر افراطی پیری او تند چالچلند، بایزید خپله عقیده د وحدة الوجود دنازکی موضوع سره تړلی وه او پر نورو یی هم د هغی منل فرضول. خیرالبیان (مخ ۲۲۹) وائی: «گوره آدمیان زما په هستئ کی دی - زما هستی ده په آدمیان - لکه کبونه په اوبو او اوبه په کبو کښی». یا وائی: «د آسمان څاڅکی د اوبو څاڅکی دی، په یخنی واوره شی، چه لمر پر راوخوت په گرمۍ یخنی تری مړه شی او اوبه شی - دغسی د انسان ذات د رحمن له ذاته دی، د شک په وجه د هغی شکل بدل شو، په نور تری هغه شک مړ شی او بیا د رحمن سره یو شی» (بایزید انصاری، ص ۲۷۵). دوحدت الوجود موضوع د اسلام په تاریخ کی تل جنجالی وه. منصور همدغه عقیدې په دار کړ؛ شمس تبریز همدغه عقیدی مړ کړ، او .... نو ځکه له همدې ویری ډیرو لویو عالمانو د مولنای جلال الدین بلخی په شمول ددغه عقیدې د ښکاره کولو جرائت نه درلود. خو بایزید ته یی ډیر جنجال ځکه راپورته کړ چی ده نور د خپلی عقیدی په پیروی مجبور گڼل پداسی حال کی چی ترده پخوا نورو پدی لار کی زور نه چلاوه بلکه صرف تبلیغ یې کاوه. ده هرهغه څوک چی دده لار یی نه تعقیبول او دده پیروی یی نکول گمراه، مشرک او د قتل وړ باله خو ترده پخوا دوحدت الوجود معتقدینو ددی عقیدی منل د هرچا خوښی ته پری ایښی وه او زور یی نه کاوه.
بایزید نور جنجالونه هم راپورته کوی او موحد عارف انسان د شریعت تابع نه بولی داځکه هغه ځان د خدای (ج) په درجه کی وینی. دی وائی «عارف مؤحد هغه دی چه ځان له یگانگئ پس خلاص وینی له بندگی او گناهان (بایزید انصاری، ص ۲۷۷). داسی خبری د علماؤ قطعا ندی خوښی. که څه هم تر بایزید پخوا نورو هم داسی ادعاوی کړیدی او ترده یی لوړی او سختی کړیدی چی ښکاره مثال یی د جنید بغدادی مرید (حسین منصور الحلاج - مړ ۳۰۹ هـ ق) وو چی د انالحق (زه خدای یم) ناری یی په جار وهلی. د حلاج طرفداران استدلال کوی چی کیدای سی یو صوفی په مکاشفه کی د بیهوښۍ په حال کی ووائی چی زه خدای یم. خو دده او د فرعون د

ادعاء چې هغه هم ویل چې زه خدای یم فرق دی؛ فرعون ځان لیدی او خدای یې نه؛ خو حلاج خدای لیدی او ځان یې نه. مګر علماء کرام د صوفیانو ددغسې تأویل سره موافق ندی خصوصا د بایزید سره چې بیهوښه نه وو او په هوښیاری یې دغه عقیده خپرول. شیخ محی الدین العربی چې د وحدت الوجود د فلسفې مشهور صوفی دی وایی چې هغه ذات چې نیستی په هستی کیږی صرف یو دی او نور څه چې ښکاری په حقیقت کې نسته؛ کوم شی چې ښکاری ټول همهغه دی او دا نور ټول تصورات او وهم دی. د دریاب پر سر کوبۍ (حباب) چې لوړه ولاړه ده او تاسی یې ګوری چې وچوی همهغه او به دی، بیا نسته، هغه په حقیقت کې ددریاب څاڅکې دی. یا په تارکې هره غوټه بیله ښکاری خو ټول یو تار دی. دا کثرت او ډیروالی زموږ د وهم او تصور نتیجه ده؛ عارف په هرڅه کې یو وحدت خپور او وینی خو دغه وحدت او دغه کثرت او خپورتیا دعادی انسان ذهن نسی قابو کولای حتی تعبیر او تشریح یې هم نسی کولای. زموږ صوفی عبد القادرخان خټک فرمائی:

ننداره چیانو به یې شرح د مخ وکړای
تحیر ورته آواز د لاتقل کړ

د وحدت الوجود موضوع تر اسلام دمخه په یونانی فلاسفهؤ کې هم مورد بحث وه؛ چا خدای په مخلوق او مخلوق په خدای کې محوه باله، چا دټول کائنات مجموعی ته خدای وایه او چا بیا خدای د کائنات په هره ذره کې خپور ګاڼه. کله چې مسلمانانو د یونان د فیلسوفانو کتابونه عربی ته ترجمه، ولوستل او هغه یې د اسلامی طرز تفکر سره مزج کړل نو د وحدت الوجود فلسفی ته یې نوی بڼه ورکړه. په اسلامی نړۍ کې دغه فلسفی یو شمیر طرفداران پیدا کړل. دلته دوحدت الوجود دفلسفی ځینی پیروان دومره لوی عالمان، پیرهیزګاران او په ټولنه کې د نفوذ څښتنان وه چې د ځینو عجائبو د ویلو سره بیا هم هرچا په زغرده د انتقاد ګوته ورته نسوای نیولای. خو ځینی داسی علماء کرام هم وه چې ددغه فلسفی مخالفت یې په زغرده کړیدی چې ددی ډلی د مشرانو څخه شیخ الاسلام ابن تیمیه او شیخ احمد سرهندی مجدد الف ثانی وو. شیخ احمد (رح) د وحدت الوجود پرځای د وحدت الشهود فلسفی ته رشد ورکړ او پخپلو مکتوباتو کې یې تبلیغ کړه. د وحدت الشهود په مرحله کې سالک بیله یو ذاته بل څه نه ګوری خو نور نه نفی کوی. برعکس، وحدت الوجود هغه دی چې یو ذات موجود ګڼی او نور نابود او دا نابوده د هغه یو موجود ذات مظهر ګڼی. یعنی په وحدت الوجود کې د ماسوی نفی ده او په وحدت الشهود کې دا نفی نسته.

په افغانستان او پښتونخوا کې د وحدت الوجود د فلسفی معتقدینو چندانی سر ندی پورته کړی. علت یې ښائی دا وی چې دلته دوی صوفی طریقی رایجی دی چې یوه یې قادریه او بل یې د نقشبندیه طریقه ده چې دواړه وحدت الوجود ته عقیده نلری. د قادریه طریقی د مؤسس شیخ عبد القادر جیلانی (رح) د ځینو خارق العاده مشاهداتو روایت دلته څوک په کرامت تعبیروی نه د وحدت الوجود فلسفی ته د هغه په اعتقاد. زموږ په سیمه کې علماء کرام پدی فکر دی چې که خدای او کائینات یو وجود وی او بیلوالی یو ازی وهم او صرف تصور وی نو بیا د لا اله الا الله مفهوم څه دی؟ د خدای او بنده مفهوم څه سو؟ عابد او معبود څه معنی؟ جنت او دوږخ د چا لپاره؟ سزا وچاته او څوک یې ورکوی؟

د وحدت الوجود ډیر لوی بحث دی چې دا یې ځای ندی خو یوه خبره چې د یادولو ده هغه داده چې سرور کائنات فخر موجودات محمد (ص) چې ترټولو عارفینو او موحدینو یې درجه لوړه ده هیڅ وخت ځان د خدای (ج) درجی ته حتی نژدی هم ندی بللی بلکه تل یې د خپل بندګی او عجز اقرار او اعلان کاوه. دینی فرایض او وجائب یې ترهربل چا ډیر ښه پرځای کول. د اهل سنت والجماعه مسلمانانو په عقیده تر انبیاؤ وروسته تر ټولو افضل ابوبکر صدیق، بیا عمرفاروق، عثمان غنی او علی مرتضی رضوان الله تعالی علیهم اجمعین وه هیڅ یو یې ددی فلسفی پر لار ندی تللی، خپل ځانونه یې د خدای (ج) درجی ته څه چې د نبی (ص) درجی ته هم نژدی

ندي بللي.
ځيني متصوفين وائي چي بيله پوره ديني علم او کامل مرشده ځوک د وحده الوجود مکاشفي ته نسي رسيدلای او په لار کی ګمراه کيږي دا ځکه هغه د روح او د الله د ذات په منځ کی فرق نسي کولای. نو که د چا سره کافي علم وي او کامل مرشد ولري نو مرشد مريد ته د روح بريښ د الله(ج) د ذات د تجلا څخه بيلوي او پدي ډول يي له ګمراهي ساتي. په هرصورت دا ډيره باريکه موضوع ده. د بايزيد مخالفينو چي مهم يي اخوند درويزه او پيربابا وو ادعا کول چي بايزيد نه منلی عالم دين وو او نه يي پير درلود چي ځان يي په رسولي وي. بايزيد د اخوند درويزه او پيربابا سره موافق دی چي بی کامله پيره لار نه وهل کيږي خو وايي چي کامل پير زه يم.
هغوی فکر کاوه چي بايزيد صوفي وو، خواری يي کنبيلي وي او ځان يي يو ځای ته رسول غوښته خو په لار کی پاته سويدی نو ځکه د روح نور د خدای (ج) د ذات تجلي ګڼي چي پدی ترتيب هم خپله بيلاري دی او هم نور خلک بيلاري کوي. اخوند درويزه وائي:
«هرچه بی پيره پيري کا هم مريد مستقيم نه کا د ايمان سپينکۍ کاروان يي شياطينو دی وهلی».
يا وايي: «ذکر واخله له کامله څو حضور درته پيدا شي هر ذاکر چه بی حضوره ذکر کاندی وسوسه ده».
د بايزيد بل مشکل دده د ديني علومو د تحصيل اندازه وه چي دده د ډيری لوړی ادعا سره يي سمون نه خوړ. که څه هم اخوند دريزه يي په علم اعتراف کوی او وايي «د بايزيد پلارنيکه واړه عالمان وو د ورمړو هم رښتيني وو په دين کښي.-ولي بايزيد کله ملا شه، دده فهم په سودا شه، په طلب دی د دنيا شه». بل ځای وائي «بدان ای فرزند که عبدالله نام شخصي در حدود قندهار در موضع کاني ګرم در ميان افغانان ورمړ مردی با علم و صلاح و از اولاد علماء و صلحاء بوده تا بقضائی قدير ازو فرزندی بزاد بايزيد نام، اورا نيز در تحصيل علم ګماشته تا بقدر وسع حاصل آورده ... اما بعد از حصول مبلغ از علم او روی بسوداګری نهاده تا از ثمرقند دو اسپ اورده و بهندوستان برده (اخوند درويزه، ص ۱۲۲).
بايزيد نه يوازی مروجه علوم ويلي وه بلکه په يوه علمي کورنۍ کی پيدا او لوی سوی وو؛ دومره قابليت يي درلود چي د شيخ اوريا او شيخ ذکريا سره مناقشي وکړی او يا د کابل د والي قاضيخان قانع کړي. هو، بايزيد د اخوند درويزه غوندی لويو ملايانو سره څه استدلال کولای سوای خو هومره نه وو چي هغوی د تسليم سر ورته ټيټ کړی وای او يا کم له کمه په ملائی يي اعتراف کړی وای. بل دا چي که بايزيد عربي نه وای ليکلي نو کيدای سوای ملايانو ورسره ډير مخالفت نه وای کړی. د خيرالبيان عربي کمزوره ده او علماؤ ته پر بايزيد باندی د انتقاد پلمه جوړوی. هغوی به ويل چي دا څنګه د خدای (ج) له طرفه کلام دی چي سم ندی ليکل سوی. په عالي مدارجو کی دده د ديني علومو د تحصيل درجه نه راتلل او د عربي ژبي کمزوری يي د اخوند درويزه غوندی لوی علماؤ تبر ته لاستي ورکاوه. بل دا چي هغه وخت لوی پيران په عين حال کی لوی ملايان هم وه چي بايزيد هغسي نه وو. پدی ډول علماء يو څه پرحق وه خو ډيری يې ښايي دده سره د پيرانو او حاکمانو د مخالفت او پروپاګنډ تراغيزی لاندی هم راغلي وه. (څه ژرنده پخه، څه غنم لانده).
که موضوع ته د بايزيد له نظره وکتل سی ګورو چي بايزيد ډير ذهين، هوښيار او مبتکر سړی وو او د خپل ولس په نبض تر ډيرو ښه پوهيدی. نو موړی پوهيدی چي ساده عربي جمله پر عوامو د آيت او حديث اثر کوی؛ په تيره چي ورته وويل سی چي دا د خدای (ج) له طرفه پيغام دی بيا خو يي باور بالکل يقيني دی. هغه پوهيدی چي بيله عربي دده کار ډير مخته نسوای تلای. عوام يي په صرفي او نحوی غلطيو نه پوهيده او د عربي پر سر د ملايانو سره مشکلات بايزيد البته ډير جدی نه ګڼل. زموږ خلک خو ديندار او د عربي ژبي مشتاقان دی. حتی اوس هم چي څلورنيم سوه کاله د بايزيد له زماني څخه تيريږی د عربي اثر زموږ پرخلکو او پر نورو غيرعرب مسلمانانو قاطع دی. تيره جمعه مي په لندن کی د بنګاليانو په جومات کی د جمعي د ورځي لمونځ کاوه. د

خطبی اذان یو بنگالی وکړ. له ډیره اخلاصه یی الف په عین او هـ یی په ح ویل. عشعد علا اله عل الله ... حی علی السولاح ... علاه عکبر. ترلمانځه وروسته چی می امام صاحب ته وویل چی و مؤذن صاحب ته سم آذان وروښئی؛ هغه ومسل او راته ویویل چی مه یی ښوروه ډیر اخلاصمن سړی دی. پښتنو خو تر ډیرو نورو قومونو عربو ته په اخلاص کی امتحانونه ورکړیدی. بیا څلور سوه کاله دمخه پښتانه. بدون شک بایزید په دغه رمز پوهیدی نو ځکه یی دا لار خپله کړیوه.

همدا راز که د غیبو ادعاء گناه وی نو د پیرروښان پشان ډیرو نورو کسانو هم د غیب ویلو او کراماتو ادعاوی کړیدی؛ داسی خلک خو زموږ د تصوف په تاریخ کی لږ ندی. مگر هیچا دومره ندی پسی اخیستی لکه بایزید چی یی پسی واخیستی. حتی اخوند دریزه خپله د غیب ویلو ادعا کړیده او وایی چی هغه تر بلوغ دمخه شیخ افغانان سوی وو او ملا سنجر پاپینی غوندی لوی عالم به دده څخه د مغیباتو پوښتنی کولی (اخوند درویزه، مقدمه، ص ز).

د وحدت الوجود مسئله چی بایزید راپورته کړیوه هم څه نوی موضوع نه وه. ډیرو تر بایزید دمخه دغسی دعوی کړیدی هن چی د أنا الحق ناری یی وهلی دی خو نه چا کافر او ملعون بللی دی او نه یی په خلاف د علماؤ او پیرانو لخوا دومره لوی تحریک روان سویدی لکه د بایزید روښان په خلاف چی روان سو. حسن بصری (وفات ۱۱ هـ ق)، بایزید بسطامی (وفات ۲۲۱ هـ ق)، جنید بغدادی (وفات ۲۹۷ هـ ق)، ابو المجد مجدود سنائی غزنوی (متوفی ۱۱۵۰م)، فریدالدین عطار (متوفی ۱۲۲۹م)، شمس تبریزی (وفات ۶۵۵ هـ ق)، شیخ محی الدین العربی، مولنا جلال الدین بلخی (وفات ۶۷۲ هـ ق ۱۲۷۳م) ټول په لږ ډیر تفاوت د وحدة الوجود دفلسفی معتقد وه او خلک یی تراوسه احترام کوی. دولت لوانیځ داسی وایی:

له توحیده به خبر شی بیگمانه
چی په نغوته د روښان مسکین بازید دی
ددی حال گواهان حسن، بازید، جنید شوه
ملا روم، شمس تبریز، عطار فرید دی

که د بایزید گناه داوی چی پیری یی ولی کول نو پدی ساحه کی خو ډیرو ټگانو د پیرۍ او شیخۍ په نوم نخری کړیدی مگر پر ضد یی چا یو منظم تحریک روان نکړ. د پردو هر جاسوس چی د پیرۍ یا ملنگی جامی واغوندی، سر ببر کړی، پرتی ووایی، ښکنځل وکړی موږ ورته تسلیم یو. پیرپرستی زموږ سره تراوسه سته او د هر زیارت د قبر په ډبرو او شنختو ځانونه موږو، د سر خاوره یی د دارو پشان خورو او پر قبرو یی دروږونه حلالوو. د معلوم الحال فاسق او فاجر پیر په کور کی پدی بهانه چی پخی غوښی نه او میری خپلی پیغلی او باعفته لونی ورایله کوو چی د هغه شرابی او مست زامن شهوترانی پر وکړی. موږ خپله او اولاد مو له لوږی مرو خو د پیرانو او د هغو د اولاد د شراب او کباب لپاره د خپل ځان او اولاد د خولی څخه سپمولی پیسه او توښه هغوی ته د دروږ او شکرانی په نوم وروړو. ددغو مفاسدو پخلاف عالمانو او د معرفت خاوندانو ولی کوم مؤثر تحریک روان نکړ پداسی حال کی چی بایزید نه له مریدانو خیروخیرات قبلاوه او نه یی پر امامت اجرت اخیست. دده د اصلاحی تحریک پر ضد ولی سخت عکس العمل وښودل سو؟ حتی د کوډگرانو پرضد چی رسول الله (ص) یی د وژلو حکم کوی چا اقدام ونکړ او تر اوسه یی په پښتنو کی بازار ښه تود دی. بایزید خو دروږ او شکرانه هم نه اخیسته او ټگ پیران یی مشرک بلل. نو بیا ولی چا آرام ته نه پرېښود؟ ځینی نور مجهول الهویه ولی پر اوږو سپاره وگرځیدل او تراوسه گرځی او ده ولی د آرام ځای نه درلود او اولاد اولاد یی ورقتل کړه سول؟

که گمراهی وی نو اکبرباچا خو تر ټولو لوی گمراه او بیدینه وو. اسلام ته خو تر بایزید اکبرباچا او د هغه

الهی دین لوی تهدید وو. د اکبر لخوا د الهی دین په اعلان سره ملاشیرین شاعر هغه وخت وویل:

باد شـــــاه امسال دعوای نبوت کرده است
اگر خدا خواهد پس از سالی خدا خواهد شد

اکبرپاچا دومره په بیدینی شهرت درلود چی کله یی په لاهورکی یو لوی مسجد جوړ او دهغه پرانستلو ته ورغلی وو، نو شاعر حکیم مصری دا طنزیه رباعی خلکوته واورول:

شاه ما کرد مسجدی بنیاد
أیها المؤمنین مبارک باد
و اندرین هم مصلحت دارد
تا نمازگزاران بشمارد

مگر د پیربابا او اخوند درویزه غونډی لوی پیران او ملایانان د اکبرپاچا ددومره لوئی بیدینی پخلاف راپورته نسول ځکه چی هغوی د اقتدار سره ټکر نه غوښت او ملایانو د پاچا سره پدی بهانه چی کفر بواح یی نه وو ځینی لیدلی جنگ نه کاوه. هغوی د اکبرپاچا داحکم د بغاوت لپاره کافی نه باله چی هندو دی مسلمانه ښځه او مسلمان دی هندوې په نکاح کړی. هغه د اسلام د پاچا پحیث خپله هم دا کار کړی وو.

## ادبی بهیر

روښانیانو په پښتنو کی د اول ځل لپاره یوه لویه مستقله تصوفی، علمی، فرهنگی او ټولنیزه ډله او بهیر جوړ کړ. که څه هم ددغه تحریک سیاسی برخه د بایزید پر کړوسیانو ختمه او مذهبی برخی یې هم تردوی وروسته وده ونکړه؛ همداراز، ټولنیزه برخه یی لکه د موسیقی مقبول عام کول او په اجتماعی ژوند کی د ښځو گډول تر سیاسی تحریک هم ژر زمول سوه خو برعکس، ادبی برخی یی د پښتو په تاریخ کی تر ډیره خپل ممتاز مقام وساتی. د روښانی دورې اهمیت هم ترډیره ځایه په همدغه کی دی. لکه د غزنویانو، تیموریانو یا مغلو وختونه چی د فارسی شانداره دوری وی داسی د پښتو په تاریخ کی روښانیانو یو فرهنگی روښان دور پری ایښی دی چی د هغو سره مقایسه کیدای سی. د روښانیانو کلام د مفکوری او محتوی په لحاظ ډیر غنی دی خو د شعری صنایع، بدایع او ادبی تلازماتو په لحاظ د غزنوی، تیموری او مغلی دورو د شاعرانو پشان ډیر پوخ ندی او علت یی هم ښائی داوی چی د وخت حکومتونو د فارسی پر هر بیت د شاعر خوله په طلا ورډکول پداسی حال کی چی روښانیان چا په غرو کی هم نه پرینښول. ډیر فارسی شاعران په هغو دورو کی د حاکمانو حکم بگوش او مداحان وه پداسی حال کی چی روښانیانو ډغری ورسره وهلی. د روښانیانو یو امتیاز دادی چی بغیر د کوم سیاسی اورگان او مؤسسی له ملاتړه یی پښتو ژبی ته شانداره وده ورکړه. بل دا چی دوی د یوه معین فکر څښتن او خپلی لاری ته وقف خلک وه نوځکه یی په لږ امکاناتو بلکه په سختو شرایطو کی یی ډیر څه وکړای سوای پداسی حال چی فارسی شاعران د روښانیانو پشان مضبوط، متعهد او د یوی لاری خلک نه وه او په ډیرو امکاناتو یی لږ څه کول. بله مهمه خبره داده چی تر بایزید دمخه پښتو ژبه نه لیکل کیده، د دربار، سیاست، اقتصاد، جومات، عرفان او دتصوف ژبه فارسی وه خو د ولس ژبه پښتو وه؛ بایزید ابتکار وکړ او د ولس عامو پرگنو ته د رسیدو لپاره یی دهغوی ژبه غوره کړه.

د عزیزی افغانی خور په قول «پیرروښان او دده پیروانو په پښتنو کی د خپلی فلسفی او طریقی د خپرولو په منظور په پښتو ژبه ډیر څه ولیکل. مخالفین یی هم مجبور سوه چی په عامو پښتنو کی دده د تعلیماتو د تخریب او خنثی کولو لپاره په پښتو ژبه ډیر څه ولیکی. دغه فلسفی او سلوکی مخالفت یو ادبی او فرهنگی رقابت رامنځته کړ او د پښتو ژبی ادبی پانگه یی درنه کړه» (عزیزه افغانی، مقدمه ص۱-۲). هو، دوی په پښتو

کی دومره څه ولیکل چی نه تر دوی پخوا داسی یوه ډله تیره سویوه او نه تر دوی وروسته تر ډیره وخته داسی یوه منظمه ډله راغله. حتی د پښتنو یو حکومت هم پښتو ژبی ته دومره خدمت ندی کړیوی. که څه هم تر دوی وروسته پښتو ته د خوشحالخان خټک او د میرویس خان نیکه د کورنیو خدمت د ستایلو دی خو روښانی دوره ځانته مقام لری.

همدا راز عزیزه خور لیکی: « د بایزید روښان متنازع فیه شخصیت او دده تعلیمات ددی باعث سوه چی پر ده تر ده وروسته هم ډیری لیکنی وسی؛ ځینی یی (لکه قلندر مومند ) سوچ مذهبی مصلح او ځینی یی (لکه اخوند درویزه ) بدعتی بولی؛ ځینی یی (دده پیروان ) روښان پیر او ځینی یی بیا (لکه پیربابا ) پیر تاریک نوموی. ځینی یی د پښتنو یو قهرمان بولی چی د مغلو د مغلوالی سره پوره یوه پیړی وجنگید. ځینی بیا ددغه راز تحلیل سره موافق نه دی. حتی روسی مستشرقینو (لکه اسلانوف چی د بایزید تحریک د فیودالانو او ملایانو پ په خلاف د خوارانو او بزگرانو قیام بولی) او په افغانستان کی روس نوازلیکوالانو په سیمه کی د روسی ښکیلاک د لومی د غوړولو او په هغه کی ددی قامونو د راگیرولو په سلسله کی تل دا کوښښ کړیدی چی دبایزید اصلی څهره مسخ او نوموړی خلاف واقعیت یو سوسیالست او په لسمه هجری پیړی کی داشتراکیت علمبردار وښئی» (عزیزه افغانی، مقدمه ص۲).

بایزید په ځانکړی توگه او روښانی تحریک په لویه کی پښتو ژبه غنی کړه. دملا ارزانی، دولت لوانی، میرزا خان انصاری او نورو د اشعارو کتابونو د پښتو په ادب کی یو انقلاب راووست چی نور یی په تائید او مخالفت راوهڅول. بایزید او د هغه پښتو تالیفاتو (خصوصا خیرالبیان چی د روښانیانو مقدس کتاب او د الهام په ذریعه پر بایزید نازل سوی وو ) اخونددرویزه او نور مخالفین مجبور کړل چی په پښتو لیکنی وکړی که نه پښتو چا څه کول؛ همدغو به ویل چی د دوږخ ژبه ده.

د پیرروښان عقاید او افکار په خیرالبیان او مقصودالمؤمنین کی ځای سویوه چی مریدانو به یی منظم تلاوت کاوه. دغه مأمول او معمول مخالفین وهڅول چی د هغو د اثر د خنثی کولو په خاطر بالمثله اقدام وکړی او په پښتو ژبه دینی کتابونه ولیکی. یوازی اخوند درویزه څو کتابونه (تذکره الأبرار و الأشرار، ارشاد الطالبین، ارشاد المریدین ) ولیکل چی اکثره یی پښتو وه. اخوند درویزه د خپل مخزن الاسلام د لیکلو باعث د بایزید په پښتو ژبه تعلیمات ښئی او وایی: «سبب تألیف این کتاب (مخزن الاسلام) معلوم باد که در زمانـا در افغانان یوسفزئی زندیقی پیدا شده بود ... نام او بایزید بود و لقب خودرا پیرروشان کرده و فقیر اورا پیرتاریک کرد. و آن ملعون بزبان افغانی شعر گفت... پس فقیر برخلاف او شعرهای افغانی آغاز کرد» (اخونددرویزه، ص۲). په مخزن کی اخونددرویزه د امام محمد اویس د قصیدهٔ امالی د پښتو ترجمی په اخیر کی لیکی:

«اوس د زړه په غوږو واوره دا بیان چه افغانی دی ـ عربی ئی په پښتو کړه دا گفتار د درویزه ننگرهاری دی».

اخونددریزه د خپل مخزن په یو بل ځای کی د ابوصیری د قصیدهٔ برده د پښتو ترجمی په اخیر کی راوړی: «درویزه چی اجتهاد په علم وکړ عربی یی پښتنو لره پښتو کړه... دا کتاب می عربی وو... د نبی صفت کړی محمد بوصیری دی، دې فقیر ځنی پښتو کړ» (اخونددرویزه، ص۳۱). یا بل ځای وایی: «افغانان چون در طلب مولی محبت تام دارند و دین را جویان اند اما به سبب نادانی و جاهلی که از علوم دین محروم اند حق را از باطل نمی دانند ... پس اکنون این فقیر میخواهد که متن عقاید بلفظ افغانی بیاورد تا هرکه آنرا بیابد یاد گیرد و باور دارد هرگز گمراه نه گردد» (اخونددرویزه، ص۳۲). یا وائی «... پښتانه په بله ژبه نه پوهیږی ځکه دی ئی په پښتو ورښینه. په داخپله ژبه پوه شئ افغانانو. بل غرض می پکښی نشته مگر داچه شفقت کړم پر عامیانو» (اخونددرویزه، ص۱۳۲). پاته دی نه وی چی د اخوند دریزه مخزن تر ډیره د سیمی علماؤ په جوماتو کی

تدریس کاوه او په خطبو او د پوښتنو په ځوابونو کې یې استفاده ځینې کول. څرنګه چې د مخزن نثر د بایزید د نثر په پیروی مسجع وو نو ملایانو به د هغه یوه برخه په خطبو کې په ښه آهنګ او وزن ویل. دی کار خلک په جوماتو کې د پښتو د ویلو او اوریدلو سره آشنا او تشویق کړل. هغو کسانو چې غوښته به یې په پښتو حمد و نعت وواییې هم کوښښ کاوه چې د مخزن په پیروی په مسجع نثر څه ولیکې چې پدی ډول دغه سبک ښه وده وکړه. د اخوند درویزه زوی، ملا کریمداد، او لمسی یې ملا عبدالرحیم هم پښتو اشعار ویل او لیکنی یې کړیدی. د بایزید د مکتوبات د سبک او لیکدود په پیروی د هند مشهور صوفی (شیخ احمد سرهندی مشهور په مجدد الف ثانی) هم یو شمیر سؤالو ته په فارسی جوابونه د لیک په شکل ولیکل چې هغه هم مکتوبات بولی او د نقشبندیه طریقې د پیروانو په منځکې یې تدریس رواج دی. ددغه ټول ادبی انقلاب خښتنه بایزید ایښی وه چې په پښتو یې خیرالبیان او نور کتابونه ولیکل او خپل د نظر موافقین او مخالفین یې وهڅول او یا مجبور کړل چې قلم راپورته او په پښتو ژبه د هغه په طرفداری او یا مخالفت لیکنی وکړی او پدی ډول د پښتو ادبی پانګه غنی کړی.

بایزید او دده پیروان په پښتو ادب کی ځانته یو خاص او ډیر محترم مقام لری. دی دورې ډیر ښه شاعران، لیکوالان او د مستقلو دیوانو څښتنان درلوده چې نه یوازی یې د بایزید دعوت خلکو ته په ښه او مؤثرو طریقو رساوه بلکه د پښتو د ادب پانګه یې هم بډایه کړه چې د یو څو ذکر یې په لنډ ډول کوو:

## کندهاریان:

بایزید خپل یو خلیفه (شیخ مودود کندهاری) د کندهار او کوئټې سیمو ته د دعوت لپاره استولی وو. هغه هلته د روښانی طریقې دخپرولو لپاره ډیر کار وکړ. همداراز، د کندهاری برهان الدین خویشکی دری زامن (ملا عزیز ارزانی، ملا محمد عمر او ملا علی محمد مخلص) د بایزید تکړه خلیفه ګان، ښه شاعران او لیکوالان وه چې عزیزی افغانی یې په تفصیل پخپل کتاب کی بیان کړیدی. پدغو وروڼو کی ملا ارزانی ډیر لوی عالم، ښه شاعر او صاحب دیوان وو. په علمیت یې ملا اخوند درویزه چې ددوی لوی مخالف وو هم اعتراف کاوه. هغه وایی: «ارزانی چون تیزفهم و فصیح زبان بود، در انواع ضلالت و بدعت شعرهای افغانی، فارسی، هندی و عربی بیان کرده» (تذکره الابرار و الاشرار، ص ۱۴۹). د ملا ارزانی دا لاندی څو بیتونه د هغه د فکر، علمیت او بایزید ته د اخلاص څرګندونه کوی:

دا زحمت به لیری نکړی
بی کامله رهنمایه
دی به ذکر خفی درکړی
په هردم پری مولا ستایه
نن د نوح په کښتی کښینه
ته به بچ سی له طوفانه
د حیات اوبه نن وڅکه
ددی خضر له حیوانه
ریښتنی لاره وغواړه
له مهدی اخیر زمانه

یا وایی:

دا صورت د خاورو څلی

په دم سپور او په دم پلی
په دا ځلی کی بسیا دی
ددې دواړو کونو کلی
حق ددواړو کونو علم
د صورت پر کتاب کښلی
دا کتاب دی هغو لوستی
چی یی خپل صورت کتلی
دا صورت لوح محفوظ دی
له لوی نون قلم وتلی

خو خپله ملاارزانی اخوند د خپلو اشعارو او غزل په باره کی وایی:

دا غزل می د دل تار دی
پی اوبدلی دا چوتار دی
په څلور ژبو اوبدلی
د ارزانی افغان گفتار دی

یا دا چی د خپل دیوان په باره کی وایی:

د فقیر پښتو دیوان دی
دا دیوان حقانی خوان دی

ملا ارزانی د خپل پیر (بایزید ) او د هغه د لاری په باب ډیر څه ولیکل او عالمانه یې ولیکل؛ د پوهی او شاعری آوازه یی تر ډیره ځایه ولاړه او تر ډیره خپره وه. خوشحالخان خټک دده په شاعری او پوهه داسی حسد کوی:

مسخره می ارزانی خویشکی زمند کړ

همداراز، د پیرروښان په کندهاری پیروانو کی، ابابکر کندهاری او دهغه دوه زامن (علی محمد او خواجه محمد ) هم دلته د یادولو دی. علی محمد کندهاری د روښانی طریقی مخلص، د هغه دوری یو تکړه عالم او لیکوال او د مشهوری حالنامی مؤلف دی چی د اورنگزیب په زمانه کی یی ژوند کاوه. حالنامه د بایزید روښان کتاب وو چی علی محمد له سره ترتیب کړیدی. د ابابکر بل زوی، خواجه محمد کندهاری، هم د روښانی دوری ښه شاعر وو.

## دولت لوانئ:

لوی ملا او د پښتو ژبی تکړه صوفی او د دیوان څښتن شاعر وو. د پښتو ژبی ځینی حروفو ته ده شکل ورکړیدی. د ملا دولت لوانی د اشعارو ددیوان یوه نسخه په برتش لائبرری، بله د هند د رامپور په رضاء لائبرری، بله نسخه یی په کابل او بله یی د غزنی د البیرونی په کتابتون کی خوندی ده. د دولت لوانی دیوان هم په کابل او هم په پیښور کی چاپ سویدی. هغه د روښانی طریقی ټوله فلسفه (وحدت الوجود ) په یوه بیت داسی

انځوروي:

د يقين په نظر يوراته ښکاره شو
له اوله چې مې څوک په نظر سل کوت

خوشحال خان بابا د پخواني شاعرانو د ستايلو په سلسله کې د واصل روښاني د ذکر سره د دولت لواڼي داسې ستاينه کوي:

د مونږه په حساب دی
هيڅ مې ندی واصل هېر
بل دولت فقير دري پاوه
زه تری څو شيرشاهي تير

مرزا حنان بارکزی هم دولت لواڼی د علم کان بولي او وايي

يو مرزا ، ميرخان ، دولت د علم کان وو
د سلوک شعر يې کړيدی افضل
بل اخوند مياداد د عشق په ميو مست وو
ښه شيرين الفاظ ويلي دی واصل

واصل روښانئ:

واصل، د روښاني دوری مشهور شاعر او پيژندګلوی ته اړ ندی، صفت يې خوشحالخان خټک، اشرف خان هجري، حنان بارکزي او نورو ډېرو مشهورو شاعرانو او ليکوالانو کړيدی.

قادرداد:

قادرداد د محمدزمان زوی د پيرداد لمسی، د کمال الدين کړوسی او د بايزيد کوسی د پښتو ژبې ښه شاعر وو. وايي:

چه دی خدای ژبه ګويا کړه
د احد ، مرسل ثنا کړه
اول نوم ياد د احد دی
بيا درود په مصطفی کړه
د وحدت په تنهائی
يو احد احد صدا کړه
په خدائی رښتني فکر
آئينه د زړه صفا کړه

## قابل اورکزئی:

قابل، د روښانی تحریک ښه قابل صوفی او صاحب دیوان شاعر وو چی د احمد شاه بابا تر وخته ژوندی وو.

دا کتاب قابل پښتو کړ
جوړ ئی نظم په پستو کړ
بادشاهی د احمد شاه وه
تر د کنه ئی غوغا وه
احمد شاه و بخښی خدایه
ای قادره رهنمایه

## میرزا خان انصاری:

میرزا خان انصاری د نورالدین زوی او د بایزید لمسی وو. د روښانی فلسفی یو تکړه بیانونکی، صوفی او ددیوان څښتن شاعر وو. په دکن کی په یوه جنګ کی په ۱۰۴۰ هـ ق کی مړ سو. د خپل طرز فکر په باره کی وایی:

د میرزا ګمان فانی شه
هرچه وائی میا روښان دی

د میرزا خان انصاری په باره کی دولت لوانی هم وایی:

میرزا ګنج راته خپل کور وښود غنی شوم
بیهوده منت به ولی د بل چا وړم

او بل ځای وایی:

د میرزا نورالدین صفت به څو کړم
میاروښان د پوهی شهر، دی یی ور وو
د هادی په زړه چه پټ وه په ډیر کاله
د میرزا خوله، د هغه کلام مظهر وو

ولی محمد بره کی (د بایزید مرید) لطیفه شریفه لیکلی ده (کرګر، ص ۱۲۷). میرخان هم ښه عالم او ښه شاعر او د دولت لوانی نژدی انډیوال وو. همداراز کریمداد د جلاله زوی، مهدیداد د قادرداد ورور او ددی دوری نور ادیبان دیادولو وړ دی. په روښانی دوره کی تر یونیم سل ډیر تکړه لیکوالان او شاعران تیر سویدی چی عزیزی افغانی د هریوه په تفصیل سره بیان کړیدی. یقینا پدی دوره کی نور ادیبان او شاعران هم سته چی موږ ته یی اوس معلومات نسته داځکه په پښتنو کی ډیر شاعران نومورکی دی. د پښتو د ادبیاتو په تاریخ کی روښانیان لومړی کسان وه چی په پښتو یی مکمل دیوانونه ولیکل؛ پښتو توری او د هغو لپاره یی ږغونه جوړ کړه چی دا پخپله پښتو ته یو لوی خدمت دی. همداراز په پښتو موسیقی کی ددوی برخه د یادولو ده.

# د کتاب پر لیک او ترتیب څو خبرې

د پښتوژبې په وده کې د روښاني تحریک برخه او خدمتونه او پښتو ادب ته ددغه تحریک د پیروانو د قدرداني په منظور عزیزه افغانی پخپل دغه کتاب لیکلو سره یو لوی غنیمت کار کړیدی چې ډېر د ستاینې دی.

ددغه کتاب نوم «د روښان او پر روښانیانو لیکلي آثار» دی. ټول کتاب دعنوان، فهرست، مقدمو، متن او پایخوړ سره ۱۲۷ مخه دی چې پرعادي کاغذ په ټایپ لیکل سویدی. دکاغذ دمخ اوږدوالی او بر (۲۸ په ۲۲ سانتي متره) دی. کتاب لاجوردي وقایه لری او په منځ کې یې په زرین رنګ د کتاب عنوان او کښته څه کینې خواته د لیکوالې نوم حک سوی غوندی لیکلی دی.

د «د روښان او پر روښانیانو لیکلي آثار» د کتاب مطالعه د روښاني دورې د څیړونکو سره دا مرسته کوي چې د روښاني دورې او یا پر دغه دوره لیکل سوي کتابونه او مدارک وروښیي چې پر موضوع کوم کتابونه سته او چا لیکلي دي؛ کومه موضوع په کوم کتاب کې او چیرې ده. خصوصا که څوک د روښان او د هغه د پیروانو د آثارو په باره کښې معلومات غواړي نو دا کتاب ورته ډېر غنیمت لاربنود دی. ددی کتاب په ویلو سره څوک په اسانه پوهېږي چې له روښانیانو څخه چا او پر روښانیانو چا کوم کتابونه لیکلي او کوم ادبي آثار یې پرې ایښیدي؟ مخالفینو یې پر دوی څه ویلي دي؟ را وروسته نورو چا پر دوی او ددوی پر دوره څه لیکنې کړي دي؟

محترمه لیکواله د کتاب په مقدمه کې خپل دغه زیار نامکمل بولي او د عذر په شکل لیکي چې «په افغانستان کې پر روښانی تحریک ډیرې لیکنې شویدي چې ما پخپله لیدلی او لوستې وې خو اوس مې هغو ته په افغانستان کې د روس د جګړې په وجه دسترسی نسته». لکه د هرې موضوع څېړنه چې د وخت په تېریدو سره نور کار هم غواړي کیدای سي یا خپله محترمه لیکواله څه ولیکی او هغه معلومات پر ورزیات کړي چی دحالنامی د تحقیق څخه یې ترلاسه کړیدی او یا نور مینه وال پوهان دا نیمګړتیا پوره کړي.

څرنګه چې محترمه عزیزه افغانی د پښتو ادب مسلکي کارپوه ده او خصوصا پر روښانیانو یې ددې کتاب ترلیکلو پخوا هم د ماسټرۍ په سویه تحقیق کړی دی نو ددې دغه صلاحیتونه ستاسو په وړاندې د پروت کتاب لیکل او دا فهرست جوړول نور کره کوي. معلومیږي عزیزه افغانی خور دغه کتاب چې ستاسې په وړاندې پروت دی د پېښور پوهنتون د پښتو څانګې څخه د خپل ایمفل ډګري لپاره لیکلی دی. هغې ددی کتاب په لیکلو کې ډېر زیار ایستلی دی او اکثره فهرست سوي کتابونه یې پخپله لیدلي او لوستي دي. ددی په قول د کتابونو په یو ګدام کې چې په زرو کتابونه سر پر سر په دوړو کې پراته وي ، د خپلې خوښې د کتابونو پیدا کول زړه چاودون دی.

عزیزه خور نه یوازې د روښاني دورې یا پر دې دورې د لیکلي کتابونو غنیمت فهرست وړاندې کوي او هغوی راپیژني، بلکه یو بل ډېر مهم کار یې هم ورسره کړیدی او هغه دا چې د هر کتاب د محتویات په باره کې یې هم په لنډو څه لیکلي دي. اکثره ماخذونه یې سرتر پایه په ډېر غور او انتقادي نظر لوستي دي او بیا یې نخوړ په څو کرښو کې و لوستونکي ته وړاندې کړیدی. د هر کتاب فکر، منځپانګه یې او د هغه پر کره والي او یا کمزوري یې خپل محققانه نظر هم ورکړیدی او د خپل نظر په ملاتړ یې مؤخذونه هم راوړیدی. په دې ډول دا کتاب د روښاني دورې د لیکوالانو وچه تذکره او معرفي نده بلکه لنډه ارزونه یې هم ده. په ډېرو ځایو کې د یوه لیکوال او یا کتاب د موضوع پر سر د نورو علماؤ نظر را اخلي، سره پرتله کوي یې، نقد پر کوي او بیا خپل نظر پر قایموي چې دا کار پوره مسلکي پوهه، حوصله او ډېره علمي خواري غواړي چې عزیزې خور کړی او ددې کتاب اهمیت یې نور هم ورډېر کړیدی. د مثال په ډول دا د (خیرالبیان تنقیدي مطالعه) کتاب داسې

معرفی کوي: «دا یو تنقیدي اثر دی چې لیکونکی یې ښاغلی قلندر مومند صاحب دی او خپل والد محترم ته یې منسوب کړیدی. په ۱۹۸۸ کې کوهات روډ پیښورچاپځي خپور کړیدی. کتاب د مقدمې، اشارو او ضمیمو سره ټول ۳۲۲ مخه دی. د کتاب لیکونکی لیکي چې دا خیرالبیان نه د کابل عکسي نسخه ده او نه د پېښور چاپي نسخه ده بلکه له دغو دواړو نه اخذ شوی یو دریم قرائت دی چې زما د تحقیق مطابق اصل خیر البیان دی».

لیکونکي روښاني تحریک او ادب په پوره ډول څیړلی دی او خپلې رایې او نظریې یې وړاندې کړیدي. په کتاب کې ډېرې نوې خبرې دي، چې ببل بحث غواړي چې یوه د هغو څخه داده چې هغه ناروا الزامونه چې د اخوند درویزه صاحب لخوا پر بایزید روښان باندې تړل سویدي قلندر صاحب دا کار په مخزن کې د ورستیو خلکو لاس وهنه ګڼلې ده او په دې ډول یې پیربابا او اخوند درویزه تر یوې اندازې سپین کړیدي (عزیزه افغانی، پایځوړ). عزیزې خور پخپل دغه کتاب کې چې ستاسو مخته دی د هر لیکوال معرفي تقریبا همدغسې کړیده .

ماته ددغه څېړنیز کتاب اخیري نسخه چې زه یې تاسو ته پېژند ګلوي کوم په لاس نده راغلې. اخیری اصلاح سوې نسخه یې د پېښور پوهنتون د پښتو څانګې په کتابتون کې ده؛ زما لاسته تراخیري کتو دمخه د ټایپ سوې اصل کاربوني کاپي راغلیده چې یو شمېر ټایپستي غلطۍ لري. زه شخصا د پیښور پوهنتون پښتو څانګی ته ورغلم او له مشره مي یې وغوښته چې د کتاب اصلی نسخه راښکاره کړی چې ددغه نسخی سره یې مقابله کړم خو لاسته رانغله.

دلیکلو په وخت کې ټایپست ځیني لیکلې تیروتنې کړیدي چې ځیني یې لیکوالې پخپل قلم اصلاح کړیدي مثلا د کتاب د ۲۰ مخ په پایځوړ کې لیکي: «د تفصیل لپاره وګورئ (روښانی رساله) - سریزه د ښاغلي رشتین لیکنه». خو لیکوالې د رشتین د ټایپ سوې کلیمی پر سر (بختانی) لیکلی او هغه یې پخپل خودکار قلم اصلاح کړیدی. پدې ډول ټایپي غلطۍ ځای پرځای لیکوالې پخپل قلم سمې کړیدي خو څه لا پکښې پاته دي. ښایي په اخیري نسخه کې دغه قلم خوردګي نه وي او ټایپست یا مؤلفې اصلاح کړی وي. متأسفانه اخیره نسخه لاسته رانغله. هیله ده دا کار یو بل څوک وکړي او یا یې عزیزه خور د نورو علمي زیاتونو سره بیا د ادب مینانو ته وړاندې کړي.

یو څه ټایپی اصلاحات د چاپ دوخت ټایپست پخپل طبیعت هم کړیدي چی ځینی یې ګټور او ځینی نه وه. یو څه یې بیرته ما دلیکوالی لیکلی شکل ته واړول. خو هغه می چي مطلب یې نه خراباوه پریښوول.

په کتاب کې ځینې داسی نواقص هم سته چې په لیکوالی او پوهنتون اړه لری او یادول یې ضرور دي خو په هیڅ وجه د کتاب اهمیت نه کموي؛ که نه وای ښه به وای. مثلا د کتاب د لیکلو نېټه نده ذکر سوې. څوک نه پوهېږي چې دا کله لیکل سویدي خو له مقدمې یې دومره څرګندېږي چې د کتاب د لیکلو په وخت کی روسان په افغانستان کی وه. دمعلومات مطابق په ۱۹۸۹م کې لیکل سویدی. بله ستونزه داده چې د کتابونو معرفي یو ځانګړی ترتیب نلري. مثلا د شاعرانو او لیکوالانو تذکره د الفباء په ترتیب نده راغلې یا بل داسې ردیف ندی ورته اېښوول سوی چې مطلوب لیکوال په اسانه پیدا اسي.

د پښتو علمي او څېړونکې ستې (لکه عزیزه افغانی) خو زموږ په نارینو کې د ګوتو په شمار دي، ښځینه طبقه خو ځانته خبره ده. له بده مرغه، په هر اړودوړ او جنګ کې کمزوره خلک تر پښو ډېر لاندې او قرباني کېږي. که څه هم په تیرو دېرشو کالو کې د روس، امریکا او زموږ دګاونډیانو لخوا په تحمیل سوي ورانونکي جنګونو کې زموږ نارینه هم ډېر وځوریدل خو څرنګه چې ښځه زموږ په ټولنه کې کمزوره ده نوځکه یې د نارینو په نسبت تکلیفونه هم ډېر ګاللی دي. تر ټولو لوی تکلیف یې دادی چې دعلم دحصول او دهغه د انتقال په لار کې ډېر خنډونه ورته ایجاد سول او دجاهلیت دزماني ټولنیزشرایط پر مسلط دي. د هېواد په اوسنیو شرایطو کې د

بایزید روښان یادونه، دمعاشرې اصلاح او د استعمار او ظلم په مقابل کې دهغه د بې امانه مبارزې ذکر یو پرځای عمل ګڼم. په دغه یاد، دادی تاسې د پښتو ادب مینانو ته «د روښان او پر روښانیانو لیکلي آثار» کتاب درپېژنم. دکتاب لیکونکې(عزیزه افغاني) ته ددغه علمي اثر د لیکلو مبارکي وایم او دعاء کوم چې زموږ د هېواد په اوسني پریشانه حالت کې چې پښتانه د ډېرو لېوانو په منځ کې راګیر دي دا ډول علمي شخصیتونه خدای (ج) تر ډېره ولري.

آمین یا رب العلمین.

**دکتور فاروق أعظم**
لندن- اکتوبر ۲۰۰۲م

## ماخذونه


انصاري، بایزید، ۱۹۲۷، خیرالبیان، پښتو اکیډمي، پېښور یونیورسټي، پېښور، پاکستان
اخوند درویزه، مخزن الاسلام، ۱۹۲۹، پښتو اکیډمي، پېښور یونیورسټی، پېښور، پاکستان
بخشی، طبقات اکبری، سورج ګپتا لمیټډ، کلکته
بریکوټی، شیرافضل خان، بایزید انصاري(پیر روخان)، ملت ایجوکیشن پرنټرز، لاهور، پاکستان
ډپټی حیات محمدخان، تاریخ حیات افغاني
کرګر، محمد اکبر، ۲۰۰۲، په حالنامه کې د بایزید روښان عرفاني او فلسفي څېره، دویم چاپ، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور

# روښان
# او پر روښانیانو لیکلي آثار
(یوه تحقیقی مقاله)

لیکونکې:
عزیزه افغاني

## سرلیکونه

| موضوع | مخ |
| --- | --- |


- لومړی خبرې
- بایزید روښان او دهغه لیکلی اثار
- دبایزید روښان د اراتمندانو او پیروانو لیکنی
- هغه لیکنی او چاپی اثار چي پر روښانی تحریک باندی په پښتو لیکلی شوی دی
- هغه لیکلی او چاپی اثار چي پر روښانی تحریک باندی په اردو لیکل سویدی
- هغه مجلې او ورځپاڼی چي د روښانی تحریک په باره کښې دمضمونو لرونکی دي
- هغه چاپی لیکنی چي د روښانیانو په باره کښې په نورو ژبو لیکلی شوی دی.

بسم الله الرحمن الرحم

# څو خبرې

څه موده ترمخه ما پر روښانیانو تحقیق کاوه. په دې وخت کې زه له یو لړ ستونزو سره مخامخ شوم، چې هغه د کتابونو پیدا کول وو. د یوې ودانۍ د ودانولو لپاره په کار ده، چې مواد موجود وي، نو زه مجبوره شوم چې لومړی پر دې تحقیق وکړم چې کومې لیکنې چې پر روښاني تحریك لیکل شوي دي، معرفي کړم. لکه څنګه چې زه ورته اړه وم، کېدای شي چې د نورو پلټونکو هم په ښه راشي. له بلې خوا په ټوله نړۍ کې د هغو موضوعاتو لپاره چې د تحقیق وړ وي، کتابښود موجودي وي چې د تحقیق کوونکي ستونزې تر یوه حده په حل شي.

په دې مقاله کې ما تراوسه کوښښ کړی دی، چې ټول هغه چاپي آثار چې پر روښانیانو لیکل شوي دي (پښتو، اردو، دري او د نورو ژبو) معرفي کړم، خو هغه متل دی چې وایي "علم دریاب دی" څومره چې ما په دې لار کې پلټنه کوله، هغومره موضوع نوره پراخېدله. ډېر داسې کتابونه ما وپېژندل، چې زما د مقالې موضوع وه، خو له بده مرغه هغه کتابونه یا دلته نه ول او یا که ول هم نایاب ول، چې زما و لاس ته نه دي راغلي.

په افغانستان کې پر روښاني تحریك ډېرې لیکنې شوي دي، چې ما په خپله لوستي ول او یا مې لیدلي وې، خو اوس هغه ته په افغانستان کې د روس د جګړې له لامله لاسرسی نشته.

دا مقاله ما ته په پېیل کې دومره ګرانه نه ښکارېده، خو وروسته له ځینو ستونزو سره مخامخ شوم چې یو له هغو څخه زموږ کتابتونونه (لایبریرۍ) وه، چې د کتابتون پر معیاري اصولو نه وه برابر. د یوه کتاب د موندلو لپاره به مې په کتابتونونو کې د امبار په شان له دوړو ډك کتابونه پرله اړول. کله به مې خپل مطلوب کتاب موند او کله به مې د ټولې ورځې خواري اوبو یوړه.

دا مقاله پر روښانیانو باندې له تحقیق کوونکي سره دا مرسته کوي، چې کتابونه ورپه ګوته کوي، چې کومه موضوع په کوم کتاب کې ده او که څوك د روښان او د هغه د پېروانو د آثارو په اړه معلومات غواړي، دا مقاله مرسته ورسره کولای شي.

ددې مقالې موضوع ده د روښان آثار، د هغه د پیرانو آثار او پر روښانیانو باندې د نورو چاپي آثار پېژندګلو.

**عزیزه افغاني**

# سریزه

بایزید روښان د لسمې پېړۍ یو لوی سیاسي، روحاني او ادبي شخصیت و چې په لیکنو او کتابونو کې د بازید، بایزید روښان، بایزید انصاري، پیر روښان، پیر تاریك او مسکین په نومونو یاد شوی دی. بایزید د پنجاب په جلندر کې پر 931هـ ق کې زېږېدلی دی. پلار یې عبدالله نومېده؛ د دوی کورنۍ اصلاً د وزیرستان له اورمړو څخه وه. بایزید روښان یو ذهین او حساس سړی و چې په څلورو ژبو (پښتو، فارسي، عربي او هندي) یې لیك و لوست کاوه. خپلو پیروانو ته یې د معرفت او سلوك درس ورکاوه. نه یوازې یې د خپل ډول تصوف پېچلې فلسفه په خلکو کې ترویج کړه، بلکې په دې فلسفه کې یې لوی لوی مبلغین هم وروزل. په دغه برخه کې ارزښتناك دیوانونه او ادبي آثار ولیکل شول، چې تراوسه موږ ته راپاته او د پښتو ادب لپاره پوره غنیمت دی.

په تصوف کې د بایزید روښان خاص دریځ او د وحدت الوجود پر فلسفه دده پوخ یقین، دی یو داسې څوك ګرځولی و چې هم یې طرفداران ډېر ول او هم یې مخالفین. دا چې څوك پر حق وه، دا یوازې علیم بذات الصدور حق ته معلومه ده، خو یوه خبره د انکار نه ده چې پښتو ادب ته ده او دده پیروانو د قدر وړ خدمتونه کړي دي. په عامو پښتنو کې د خپلې فلسفې د خپرولو لپاره بایزید روښان او دده پیروانو په پښتو ژبه په یو خاص سبک، چې مسجع نثر ورته ویلای شو، لیکنې وکړې. دده مخالفین هم مجبور ول، چې په عامو پښتنو کې دده د تعلیماتو د تخریب لپاره په پښتو ژبه همهغه سبك، چې بایزید اختیار کړی و، ډېر څه ولیکي. په دې ډول دغه فلسفي مخالفت یو ادبي او فرهنګي رقابت رامنځ ته کړ او دا رنګه یې د پښتو ژبې ادبي پانګه درنه کړه.

د بایزید روښان دغه متنازع فیه شخصیت او دده تعلیمات ددې باعث شوي دي چې پر ده ډېرې لیکنې وشي. ځینې یې مذهبي مصلح او ځینې یې بدعتي بولي. ځینې یې روښان پیر او ځینې یې بیا پیر تاریك خطابوي. ځینې یې د پښتنو یو قهرمان بولي چې د مغولو له مغلوالې سره یوه پېړۍ وجنګېد خو ځینې بیا ددغه راز تحلیل سره موافق نه دي. حتی روسي مستشرقینو او په افغانستان کې روس نوازلیکوالانو په سیمه کې د روسي ښکېلاك د لومې د غوړولو او په هغه کې ددې قامونو د راګیرولو په سلسله کې تل داکوښښ کړی دی چې د بآیزید اصلي څېره مسخ او هغه خلاف د واقعیت یو سوسیالست او په هجري لسمه پېړۍ کې د اشتراکیت عملبردار وښیي.

بایزید روښان د خپل سیاسي او فلسفي تحریك په یو پړاو کې پر 980هـ ق کې وفات شو. که څه هم سیاسي مبآرزې یې دده د اولاد او پیروانو له خوا تر یوې پېړۍ پورې دوام درود، خو ادبي کاروان یې دومره پیاوړی او ګړندی روان دی چې تر ډېره وخته به یې جرس د علاقه مندانو غوږونو ته رسي.

عزیزه افغاني

# خیـــــر الـبـیـا ن

د بایزید روښان مشهور اثر " خیر البیان" دی چې د پښتو بشپړ لومړی کتاب ګڼل کېږي.

خیـر البیـان د زمـانې نـاوړو او د روښـانیانو مخـالفینو لـه منځـه وړی او ورك و. یـواځینی نسـخه یـې د اروابښـاد مولانـا عبـدالقادر پـه زیـار او زحمـت د جرمنـي پـه یـو وړوکـي پوهنتـون "تیـوینګن" پـه کتابخانـه کـې وموندل شـوه، چې په دې باره کې ښاغلی حبیبي داسې لیکي:

" دا نسـخه پنځـه وېشـت 25 کالـه دمخـه پـه لنـدن کـې د سـر ډیـن سـن راس انګلیسـي مستشـرق څخـه وه چـې لـومړی د نـاروې ختـیځ پوهانـد مارګنسـټرن د هنـد د لرغـوني آثـارو پـه مجلـه (11 ګڼـه، ص 366 بمبـی 1949م) کـې یـوه مقالـه پـر وکښـله. دا نسـخه تـر دویـم جهـاني جنـګ وروسـته د جرمنـي د ټوبنګن د پوهنتـون پـه کتابخانـه کـې پیـدا شـوه او 1342ل کـال (1962م) د کابـل د اسـتقلال پـه جشـن کـې د جرمنـي سـفارت پـه ننـدارتون کـې ایښـې او مـا لیـدلې وه او تـر دغـه دمخـه یـې یـوه عکسـي (مـایکروفلم) نسـخه هـم ښـاغلي بېنـوا لاس تـه راوړې وه چـې د هغـه د رویـه دغـه اوسـنۍ عکسـي نسـخه چـاپېږي.[1]" (پـه سـریزه کـې یـې د پوهانـد حبیبـي صـاحب، ښـاغلي بېنـوا او پوهانـد رشاد مقالې خپرې شوي دي). روښانیانو وخیر البیان ته ډېره عقیده درلوده، د حالنامې مؤلف لیکي:

" کلـه چـې پـر بآیزیـد بانـدې د سـر درد غلبـه وکـړه او د وفـات وخـت یـې رانـږدې شـو، مریـدانو یـې ورتـه وویـل چـې وخـت اخـر دی، تاسـو یـو څـه ووایـئ. پیـر روښـان وویـل، چـې زمـا پـه زړه کـې چـې د الله د طـرف نـه څـه الهـام شـوی دی، هغـه مې پـه خیـر البیـان کـې لیکلـي دي، بخـل مـې نـه دی پکـې کـړی، نبـي تـه او د هغـه وارث تـه دا حکـم دی چې څه چې دربانـدې نـازل شوي دي، دا ورسوه."

او دا هـم د حالنـامې د مؤلـف روایـت دی، چـې کلـه چـې بایزیـد روښـان خپـل خلیفـه (مـودود) کنـدهار تـه واسـتاوه، هلتـه پـه کاسـي قبیلـه کـې بـه یـې ورتـه د نارینـه او ښـځو پـه منځکـې اوچـت ځـای جـوړ کـړ. خلیفـه بـه پـر هغـه ځـای کېښناسـت او خیـر البیـان او مقصـود المـؤمنین بـه یـې ورتـه وایـه او ورتـه معنـی کـاوه بـه یـې او نارینـه او ښـځو بـه اورېده.

په بل ځای کې د حالنامې مؤلف لیکي چې:

" د پیـر روښـان زامـن چـې لـه دښـمن سـره پـه جګـړه کـې مـاتې وکـړه، پـه دې وخـت کـې د دوی نـه چرتـه پـه لار کـې خیـر البیـان پـاتې شـوی و. پـه دې سـخت وختکـې دوی معطـل شـول چـې خیـر البیـان راورسـېد او هلـه بیـا مـخ کـې روان شول". داسې ډېرې واقعې دي چې د هغو نه د خیر البیان قدر او اهمیت ښکاري.

بایزیـد روښـان د خیـر البیـان پـه 296مـخ کـې کښـلي دي، چـې څـوك چـې خیـر البیـان لـولي، خـدای بـه هغـه تـه څلـور ژبـې وښـیي؛ یعنـې خیـر البئـان پـه څلـورو ژبـو لیکـل شـوی دی (پښـتو، فارسـي، عربـي او هنـدي). خـو پـه دې نسـخه کـې چـې مـوږ تـه پـه لاس راغلـې ده یـواځې د سـر پـه صـفحو کـې هنـدي ورسـره ده او تـر څـوارلسـو صـفحو وروسـته بیا درې واړه ژبې پاتې‌کېږي، یواځې پښتو یې تر اخره رسېږي.

ددې نـه ښـکاري چـې کاتـب خپـل تصـرف پکـې کـړی دی. ددې نسـخې د کاتـب نـوم "فقیـر بهـار تـوي" دی او د لیکلـو کـال یـې 1061هجـري دی. پـه خیـر البیـان کـې عربـي عبـارت او د قـرآن کـریم ایاتونـه، حدیثونـه او د عالمـانو مقـولې راوړل شـوي دي. دا آیاتونـه او احادیـث کلـه کلـه مسـتند او ځینـې وخـت ضـعیفه دي. عربـي یـې ماتـه ګـوډه ده. کـه چېرې بایزیـد عربـي نـه وای لیکلـی، کېـدای شـو چـې مخـالفین یـې دومـره ډېـر نـه وای او بـل دده مریـدانو لـه خپـل پیـر سـره ډېـر اخـلاص درلـود. دده ماتـه ګـوډه عربـي یـې هـم بـده نـه محسوسـوله او یـا بـه دا غلطـي ناپوهـه کاتبـانو کړې وي.

محترم قاسمي صاحب د خیر البیان په مقدمه کې لیکي:

" د اهمیـت وړ د خیـر البیـان د پښـتو حصـه ده. لکـه څرنګـه چـې مـو دمخـه عـرض کـړی دی، خیـر البیـان د پښـتو ادب د موجـوده ذخیـرې لـه ټولـو څخـه اول کتـاب دی او د پښـتو د تېـرو درې سـوو کـالو د ذخیـرې سـر ددې کتـاب څخـه شـروع شـوی دی. دا خیـر البیـان و، چـې اخـون درویـزه یـې پـه دې امـاده کـړو چـې خپـل مخـزن ولیکـي او د پښـتو د دیني ادب نور کتابونه د مخزن دپسه او اکثره د مخزن په سیالۍ او یا د هغه په پیروۍ لیکل شوي دي."

پـه شـعري ادب کـې د خیـر البیـان مضـمون ارزانـي ادا کـړو او د ارزانـي، مـرزا او دولـت شـاعري د پښـتو شـعر تـه دومـره ترقـي او غلغلـه ورکـړه چـې خوشـال خـان دا خپلـه بهـادري ګڼـي او پـه دې فخـر کـوي چـې مـا پـه خپـل شـعر ددې شـاعرانو شـهرت ختـم کـړو او نـوم مـې یـې ورك کـړو. ددې نـه مـوږ انـدازه لګـولای شـو چـې کـه خیـر البیـان نـه وای نـو نـه بـهٔ مخـزن و او نـه ارزانـي او نـه خوشـحال. او اخـون درویـزه چـې نـور کتابونـه لیکلـي دي، هـم یـې د بایزیـد د نـورو کتابونو په خواب کې لیکلي دي.[2]"

د خیـر البیـان سـبك مسـجع او پـه پښـتو کـې ددې سـبك مؤسـس پیـر روښـان دی چـې وروسـته بیـا دده پیروانـو او مخـالینو رابـج کـړ. بایزیـد ددې سـبك خوښـول یـو الهـام بـولي او د قـرآن عظـیم الشـان د سـورت رحمـن (فبـای الاء

---

[1] د کابل پښتو ټولنې د بایزید روښان د نړیوال سیمینار په ویاړ د خیرالبیان عکسي نسخه چاپ کړې ده.

[2] د پېښور چاپ، خیر البیان مقدمه، 61 مخ

ربکما تکذبن) پر وزن او قافیه لیکلی دی.
د خیر البیان نمونه:

مرګ به ورشي و سړي وته ناګهان
نشته د سړي په دنیا تل د تله مقام

یادوې دې سرایونه، کورونه، ځایونه، باغونه او هغه ونې چې سایه دارې مېوې دارې دي. عیان ګوره هسې ورانېږي د هرې زمانې ادمیان لکه وران شو د وړاندینۍ زمانې کسان.

په کومه چاره بۀ سړی پنا مومي د نوس له بدۍ د شیطان
لار مکر راوښیه و ماته په خپل فرمان او سبحان

او بایزید! هر چې د نوس له بدۍ پناه غواي تروئی بویه چې د نوس هوس د عقل په رنړا فهم لري. د ننغتي د مشقت په تیغ دي ووژعیان[3].

✸✸✸

## مقصود المؤمنین

مقصود المؤمنین د بایزید روښان اثر دی چې په عربي ژبۀ یې لیکلی دی او د دبستان مذاهب لیکوال هم ددې کتاب یادونه کړې ده: "مقوصد المؤمنین به عربی است.[4]"

بایزید دا کتاب د خپلو پیروانو لپاره چې په روښاني مسلك پوه شي او د خپل مشر زوی شیخ عمر په غوښتنه کښلی دی او ځای پر ځای د ولد عزیز په نوم یې خطاب ورته کړی دی. د مقصود المؤمنین په سریزه کې داسې کښل شوي دي:

" قال اصغر واعجز واضعف من امت محمد صلی الله علیه وسلم بایزید (بایزید) مسکین رحمة الله علیه بن عبدالله قاضی..." او بیا داسې دوام ورکوي، چې:

زما زوی شیخ عمر راته وویل چې که خوښه دې وي زما لپاره او د خپل نور زوزاد لپاره دې یو لارښود وکاږه چې قراني آیت، د نبیانو احادیث، د اولیاوو ویناوې او ستا خپل دلیلونه پکې وي. ما یې وینا ومنله او اراده مې وکړه چې د خپل علم او درك په پېمانه په یووېشتو څپرکو کې مفصل لارښود ورته وکاږم. د خدای په مرسته او مدد نوم مې "مقصود المؤمنین" پرې کېښود او لیکم به پکې له آیاتونو او حدیثونو سره سمې ویناوې ددې لپاره چې وې لولي، یاد یې کړي او عمل پرې وکړي مؤمنان او مؤمنانې.

د مقصود المؤمنین د لیکنې ډول دا دی چې ځای پر ځای یې قرآني آیاتونه، حدیثونه او د اولیاوو ویناوې او خپلې خبرې سره بېلې کړې دي. له قرآني آیاتونو سره یې "قوله تعالی، کما قال الله تعالی او کمال قال عزوجل لیکي. حدیثونو ته حدیث، قال النبي او نور کاږي او د نورو ویناوو سره یې د ویونکي نوم لیکي لکه "قال ابوالحسن" او نور. د ځان سره "قال بایزید مسکین رحمة الله علیه" یا "قال یا بني" او یا یواځې "یابني" لیکي. څو نمونې یې په لاندې ډول دي:

"ووې بایزید مسکین رحمت د خدای دې وي پر ده څوك چې قرآن لولي او عمل نه پرې کوي هغه په زړه کې له قرانه منکر دی.

ای زویه! پاك خدای مخلوقات پیدا کړي او انسان د توحید د علم او معرفت له کبله تر ټولو ښه دی.

ای زویه! په تحقیق لوی خدای انسان پیدا کړ، په مځکه یې خلیفه کړ او علم یې پرې ورزیات کړ.

ووی بایزید (رح) څوك چې عمل نه کوي او وعظ کوي په بل چا یې وعظ اغېزه نشي کولای. ای زویه په ټولو وختو کې خپلو ویناو او کړو ته ځار واوسه."

دا وې د مقصود المؤمنین څو نمونې[5].

## د "مقصود المؤمنین" قلمي نسخه

د مقصود المؤمنین دوې خطي نسخې موجودې وې چې یوه خطي نسخه یې د لاهور د مرحوم پروفیسور محمد شفیع په کتابتون کې وه. تر کرښو لاندې دري ژباړه هم لري، 90 پاڼې او 21 فصلونه لري.

بله نسخه یې د حیدر اباد دکن په اصفیه کتابتون کې خوندي ده چې په 1226ق هـ کې کښل شوې ده او بروکلمن یې هم نوم راوړی دی. یوه فوټو سټېټ کاپي یې د پېښور یونیورسټۍ د عربي ډیپارټمنټ له پروفیسر میر ولي سره ده[6].

د مقصود المؤمنین مطالب عرفاني او تصوفي او شرعي دي خو ژبه یې معیاري ادبي عربي نه ده. ډېرې

---

3 خیر البیان، 203 مخ
4 دبستان، 251 مخ
5 کابل مجله، د 1355 ش کال لسمه ګڼه، د حبیب الله رفیع مقاله.
6 روښانیان د مغولو تاریکیان

ګرامري ناوړې لري او داسې ښکاري چې ليکوال يې په عربي ګرامر لږ پوهېږي[7].

حبيب الله رفيع ليکي چې بېله دې دوو نسخو په افغانستان کې خو دسره د مقصود المؤمنين ځرك نه لګېده. نوموړی محقق ليکي چې څه موده وړاندې زما يو دوست ددې کتاب يوه نسخه له غزني څخه راوړه او ماته يې امانت راکړه چې دا نو د مقصود المؤمنين دريمه معلومه نسخه کېږي او په دې ډول يې پېژني:

دا نسخه 17/14 سانتي متره ده، چې 79 پاڼې لري. د خطاط نوم او د خطاطۍ کال يې نشته. متن يې په توره سياهۍ په نسخه ليك کښل شوی دی. سرليکونه يې په سره رنګ او په څو مخو کې يې چې پښتو ژباړه شته، هغه هم په سره ليك ده. دا نسخه د پيل د خوا بشپړه ده او په دې جملو پيلېږي:

"الحمدالله حق و احسن حمده بعدد کثير الاکثر... "

چې د کرښې دپاسه يې دري ژباړه او تر کرښې لاندې يې پښتو ژباړه راغلې ده. خو د نسخې د پای پاڼې يې نشته او د نسخې د جوړښت نه برېښي، چې نوره به خطاط نه وي ليکلې.

ددې نسخې يو لوی امتياز دا دی چې په ځينو پاڼو کې يې تر کرښو لاندې پښتو ژباړه هم شته او تراوسه دا پته نه وه چې مقصود المؤمنين دې پښتو ژباړه ولري. د پښتو ژباړې د جوړښت او ليکدود څخه يې دا هم ښکاري چې ښايي مقصود المؤمنين ته به په هاغه اوله مرحله کې د بايزيد روښان له خوا په خپله او يا دده د پيروانو په وسيله پښتو ژباړه کښل شوې وي، ځکه د ترجمې ژبه يې زړه او د خير البيان له متن سره اړخ لګوي. بل دا چې ليکدود يې روښاني دی او د پښتو غږونو د ځانګړيو تورو لپار، چې بايزيد روښان کوم نښې کړي، په هم هغه ډول دي.

مثال، متن: ... بعد الموت والاحمق من التبع نفسه و هويه و تمنی...

ترجمه: ... پس له مرګ او نادان هغه سړی دی چې پيروي د خپل ځان او د نوس او د ارزو....[8]

✸✸✸

## صراط التوحيد

د پير روښان بل اثر "صراط التوحيد" دی. دا کتاب په 178هـ ق کال په عربي او دري ژبهٔ ليکل شوی دی. د حالنامې د مؤلف وينا ده چې دا کتاب پير روښان د خليفه دولت په لاس اکبر پاچا ته استولی و او هغه د کتاب په ليدو ډېر خوشحاله شو او ويې ويل يې چې ما شيخ په پيرۍ ومانه او پير روښان ته يې سوغات ورکړ او خليفه ته يې هم تحفه ورکړه[9].

ددې کتاب يوه نسخه د پېښور د عجايب ګهر مهتمم ښاغلي عبدالشکور د پېښور د بالا ماڼۍ د فضل صمداني له کتابتون نه ترلاسه کړې او 1952م کال کې يې په 116 مخونو کې خپره کړې ده.

د کتاب په لومړۍ برخه کې خپل ژوند او د وړوکوالي حالات په دري ژبه ليکي، بيا يې خپل دعوت نامې و حاکمانو او پاچاهانو ته په عربي او بيا هم هغه متن په دري ژبه ليکلی دی[10] (په دې نسخه کې اکبر پاچا ته خطاب نشته).

دا چې ددې کتاب لومړي اته مخونه نشته، نو کېدای شي چې بله نسخه وموندل شي او په هغه کې وي او د مولانا قاسمي صاحب وينا ده کېدای شي چې دا کتاب به عام ليکل شوی وي او اکبر پاچا ته به صرف يوه نسخه لېږل شوی وي[11].

پاچجاهانو او اميرانو ته يې درې نصيحته او لارښوونې ليکلي دي چې هغه په دې ډول دي:

اول نصيحت: د عقل فضيلت او د معرفت مبادي او د خالق په قدرتونو کې تفکر.

دويم نصيحت: علم باطن او د پير کامل ضرورت او د اوامر او نواهي رعايت، د مرګ ياد او د تقوی لزوم، خوف و رجا.

دريم نصيحت: صراط مستقيم د انسان په خپل زړه او ځان کې دی، انسان بايد ځان تزکيه کړي. د نبي دعوت او د انبياء د خلفاوو دعوتو ته غوږ ونيسي او د توحيد په دارالسلام کې داخل شي. د مشرکانو او منافقانو له خويونو څخه ځان وژغوري. امر بالمعروف او نهی عن المنکر ته توجه وکړي او تل د خدای په

---

[7] د روښان ياد، د روښان پير عصر او دده غورځنګ، پوهاند عبدالحی حبيبي، 291 مخ.

[8] کابل مجله، د 1355 ش کال اتمه او لسمه ګڼه، د حبيب الله رفيع ليکنه.

[9] ای عزيز من بعد پير دستګير قدس سره خليفه دولت خان را با کتاب صراط التوحيد پيش اکبر پاچا فرستاد. چون خليفه پيش اکبر پاچا رفت و کتاب صراط المتوحيد پيش نمود، چون اکبر پاچا صراط التوحيد را ديد، فرمود که من شيخ را به پيری قبول کردم و هر خدمت که بفرمايد بجا ارم. (حالنامه، 282 مخ).

[10] نظری دارم سوی پادشاهان و اميران اين زمان که تا کدام پادشاه و امير باشد که کار دين با اخلاص بيان کند تا در ميان پادشاهان ديندار و دنيادار نامدار ګردد. (صراط التوحيد، 27 مخ).

[11] د خير البيان مقدمه، د پېښور چاپ، 48 مخ

خفي ذکر مشغول وي. له قربته وصلت ته سير وکړي او له وصلته وحدت ته ولاړ شي[12].

***

## فخر الطالبين

د بايزيد روښان ددې اثر اوس څرك نه لګېږي.

د حالنامې مؤلف ليکي، چې خليفه يوسف يې بدخشان ته واستاوه چې مرزا سليمان د هغه وخت مغولي حاکم ته د فخر الطالبين رساله يوسي. کله چې هلته ورسېد، مرزا سليمان دربار ته څو عالمان راوغوښتل. له خليفه سره يې بحث وکړ، تر بحث وروسته ميرزا سليمان د دوی دا غوښتنه ومنله او خليفه ته يې په ځواب کې ليك ورکړ او يو اس او پوستين يې هم د سوغات په ډول ورکړل[13].

په کاغذ کې يې ليکلي ول چې ما په خپلو مريدانو کې حساب کړي، چې څه خدمت دې وي ماته ووايه. خيال مې دی چې هلته درشم او په خدمت کې دې حاضر شم او خليفه ته يې هم يو اس وباښه.

***

## حالنامه

حالنامه د بايزيد روښان او روښانيانو د حال يو مشهور کتاب دی. د "دبستان مذاهب" مؤلف وايي چې پير روښان يو کتاب ليکلی و او خپل حال يې پکې بيان کړی و"[14].

حالنامه هم د بايزيد د نورو کتابونو په رنګ لږ موندل کېږي. ددې کتاب اصلي نسخه د عليګړ په سبحان الله کتابتون په (370_920 نمبر) کې خوندي ده او پېنځه سوه شپږ وېشت مخونه لري. ددې نسخې يو نقل د افغانستان له پښتو ټولنې سره دی چې د بايزيد انصاري د څلور سومې کاليزې د نړېوال سيمينار په وياړ يې د چاپ ژمنه (وعده) شوې وه او دوه نور نقله يې يو په پنجاب يونيورسټۍ او بل نقل يې د پېښور په پښتو اکاډيمۍ کې شته.

کتاب په فارسي ژبهٔ ليکل شوی دی[15]. په لومړۍ برخه کې يې د بايزيد انصاري د کورنۍ حالات او دده د وړوکوالي دوره په خورا مفصل ډول ليکل شوې ده او په دويمه برخه کې يې د بايزيد سفر و کندهار ته او وروسته تر هغه يې حالات بدلېدل او د پېرۍ اعلام او د تصوف د اتو مقامونو په پوړيو باندې د سکونت مقام ته رسېدل يې په خورا مشرح ډول بيان کړي دي. خلکو ته د چهلو په واسطه اته مقامات ښيل او د پښتنو نورو سيمو ته خپل خليفه ګان او تصنيفات استول[16] او په مقابل کې د خلکو او دده د خپل پلار مخالفت راپارېدل او د سيمې د عالمانو او حاکمانو سره د بايزيد مناظرې او مناقشې په دې برخه کې شامل دي[17].

په دريېمه حصه کې يې له مغولو او محلي خلکو سره د بايزيد روښان د اولاد مبارزه او جنګونه په مفصل ډول ليکلي دي.

د کتاب دويمه برخه کوم چې مخکې يې هم يادونه وشوه، د بايزيد د وينا طرز او انداز دی. د هرې مسئلې وروسته د ثبوت لپاره آيت او احاديث وړاندې کوي چې د کتاب نورې درې برخې دا ډول نه دي ليکل شوي. د بآيزيد ويناوې په خپله دده د خولې نه دي، بلکې مؤلف يې د بايزيد د خولې ليکي. ځای پر ځای وايي:" پير دستګير فرمود".

زما (ليکونکي) په نظر دغه دويمه برخه د بايزيد روښان خپل اثر (اصلي حالنامه) ده چې مؤلف ترتيب ورکړی دی. ددې خبرې ملاتړ د حالنامې لومړی مخ په ښه ډول کوي. ليکي:

"وروسته له دې فقير حقير علي محمد بن ابابکر قندهاري چې د بايزيد د خاندان مريد او خاص خادم دی، عرض کوي چې ځينو مخلصو دوستانو چه د هغو خاطر ما پر ځان واجب ګڼی دې فقير ته وويل چه د پير دستګير (بايزيد روښان) د حالنامې په عبارت کې د زمانې په تېرېدو او د ډېر نقل کولو په واسطه تغير او تبډيل راغلی دی او صحت يې په سقامت بدل شوی دی او علاوه ددې د هغه د اولاد سوانح او د ژوند حالات لکه د هغه توره اخيستل و پېښور او تيرا ته او داسې نور واقعات چې په تحرير کې نه دي راغلي او يا ددې نسخې شريفې نه زائل شوي دي. ستاسو ذکی طبع چې د معاني او ابوابو کيلي او د پټو اسرارو کشف کوونکې ده، بعيده نه ده چې ستاسو د عميق فکر په واسطه دا تصحيح شي. د خدای په توکل دا اميد دی چې په اراتمندانو کې وشمېرل شي. وما توفيق الا بالله العلی العظيم.

او څه چې مې په دې کتاب کې ليدلي او يا مې د معتبرو ناقلانو نه اورېدلي ول، هغه مې په ساده ژبه قلم بند کړه او د تکلف او عبآرت ارايۍ څخه مې بآلکل خلاف وليکل څو د مبتديانو او متعلمانو لپاره پوره ذهن نشين

---

12 د پښتو ادبياتو تاريخ، دويم ټوك، 282 مخ

13

14 دبستان مذاهب، 251 مخ

15 ليکونکې د حالنامې په ترجمه او تحقيق لګيا ده. که ژوند و د پي.ايچ.ډي د مقالې لپاره به يې د لوستونکيو په خدمت کې وړاندې کړم.

16 حالنامه، 275 مخ

17 حالنامه، 139 او 249 مخ

شي او ثواب يې نقل کوونکي ته ورسېږي. الثواب من عندالله والله عنده حسن الثواب والسلام[18]. "

له پورتني اقتباس څخه دا په ښه ډول څرګندېږي، چې کومه حالنامه چې زموږ په وړاندې ده، دا اصلي حالنامه نه ده بلکې د اصلي حالنامې دويم چاپ دی، چې تر بآيزيد روښان اويا کاله وروسته د اورنګزېب په زمانه کې د ابابکر قندهاري زوی علي محمد له سره ترتيب ورکړی دی او خپلې زياتونې يې پکې کړې دي. کېدای شي، چې چېرته اصلي حالنامه هم وموندل شي.

په حالنامه کې واقعات په مفصل ډول ليکل شوي دي خو د واقعاتو ترمنځ يې تسلسل نشته. تاريخ خو يې نه ليکي او که يې ليکي هم صحيح نه وي.

په دې اثر کې دا هم لوی کمی دی چې د هغو جنګونو تفصيلات نه لري چې ده د خپل ژوند په وروستيو دوه نيمو کلونو کې له غليمانو سره کړي دي[19].

دا چې بايزيد خپلو منکرانو ته منافقان او مشرکان ويل[20] د مؤلف هم د خپل مرشد دا فکر په سر کې و چې د روښانيانو هره ناروا به يې پر غېر روښانيانو روا بلله. مولانا قاسمي صاحب ليکي، چې د کتاب (حالنامه) د مطلعې دپسه د بايزيد په باب کې د هره قسمه بدګمانۍ کول روا دي. زما په خيال کونټ نوير چې په خپل کتاب (قيصر اکبر) کې څه خوشې خبرې ليکلي دي، هغه د حالنامې برکت دی[21].

په حالنامه کې له مغولو سره د روښانيانو جګړې او مبارزې په پوره ډول ذکر شوي نه دي بلکې تر مغولو يې له پښتنو سره د جګړو ذکر ډېر کړی دی. علت دا و چې د مؤلف پلار د جهانګير په وخت کې له الله داد )رشيد خان( سره دکن ته تللی و او په مغولي دربآر کې د عهدې خاوند و[22]، ځکه يې له مغولو سره د خپل مرشد د اختلاف نه صرف نظر کړی و. په دې باره کې زموږ محترم محققين داسې نظر لري:

مولانا قاسمي صاحب ليکي:

"مؤلف يې مريد دی، ځکه په بيان کې د خپل پير پره هم ضرور کوي او هره وينا يې د سند په ډول پېش کول ګران کار دی.[23]"

عبدالاکبر خان اکبر صاحب ليکي:

" دا کتاب په فارسي کې څه حصه د بايزيد د ژوندانه د خپل لاس ليکلی کتاب دی او علي محمد مخلص دوباره، سره د اضافو بيا ليکلی دی. د کتاب په لومړۍ برخه کې د بايزيد د ژوند حالات دي. ددې نه علاوه د هغه د اولاد د جلال، شيخ عمر، خيرالدين، عبدالقادر، احداد او نورو جنګونو حالات هم مفصل درج دي )البته د مغولو چې کوم ځای ذکر راغلی دی، هغلته علي محمد د ډېر اخلاص نه کار اخيستی دی ولې بيا هم حقايق نه پټېږي، په څه شان څرګندېږي... ولې لويه خامي پکې دا ده چې د واقعاتو سن او تاريخ پکې ډېر کم، بکې د نشت برابر دی. ډېر تجسس او تحقيق غواړي، واقعات هم مسلسل نه دي د حالاتو په منځ کې منظوم کلام شروع شي. يوه خبره به پرېږدي، بلې ته به ودانګي[24].

په پای کی زه د حالنامې د وروستي مؤلف )علي محمد د ابابکر قندهاري زوی لنډه پېژندنه ضروري ګڼم:

علي محمد د ابابکر قندهاري زوی، د پوره علم خاوند و. دی د حالنامې په لومړي مخ کې خپل ځان داسې معرفي کوي:

"بيان سبب تاليف کتاب اين فقير حقير علی محمد ابن ابابکر قندهاری مريد و خادم خاندان بايزيد انصار، قدس الله سره العزيز ميګويد...."

د علي محمد ژبه روانه او سليسه ده. دی شاعر هم و، په حالنامه کې يې په نظم او نثر دواړو کې خپله طبع ازمايلې ده. د وينا خوند او ښهٔ ثبوت لپاره يې خپل او د فارسي شاعرانو اشعار راوړي دي. د مؤلف پلار ابابکر د ځوانۍ په شروع کې د جلال الدين و دربار ته راغلی دی[25].

د حالنامې د بيان نه ښکاري، چې د مؤلف پلار د ډېر اخلاص په وجه ځان د بايزيد د کورنۍ مريی کړی و. د کور ټول خدمت يې کاوه او تر سر تېر و. د جلال الدين د حکومت نه بيا د روښاني تحريک تر زواله مؤلف له پېښو او واقعو سره سم د خپل پلار يادونه کوي[26].

---

[18] د حالنامې ټيپ شوې نسخه، لومړی مخ

[19] د روښان ياد، 169 مخ. د حبيب الله رفيع مقاله، چې د پښتو مجلې دويم کال د 4 ګڼې په حواله ليکي.

[20] خير البيان، مقدمه، د پېښور چاپ، 75 مخ

[21] ايضاً، 50 مخ

[22]

[23] د خير البيان مقدمه، د پېښور چاپ، 50 مخ

[24] روښانيان د مغولو تاريکيان، عبدالاکبر خان اکبر، 15 مخ

[25] ای عزيز من پدر فقير تازه به بلاغت رسيده بود که در خدمت جلال الدين جيو مشرف ګشت و به خدمت خاص خود ممتاز ګردانيد. حالنامه 427 مخ.

)فقير د مؤلف خپل ځان ته اشاره ده، ټول روښانيان ځان ته فقير وايي.(

[26] اخر مرزا خان جيو فرمود با ايشان خواهم ګفت که ابابکر سپاسالار ماست و صاحب قبله است. اخر پدر فقير ګفت کاشکی در اين سخن بهبود خاندان پير دستګير باشد..

کله چې په روښاني کورنۍ کې اختلاف پیدا شو، احداد او الهداد )رشید خان( یو د بل مخالف شول، د مؤلف پلار او میرزا خان انصاري د الهداد پر خوا شول، چې وروسته الهداد ته په دکن کې لوی منصب ورکړ شو)[27](.

✸✸✸

## رســـــالـه غوثـیـه

د کابل د خطي نسخو په کتابتون کې څو خطي نسخې پیدا شوې چې یو ځای سره رانغښتې شوي دي. په هغه کې یوه خطي نسخه د رساله غوثیه په نامه ده. خدای بخښلی حبیبي صاحب دغه رساله د پیر روښان اثر ګڼي او لیکي:

" د رسالې د لیك ډول داسې دی چې په سره خط قوله تعالی یا غوث اعظم کاږي او وروسته ددغه غوث اعظم یوه عربي خبره رانقلوي بیا نو د هغې ترجمه په فارسي لیکي او کله کله ځینې فارسي بیتونه هم په دغه ترجمه کې ځای لري، چې منثوره فارسي او ترجمه یې روانه او ښه ده مګر دغه منظومات یې مات او ګوډ او بې وزنه او په معنی کې ضعیف ښکاري او عربي یې هم د یوه پاخه عرب لیك نه ښکاري او ناوړې لري، چې متاسفانه دغه غوثیه رساله ناتمامه ده او د لیك تاریخ او د کاتب او مؤلف نوم نه لري. په سر کې پس له حمده او نعته داسې شروع کېږي: "قوله تعالی....)[28]("

نوموړی پوهاند لیکي، چې ددې رسالې عربي او فارسي لیك او د موضوع سبك یې د پیر روښان نورو تالیفاتو ته ورته دی. عربي لیك یې په معیار پوره نه دی، نظمونه یې مات ګوډ او په معنی کې ضعیف دي او په صراحت سره بایزید مسکین نوم اخلي او بایزید به ځان لوی پیر او مریدانو به لوی غوث مانه. په دې دلاېلو فکر کوي، چې دغه رساله غوثیه به هم د بایزید روښان تالیف وي. بیا هم دا خبره زیاتوي چې څو ددې رسالې پوره متنونه ونه موندل شي او بیا د نورو رساله غوثیه سره چې ددې ترمخه لیکل شوي دي ونه کتل شي، دا خبره یقیني نه ده.

خو صدیق الله رښتین د رساله غوثیه په اړه لیکي:

ښاغلی حبیبي د خیر البیان د مقدمې په 32 مخ کې رساله غوثیه د پیر روښان اثر بولي، خو زما په فکر دغه کتاب د شیخ نعمت د زوی همدان تالیف دی او د روښان د آثارو تلخیص شوی دی.

په دغه مقاله کې ) قال مسکین( له عبارت څخه داسې ښکاري، چې د کتاب مؤلف بل څوك دی، چې دده د خولې روایت کوي.

دغه راز درساله غوثیه د نامه نه هم دغه خبره جوتېږي، ولې چې یو مرید د خپل پیر او غوث د وینا په باب څه لیکي، نو هغه ته یې نسبت کول مناسب ښکاري، خو خپل اثر ته په خپله رساله غوثیه ویل صحیح نه برېښي)[29](.

✸✸✸

## روښـــانـي رســـــالـــه

دا یو خطي نسخه ده، اصلي مؤلف یې نه دی معلوم. لیك دود او محتوا یې روښاني ده، د پای پاڼې یې نشته او په دې بیت شروع کېږي:

میا روښان وبلیدینه
دا سړی دې ونغوزینه

او بیا وروسته یې ځای پر ځای داسې کښلي دي:

مسکـین ویـــلي دیـــنه
دا سړی دې یې ونغوزینه

دا رساله ځینې پوهان د بایزید روښان اثر بولي او ځینې یې بیا د هغه د نږدې مریدانو او پیروانو اثر بولي.

دا نسخه دارواښاد دوست محمد بریخ په کتابتون کې وه. په 1349هـ ش کال کې ددې نسخې پوره معرفي

---

که ما خود از سر و مال و جان در خدمت خاندان پیر دستګیر خود در ګذشته ایم. )حالنامه، 427 مخ(.

[27] میجر جان راورټي دپښتو اشعارو په منتخباتو کی لیکي: "میرزا خان پر خپلو ټولو کړو وړو او عقیده چې د روښانیانو سره یې لرله په اخر کې پښېمانه و". راورټی داخبره دحالنامې په پورتني دلیل سره وایي، خو داسې نه ده هغه اختلاف سیاسي و نه عقیدوي. احداد او الهداد )رشید خان( دواړه روښاني ول. )حالنامه، 395 او 397 مخونه(

[28] د خیر البیان مقدمه، د کابل عکسي چاپ.

[29] وړمه رساله، 1356 هـ ش کال، لومړی ګڼه )د خیر البیان مقدس او لغات نامې ته یوه کتنه(.

نوموړي دوست محمد بریڅ د آریانا په مجله کې کړې وه او دا معلومه شوه چې دا رساله په روښاني نهضت پورې اړه لري. په خپله اروابښاد بریڅ دا رساله د خیر البیان خور بللې ده چې د خیر البیان نه مخکې لیکل شوې ده خو دا نه شوه معلومه چې ددې رسالې مؤلف څوك دی.

په دې باره کې عبدالله بختاني داسې لیکي:

" دا چې رساله د میا روښان په نامه شروع شوې ده، 21 ځایه د مسکین نوم راغلی دی چې هغه هم د بایزید روښان لقب دی. موضوعات یې دیني، تصوفي او فقهي دي. پخوانو شاعرانو او مؤلفانو کله کله څه چې اکثراً ځان او خپل نوم د غایب په صیغه یادوي، نو کېدای شي چې پخپله بایزید روښان ویلي وي:

میا روښان ویلي دینه

مسکین ویلي دینه

او که یې پخپله نه وي ویلي نو اورمړو دا دده د کوم نږدې عزیز، شاګرد، مرید، ملګري او یا اولاد اثر دی، چې دده نوم یې په دومره اهتمام یاد کړی دی او دده اقوال یې نقل کړي دي او دده د افکارو او وینا وو نه یې یوه لویه قصیده یا وړه رساله جوړه کړې ده..."

ددې ثبوت لپاره نوموړي لیکوال خپل پوره دلایل وړاندې کړي دي[30].

پوهاند رښتین صاحب داسې نظر لري:

"ددغې رسالې د مؤلف نوم په ښکاره توګه نه معلومېږي، خو ښاغلی دوست یې د میا روښان اثر بولي. ما چې ددغې رسالې یو څه برخه وکتله، نو لږ غوندې شکمن شوم او دغه نظریه راته قوي او منلې ښکاره نه شوه. په دې کې زما نظریه دا ده چې دغه رساله به د روښان کوم مرید لیکلې وي لکه ارزاني، واصل او یا کوم بل، خو زما احتمال دا دی چې ارزاني به لیکلې وي. په دې باره کې زما دلیلونه دا دي.....[31]"

وروسته ښاغلی پوهاند حبیبي دا رساله د پیر روښان بللې ده او د خپلو پوره دلایلو وروسته یې داسې پریکړه کړې ده:

"... دغه دلیلونه که په انفرادي ډول هر څنګه وي، خو په مجموعي ډول د لمر غوندې ځرګند دي چې رساله خپله د پیر روښان تالیف او د خیر البیان نه دمخه لیکل شوې ده او په حساب د پښتو د ادب بشپړ اثر ورته ویلای شو.[32]"

✱✱✱

## د بـــایـــزیـد روښـــان شعرونـه

د بایزید د شعرونو اوس څرك نه لګېږي. موږ د حالنامې له قول څخه دا اټکل کولای شو، چې بایزید روښان به شعرونه ویلي وي.

حالنامه داسې لیکي:

ترجمه په پښتو کې تر دوه درې شعره بالا نه وه؛ پیر دستګیر په پښتو ژبه قصیدې، غزلې، رباعیاني، قطعې او مثنوي جوړ کړي دي.[33]

خو دا خبره د تعجب وړ ده چې د حالنامې مؤلف په حالنامه کې د ابابکر کندهاري او خواجه محمد )چې د مؤلف پلار او ورور دی( او د مېرزا خان انصاري د شعرونو نمونه راوړي، خو د خپل مرشد )بایزید( د پښتو شعر یوه نمونه هم نه راوړي. سره له دې چې مؤلف دعوه کوي چې په دوني اصنافو کې هغه )بایزید( شاعري کړې وه. که دا واقعیت وي، نو علي محمد غوندې مخلص مرید به ضرور د پیر روښان له نورو حالاتو سره په حالنامه کې د بایزید یو نیم پښتو شعر راوړی وای. خو ترڅو چې موږ ته د بایزید روشان د شعرونو په اړه یو باوري سند لاس ته نه وي راغلی، موږ د حالنامې په خبره پوره یقین نشو کولای.

✱✱✱

## واجدي شلوك او مكتوبات

واجدي شلوك او مكتوبات هم د ځینو خیال دی چې دا د بایزید روښان اثار دي، خو دا خبره پوره مستنده نه ده او پلټنې ته اړتیا لري. نو ځکه یې زه دلته یواځې د نوم په اخیستلو باندې اکتفا کوم.

✱✱✱

## مـــــلا ارزانـي

تر بایزید روښان وروسته ارزاني د روښاني مسلك یو پوه، ښه شاعر او خلیفه و. دده اشعار د پیر روښان

---

30 د تفصیل لپاره وګورئ )روښاني رساله(، سریزه د ښاغلي رشتین لیکنه.

31 ایضاً

32 د تفصیل لپاره وګورئ )روښاني رساله( د پوهاند حبیبي لیکنه.

33 حالنامه، 275 مخ

لــه افكــارو، تعليمــاتو او فلســفي څخــه ډك دي او ارزانــي تــه د پښــتو لــومړی صــاحب ديــوان شــاعر هــم ويــلای شــو. د اخــون درويــزه وينــا ده چــي ارزانــي پــه څلــورو ژبــو )پښــتو، فارســي، عربــي او هنــدي( شــاعر كولــه[34]. اخــون دا هــم وايــي، چــي د خيــر البيــان پــه ليكلــو كــي ارزانــي هــم لاس درلــود. پــه دې برخــه كــي ښــاغلی عبدالاكبر خــان هــم داســي نظــر وركوي:

"... دا څــه حــده پــورې درســت هــم معلــومېږي. د خيــر البيــان د لوســتو نــه دا خبــره څرګنــدېږي، چــي مــلا ارزانــي د خپــل پيــر اقــوال د هغــه د خــولې پــه خپــل قلــم ليكلــي معلــومېږي، ولــي چــي د هــرې يــوې مســئلې د شــروع كېــدو او ختمېــدو ســره دی وايــي )رحمــت د خــدای پــه ده دا كــلام( بايزيــد چــي كلــه مخاطــب شــوی دی، نــو هغــه وايــي او بايزيــد يا مسكين ممكنه ده، چي ارزاني او بايزيد دواړه ليكلي وي)[35].

خــو پــه حالنامــه كــي يــې راوړي دي چــي پــر بايزيــد روښــان د ســر درد غلبــه وكــړه، مريــدانو يــې ورتــه وويــل چــي وخــت اخــر دی، څــه وفرماياســت. اخــر ده وويــل چــي زمــا پــر زړه د الله تعــالی لــه طرفــه څــه الهــام شــوی دی، هغــه مــي په خير البيان كي ليكلی دی، يعني بايزيد خير البيان الهام بولي، نه دده او دده د يوه مريد مشتركه ليكنه.

ارزاني د تصوف پېچلي فلسفه نسبتاً په ساده ژبه بيان كړې ده، لكه چي په دې اړه په خپله وايي:

د فــقير پښتو ديـــوان دی
دا ديوان حقاني خوان دی[36]

بل ځای كي داسي وايي:

دا غـــزل مــــي د دل تــــار دی
پـــــي او بـدلی دا چوتار دی
پــــه څـــلور ژبـــو اوبـدلی
د ارزانی افغان ګفتــار دی

ښاغلی حبيب الله رفيع ليكي:

دا ټــول پخــواني او اوســني روايــات څرګنــدوي چــي ده هــم لكــه خپــل پيــر ميــا روښــان غونــدې پــه څلــورو ژبــو وينــا كــړه، خــو د بــده مرغــه د عربــي، هنــدي او دري اشــعارو بېلګــي يــې لا تراوســه نــه دي ترلاســه شــوي او ديوانونــه يــې ورك دي[37].

ارزانــي يــو بــل كتــاب هــم كښــلی دی، چــي نــوم يــې "چهــار رمــه" دی. ښــاغلی پوهانــد عبــدالحی حبيبــي ددې كتــاب نوم "چهار رمه" او ښاغلی صديق الله رښتين ورته "چهار رساله" وايي.

د ارزانــي دوه وروڼــه مــلا عمــر او مــلا علــي محمــد مخلــص هــم د روښــان پيــر مريــدان او هــم شــاعران ول. ارزانــي ســربېره پــر نظــم نثــر هــم ليكلــی دی، چــي دينــي مســايل، د اســلام پېژنځــه بنــاوې او د تصــوف اتــه مقامونــه پكــي څېــړل شوي دي.

د ارزانــي ديــوان تراوســه چــاپ شــوی نــه دی، خــو ځينــي نيمګــړې قلمــي نســخي يــې پــه لــره او بــره پښــتونخوا كــي موندل كېږي. د كلام نمونه يې دا ده:

## څلوريزه

ارزانــــي ولـــــــي نــــــه ژاړې　　خـــپل مقصود ولی نه غواړې
هـــوي ستـــــا د عـــــمر شپې　　څـــوك ولاړ دي څوك ولاړې[38]

✸✸✸

## مــــــلا عمر خېشكی

مــلا عمــر او علــي محمــد مخلــص د مشــهور روښــاني شــاعر ارزانــي وروڼــه دي او دوی د بايزيــد روښــان تكــړه مريدان او هم شاعران او عالمان ول.

ښاغلی حبيبي صاحب ليكي:

" پــه دې ډول روښــان ډېــر مقتــدر او پــوه پيــروان مونــدل، چــي پــه دغــو كــي درې خېشــكي وروڼــه )ارزانــي، مــلا عمر او ملا علي محمد مخلص( ادباء، شاعران او عالمان وو.[39]"

د كتــاب پــه لمــن ليــك كــي (حبيبــي صــاحب) ليكلــي دي، چــي ددې وروڼــو احــوال او اشــعار بــه پــه درېــيم جلــد كــي راوړل شي. خو تراوسه د پښتو ادبياتو درېيم جلد نه دی خپور شوی.

---

[34] ارزاني چون تيز فهم و فصيح زبان بود، در انواع ضلالت و بدعت شعرهای افغانی، فارسی، هندی و عربی بيان كرده. )تذكرة الابرار ولاشرار، 149 مخ(.
[35] روښانيان د مغولو تاريكيان، 92 مخ
[36] د ارزاني قلمي ديوان، 65 مه
[37] د روښان ياد، روښاني ليكنې، 185 مخ
[38] د ارزاني قلمي ديوان
[39] عبدالحی حبيبي، د ادبياتو تاريخ، 186 مخ.

د ملا عمر شعرونه تراوسه زموږ لاس ته نه دي راغلي، خو حبيب الله رفيع ليکي چې زما سره د عبدالغني کاسي د بيانات افغانی په دويمه برخه کې د عمر په نامه يو شعر شته. ددې جونګ زياتي ويناوې د روښانيانو ښکاري، نو ځکه زه د اټکل له مخې دا شعر د عمر روښاني ګڼم. دا چې د فکر او محتوا له پلوه هم دا شعر د روښاني شعرونو د مکتب ښکاري، دا اټکل لا پسې پياوړی کوي.

ددې شعر کسر دا دی:

د ګورغه تنګه خونه يې دريچه شته نه يې ورونه
په ګورکی د بدانو ښادي نشته لور د لوره عذابونه[40]

د حالنامې مؤلف ليکي، چې ملا عمر خېشکی د بايزيد روښان د زوی خير الدين په مشری له مغولو سره په يوه جنګ کې شهيد شو[41].

✸✸✸

## علي محمد مخلص

علي محمد مخلص هم د مشهور روښاني ارزاني ورور د پلار نوم يې برهان او د خېشکي د قبيلې نه و. دې په خپله هم د روښاني مسلك يوه عالم شاعر و. مضامين يې ډېر ښکلي او عالمنه او د روښان د تصوفي فلسفې ښکارندوی دي.

ځينې د حالنامې مؤلف هم علي محمد مخلص بولي او دواړه علي محمد يو کس ګڼي، خو داسې نه ده. د ارزاني د ورور علي محمد د پلار نوم برهان، چې تخلص يې مخلص دی، ځکه چې مېرزا خان او دولت په شاعرۍ کې د مخلص په نامه ياد شوي دي. خو د دويم علي محمد چې د حالنامې مؤلف دی، پلار يې ابابکر کندهاری نومېږي او د حالنامې له ليکنو څخه ښکاري، چې 70 کاله وروسته يې تر روښان پير ژوند کاوه، نو ځکه موږ دلومړی علي محمد، چې د ارزاني ورور دی،له نوم سره "مخلص" ليکو او د حالنامې د مؤلف له نوم څخه "مخلص" نوم لرې کوو[42].

د مخلص يو نيمګړی ديوان دپښتو ټولنې پښتو اکاډمۍ کې شته او حبيب الله رفيع ليکي، چې له ده سره د عبدالغني کاسي په جونګ کې د ميا علي محمد په نامه يو شعر شته، چې اټکل کېږي چې دا به د علي محمد مخلص وي.

د علي محمد مخلص د شعر نمونه:

کـــــه تـــــه غـــــواړې د وحـــــدت پيالــــه سرپوشـــــه
بـــــه يـــــې مـــــومې د توحيـــــد د ســـــر فروشـــــه
ځـــــان جهـــــان پـــــر بانـــــدې وپـــــرو لـــــه ســـــودمند يـــــې
لـــــه کاملـــــه د وحـــــدت پيالــــه کـــــړه نوشـــــه
کـــــه دغـــــه پيالـــــه دې وڅښـــــه يقـــــين وکـــــړې
د ګمـــــان وري بـــــه واچـــــوي لـــــه دوشـــــه[43]

✸✸✸

## ميرزا خان انصاري

ميرزا خان انصاري د روښاني کورنۍ تکړه غړی او شاعر دی. دی د پير روښان د زوی نور الدين زوی دی، چې د پير روښان لمسی شي. په قوم اورمړ او د 988هـ کال په شاوخوا کې زېږېدلی دی.

ميرزا خان انصاري لومړی غزلګو شاعر دی، غزل يې تصوفي رنګ لري. د سلوك او تصوف فلسفه يې په مرموز او ښکلي انداز کې او د وحدت الوجود پېچلې فلسفه يې نسبتاً ساده او جذابو الفاظو کې بيان کړې ده. ميرزا خان د روښاني فلسفې پوره ښکارندوی و. په دې باره کې دده همعصر او معتقد شاعر دولت لوانی داسې وايي:

د ميـــــرزا نورالـــــدين صـــــفت بـــــه څـــــو کـــــړم
ميـــــا روښـــــآن د پـــــوهې شـــــهر دی يـــــې ور و
د هـــــادي پـــــه زړه چـــــې پـــــټ و پـــــه ډېـــــر کالـــــه
د ميـــــرزا خولـــــه د هغـــــه علـــــم مظهـــــر و.

او بل ځای داسې وايي:

ميرزا ګنج راته خپل کور وښود غني شوم

---

40 روښان ياد، روښاني ليکني.
41 و دران روز سه تن از خلفاء نامدار شهيد شدند يکی ايوب، دوم ملا ذکريا و سوم ملا عمر خېشکی. )حالنامه، 307 مخ(.
42 د روښان ياد، 187 مخ
43 د پښتو غزل، پروفيسر افضل رضا

بېهوده منت به ولې د بل چا وړم

د دولت لواڼي له پورتنيو اشعارو څخه معلومېږي، چې د ميرزا خان ټوله شاعري پر روښاني فلسفې بنا ده او په خپله ميرزا خان خپل ځان هم د روښاني فکر هېنداره ښيي او وايي:

د ميرزا ګمان فاني شه
هر چه وايي ميا روښان دی

او بيا داسې وايي:

د ميرزا په خوله وئيږم
هر چه وايي ميا روښان دی

ميجر راورټي په خپل ليکلي اثر (د پښتو د شاعرۍ منتخبات) کې ځينې تېروتنې کړي دي، چې هغه تېروتنې بيا ځينې نورو ليکوالو هم تکرار کړي دي. هغه په لاندې ډول دي:

1_ د ميرزا خان نوم فتح خان و.
2_ ميرزا خان په قوم يوسفزی و.
3_ ميرزا خان پر 1040هـ کال په شعر ويلو پيل کړی دی.
4_ ميرزا خان د خپل عمر په پای کې پر خپلو کړو پښېمانه او په ځوانۍ کې چې يې کومه عقيده درلوده، هغه يې پرې ايښې وه.

دا ويناوې زما په نظر کوم تحقيقي بنياد نه لري، دا ځکه چې:

1_ د ميرزا خان د نوم په برخه کې دده همعصره شاعرانو او اديبانو دده د کلام توصيف کړی دی. هېڅ چا هغه د فتح خان په نوم نه دی بللی، بلکې ميرزا خان انصاري يې ياد کړی دی. (د بايزيد انصاری دکورنۍ په شجره کي هم ميرزاخان انصاری د نورالدين زوی دی ـفاروق أعظم).

2_ د هغه د قوم په باب د ميرزا خان خپل همعصر او هم عقيده ملګري دولت لواڼی په ډاګه ويلي دي:

د ميرزا د نورالدين صفت به څو کړم
ميا روښان د پوهې شهر دی يې ور و

3_ ميرزا خان پر 1040هـ کال وفات شوی دی او هغه د دولت له دغه بيت څخه موږ ثابتوو:

د دکن په جنګ شهيد شه خوشنود اوسه
په تاريخ د زر څلوېښت کې يې ګذر و

4_ د څلورمې تېروتنې په اړه بايد ووايم، چې د جلال الدين تر وفات وروسته په روښاني کورنۍ کې سياسي اختلاف پيدا شو. دا اختلاف د احداد او الهداد روښاني ترمنځ و. (الهداد ته وروسته مغولو رشيد خان لقب او درې زرې منصب هم ورکړ).

د حالنامې مؤلف علي محمد ليکي: په هغو کسانو کې چې د الهداد (رشيد خان) ملګري وو، يو ميرزا خان هم و[44].

نوموړي مؤلف په حالنامه کې ځای پر ځای له الهداد سره د ميرزا خان او خپله ملګرتيا ښيي، خو د احداد نوم هم په ډېر عزت اخلي. دا ځکه د هغو اختلاف يواځې سياسي و، نه عقيدوي. ددې خبر ثبوت لپاره لاندې بيتونه وګورئ:

ما به حضور ډېره ښيوه کړه
اوس حساب شوم د هندوانو له قطاره
د روښان د کور سرور وي
د افغان د سر د ستاره
اول مې نه پېژندې ځکه بېل شوم
د وحدت د نوبهاره
د ميرزا د زړه ارمان شوه
د احدد پادشاه د مخ ننداره[45]

دا چې ليکي: "اول مې نه پېژندې ځکه بېل شوم" له دې څخه ښکاري، چې دا بېلتون يواځې له احداد سره و، نه د روښاني ملك سره. هغه بيا هم روښاني مسلك (د وحدت نوبهار) بولي.

✱✱✱

## دولت لواڼی (نوحانی[46])

اصلي نوم يې دولت الله، خو په دولت مشهور و. پلار يې داد الله نومېده[47]. په قوم حسن خېل لواڼی دی

---

[44] حالنامه، 398 مخ
[45] د ميرزا خان انصاري ديوان، د کابل د پښتو ټولنې چاپ.
[46] روښانيان د مغلو تاريکيان، 138 مخ
[47] دولت خان ته داسې ويلي دي:

او مور يې وردګه وه. روارټي وايي، چې دی هندو مسلمان شوی دی، ولې ددې خبرې څه دليل نشته.
ښاغلی عبدالشکور رشاد د دولت لواڼي د ديوان په سريزه کې ددې خبرې داسې ترديد کوي:
دا چې مشهور انګرېز ختيځ پوهاند ميجر جارج راورټي (1240_1324 هـ ق) دولت هندو مسلمان بللی دی. يوه داسې تېروتنه ده، چې د دولت په ديوان کې د دولت له نامه سره د شېخ د کلمې له ذکر څخه پيدا شوې ده او د راورټيئ دې ته نه دی پام شوی، چې پښتانه د هندوستانيانو په څېر د شېخ کلمه يا خو د پير په معنا پکاروي لکه د پير روښان مشر زوی شيخ عمر او يا په ځينو سيمو کې مريدانو ته شيخان وايي او ګومان کېږي، چې دولت لواڼی به هم خپل له نامه سره د شيخ خطاب په دغه وروستني معنی راوړې وي. په خپله دولت لواڼی يو بيت، چې په هغه کې د پير روښان د زوی دولت نومي سره د شيخ خطاب راوړی دی، د ميجر جارج راورټي خبره بېخي ماتوي. هغه بيت دا دی:

نورالدين خير الدين کمالالدين دولت شيخ
په کوښښ يې خپل وژلی نفس کافر و[48]

خوشال بابا هم د دولت شاعري په دې تول تللې ده:

چې لاف وهي د شعر
نن به دا دور دې ډېر
خدای دې نه کا چې به وايم
حال د دوو تېر و بير
څوك پاوی څوك نيم پاوی دی
قلندر پکې نيم سير
د ميوړ په حساب دی
هېڅ مونه دي واصل هېر
بل دولت فقير درې پاوه
زه ترې څو شير شاهي تېر[49]

د دولت له ځينو اشعارو څخه دا ښکاري، چې هغه مستقيماً له پير روښان څخه فيض نه و اخيستی، بلکې د هغه د پياوړو مريدانو او پيروانو علي محمد مخلص او بل د پير روښانلمسی او پيرو ميرزا خان انصاري څخه يې د روښاني مسلك فيض اخيستی و. لکه وايي چې:

همدان مخلص دولته
ددې درو په سفتن دي

يا دا چې:

ميرزا ګنج راته خپل کور وښود غني شوم
بيهوده منت به ولې د بل چا وړم

خو بيا هم د دولت لاندېني بيتونه دا راښيي، چې ده د بايزيد روښان پيروي په نېغه (مستقيماً) توګه کړې ده:

پير روښان لکه ملاح مدد يې راکړ
په ګرداب کې مې زورن و په دا نن شپه

دولت لواڼی يو مکمل ديوان پرې ايښی دی چې د شعر او شاعرۍ په هر فن ښکلی دی، په تېره پر عروضو برابر يې شعرونه ويلي دي.
دده د ديوان يوه نسخه په برټش ميوزيم کې خوندي ده. دوې نسخې يې د هند د رامپور په رضا لايبرېرۍ کې، يوه نسخه يې په کابل او بله د غزني د البيروني په کتابتون کې ساتل شوې ده او چاپي نسخه يې لومړی ځل د همېش خليل صاحب او بله يې په کابل کې چاپ شوې ده.
دولت لواڼی د 1028 هـ ق کال وروسته په رشيد اباد کې له رشيد خان، الهداد روښاني او نورو روښانيانو سره[50] هلته مېشت شوی دی.
د اشعارو نمونه:

زه دولت سني مسلم چار يار منمه
هم په خدای رسول راوړی دی ايمان ما
چې د خدای و رسول نوم پکې يادېږي

د مکوټي ثنا مکړه
د دادا او نوحاڼي زويه
(دادو) د پښتو په نومونو کې داد محمد لنډه شني بڼه ده، خو په ديوان کې (داداو) ليکل شوې ده، کېدای شي چې د دويم الف زياتونه د نقل کوونکي له خوا شوې وي.

[48] د دولت لواڼي د ديوان سريزه، د کابل چاپ.
[49] د خوشال خان ديوان، 386 مخ
[50] د دولت لواڼی د ديوان سريزه.

شـــــاعري بلــــــه نــــــور مـــــه ګڼــــــه تـــــر دا ښـــــه.

✸✸✸

## و اصــــــل

واصـل روښـانی د روښـاني دورې يـو مشـهور شـاعر دی چـې پـه يوولسـمه هجـري پېـړۍ کـې يـې ژونـد کـاوه. د پښـتو لويـو شـاعرانو دده د شـعر سـتاينه کـړې ده، خـو لـه بـده مرغـه د واصـل د اشـعارو ديـوان زمـوږ د نـورو شاعرانو د ديوانونو په شان د زماني ناخوالو ورك کړی دی. خوشال خان خټك داسې ستايلی دی:

د مـــوز پـــه حساب دي
هېڅ مې نه دی واصل هېر

)د کليات 974 مخ(

اشرف خان هجري داسې ويلي دي:

د واصـــل لـــه شعره څه وايم و چاته
چې زما په مخ يې پورې د حال در دي

)ديوان هجري، 248 مخ(

او ميرزا حنان بارکزي داسې ويلي دي:

بل اخوند مياداد د عشق په ميو مست و
ښه شيـــرين الفـــاظ ويلـــي دي واصل

)د ميرزا خان ديوان، 62 مخ، د کابل چاپ(

د "دبسـتان مـذاهب" مؤلـف لـه واصـل روښـاني سـره ليـدلي دي او د حالنـامې هغـه نسـخه چـې د دبسـتان مـذاهب مؤلف ترې استفاده کړې ده، هغه هم د واصل روښاني وه(51).

د واصـل روښـاني يـواځې يـوه قصـيده او يو ـنخلس غزلـې د مـلا اختـر قنـدهاري پـه بيـاض کـې خونـدي دي چـې د پوهانـد عبدالشکور رشـاد پـه کوښـښ سـره مونـدل شـوي دي او د کابـل د پښـتو ټـولنې لـه خـوا د نومـوړي پوهانـد پـه سـريزه او سـمونه د بايزيـد روښـان د بـين المللـي سـيمينار پـه ويـاړ "د واصـل روښـاني څـو شـعرونه" پـه نامـه چـاپ شوي دي.

او هـم داسـې نومـوړی پوهانـد ليکـي، چـې د تاشـکند پـه خطـي کتابخانـه کـې يـو فارسـي ديـوان، د "ديـوان واصـل" پـه نامـه خونـدي دی. د کـتلاك مؤلـف ورتـه ليکلـي دي، چـې دا د يـوه هنـدي شـاعر فارسـي اشـعارو مجموعـه ده، خـو دا خبره پوره معلومه نه ده چې دا به هم د واصل روښاني ديوان وي که نه؟(52).

د اشعارو نمونه يې لاندې ده:

خـــــود پرســـــت د عزازيـــــل ســـــره يـــــو کـــــور دی
پـــــه بـــــد جهـــــل د شـــــيطان ســـــکنی ورور دی

په تزوير يې د ريا خرقه اغوستې        که دپاسه مخ يې سپين استر يې تور دی
د يقــــين ديــــوه يــــې نــــه ده ځلېــــدلې
کــــه د ســــر ســــترګې يــــې روڼــــې پــــه زړه کــــور دی
نــــاخلف پســــر حــــرام بللــــی بويــــه
کــــور د پــــلار ويرانــــوي مَــــېن پــــر مــــور دی
ای واصــــله خپــــل عــــزت لــــه خدايــــه غــــواړه
ملــــك يــــې ونيــــو د شــــيطان د څــــوکې زور دی.

)د واصل روښاني څو شعرونه، 35 مخ(

لـه پـورتنيو اشـعارو څخـه د واصـل روښـاني د شـعر قـوت ښـکاري. دی هـم د نـورو روښـاني شـاعرانو پـه شـان د وحدت الوجود د فلسفې ويباند دی او د پير روښان مخلص مريد.

✸✸✸

## ا بـا بـکـر کـنـد هـا ر ی

ابـابکر د روښـانيانو تکـړه مريـد او مخلـص و. دده احـوال مـوږ لـه حالنـامې څخـه معلومـوو چـې دده زوی علـي محمد راټوله کړې ده.

علـي محمـد ليکـي چـې دده پـلار او کـورنۍ د خليفـه مـودود پـه واسـطه پـه کنـدهار کـې د پيـر روښـان تابعـت قبـول کـړی دی او د هغـه مينـې او اخـلاص پـه وجـه چـې ابـابکر لـه روښـانيانو سـره درلـوده لـه کنـدهاره و تيـرا تـه راغـی او خپـل خـان يـې د پيـر کـورنۍ تـه د دروز پـه ډول ورکـړ. دا هغـه وخـت و چـې پيـر روښـان او نـور زامـن يـې شـهيدان

---

51 د واصل روښاني څو شعرونه د پوهاند عبدالشکور رشاد په قلم سريزه.
52 د واصل روښاني څو شعرونه، د پوهاند عبدالشکور رشاد ليکنه، د کابل چاپ.

شوي ول، د جلال الدين روښاني دوره وه.
علي محمد په حالنامه کې له واقعاتو سره د پلار ذکر د )پدر فقير( په نامه کوي او په مېړانه او دلاورۍ يې يادوي او د ميرزا خان انصاري ملګرى و.
ابابکر هم شاعر و، دده د شعر يوه نمونه وګورئ. علي محمد ليکي:
چې په يوه جګړه کې د احداد او بريم نومي، چې د شتيك د قبيلې سردار و او پر دوى باندې يې تېرى کړى و، ترمنځ جګړه ونښتله. وايي چې په دې جګړه کې ځلوېښت کسه د احداد له لښکر څخه په شهادت ورسېدل او د ابابکر د اس پښه غوڅه شوه. لنډه يې دا چې سخت جنګ ونښت. احداد سر پر سجده کړ او خير البيان يې خداى ته شفيع کړ او په اخر کې فتحه د احداد په نصيب شوه.
علي محمد ليکي چې زما پلار ددې جګړې قصيده وليکله، هغه د سراج العارفين په کتاب کې ده. زه يې څو بيته دلته )حالنامه( کې ليکم.
له پورتني بيان څخه ښکاري، چې ابابکر کندهارى شاعر و چې قصيدې يې ليکلې. دا نه ده معلومه چې سراج العارفين د ابابکر ليکلى کتاب دى که کوم بل چا ليکلى دى او دده قصيده پکې ليکل شوې ده؟.
هغه بيتونه دا دي (دکتابت غلطۍ سته):

سپرئ پر مخ واخست تپه د پليوي خوره کړه
خير البيان يې کړ د وړاندې احداد خداى ته سجده کړه
څه حشر وکړ خاوند تر هر چا يې شرمنده کړه
هغه رشتيا غازي دى چې توره پر جنګ سره کړه
رحمت په هغو باندې په غليم کښې کړه کړه
پر هغه عنايت زيات کړه چې ماته دروازه کړه
الهداد بادشاه خوشحال شه مخ يې نوره تجله کړه
بريم په مايني و رار شه خلائق پر مسخره کړه)[53](

## علي محمد

علي محمد د ابابکر کندهاري زوى، د روښان پير تکړه او مخلص مريد، عالم، اديب او شاعر و. د بايزيد روښان حالنامه يې له سره تاليف کړې او د هغه د ژوند او کورنۍ حالات يې په خپله هم پرې اضافه کړي دي.
د علي محمد پلار ابابکر په کندهار کې د روښان د خليفه ګانو (مودود) په واسطه روښاني طريقې ته دعوت شوى او بيا له کندهار څخه تيرا ته د جلال الدين په وخت د خپل خاص اخلاص په وجه د روښان پير په کورنۍ کې د خادم په حيث اوسېدلى دى او تر مرګه يې د خپل پير د کورنۍ په خدمت باندې ځان مشرف بللى دى.
بيا دده زوى او د حالنامې راټولوونکى علي محمد له ميرزا خان انصاري او الهداد )رشيد خان( سره په دکن کې اوسېده او د اورنګزيب په زمانه کې ژوندى و.
د حالنامې له عبارتونو څخه ښکاري چې علي محمد د پوره علم خاوند و؛ ځاى پر ځاى يې د لويو عالمانو او شاعرانو مقولې او اشعار وړاندې کړي دي او دا چې حالنامه په فارسي ژبه ليکل شوې ده، نوموړي ليکونکي د اکثرو کيسو بيانولو وروسته هم هغه کيسه په فارسي نظم کې بيان کړې ده. له دې څخه ښکاري، چې علي محمد به د اشعارو مجموعه هم درلوده چې اوس نه ده موجوده.
د علي محمد د نثر او نظم نمونه په لاندې کرښو کې وګورئ:
"اى عزيزانو! د جهانګير پاچا په تذکره کې يې راوړي دي چې پير روښان غوښته چې په توره تياره کې کتاب ولولي. کله چې يې کتاب و مخ ته ونيو، دده د مخ نور پر کتاب پرېوت. د خپل مخ په روښنايي کتاب لوست، تر دغه وروسته يې لقب پير روښان شو."
د شعر بېلګه:

چون که روشان دل شده از فيض حق
پرتو دل برخش ظاهر شد
از شعاع وجه آن روشن ضمير
حرفها در شب عيان باهر نمود)[54](

✷✷✷

## خواجه محمد روښاني

خواجه محمد د حالنامې د مؤلف علي محمد ورور و. خواجه محمد هم د وښان پير، پيرو او شاعر و. په دې باره کې علي محمد د حالنامې مؤلف داسې ليکي:

[53] حالنامه، 417 مخ
[54] حالنامه، 200 مخ

ځو کاله وروسته چې مونږ د نواب رشید خان)[55]( غفرت پناه سره د جهانګیر پاچا په وخت کې هندوستان ته راغلو او خواجه محمد چې ددې بنده)[56]( ورور دی، یو د پیر دستګیر له مریدانو او مخلصانو څخه و چې عالم، متقي، پرهېزګار، سخي، شجاع، د قلم او سکونت خاوند او اهل ذوق او محبت و او همېشه به په ذکر مشغول و. په پښتو ژبه به یې ښه شعر وایه او دا یو غزل د هغه له اشعارو څخه دی:

یا هادي له لون وای
خپل هادي پکې وستای
د حضرت لار دې تازه کړه
ای روښان حق نمای
طالبان دې بینا کړي
درځرګند دي دواړه سرای
ډېر ګمرا دي پر لار کړي
د مضل وي رهنمای
چې د زړه سترګې دې ورکړي
هېڅ به نه ویني بې خدای
ډېرطالب دې دي ایستلی
د ګمان د سربښ له لای
چې یقین یې زورور شه
نور به نه خوذي لذای
هېڅوك در خبر نه دي
د مسكین عارف له رای
خواجه محمد دې قناعت کړ
لوی غني به شي ګدای)[57](

سره له دې، چې دا اشعار کاتب غلط لیکلي دي، خو بیا هم لوستل کېدای شي، ژبه یې کندهارۍ ده او د شعرونو بحر یې لنډ دی)[58](.

ښاغلی حبیب الله رفیع لیکي:

چې د ملا ښاپسته خان په جونګ کې د خواجه محمد په نامه پاړکی خوندي دی. دا شعرونه دوه ډوله دي، چې د یوه شاعر نه ښکاري، خو کله چې مې د خواجه محمد بنګښ له دیوان سره مخامخ کړه، ټول هلته وموندل شول. زما په فکر دا شعرونه به ټول د همدې خواجه محمد وي. د کاتب د خوا به د بنګښ په دیوان کې ورګډ شوي دي او یا هم څرنګه، چې خواجه محمد بنګښ په خپله د تصوف او سلوب د لارې لاروی و، نو ښآیي چې دی به د بایزید پیر د کورنۍ و)[59](.

خو په حالنامه کې په صراحت سره لیکلي دي، چې دغه خواجه محمد د علي محمد )د حالنامې د راټولوونکي( ورور او د کندهار اوسېدونکی، په قام شینواری دی او خواجه محمد بنګښ بېل دی)[60](.

✸✸✸

## حاجي ګدای

په حالنامه کې لیکلي دي، چې په سرېبن کې پېنځه تنه طالبانو سبق وایه؛ له هغو څخه یو حاجي ګدای و چې صادق سړی و او څو واره یې حج او عمره کړې وه. یوه ورځ حاجي ګدای ته چا کتاب وښود چې پکې لیکلي وو، کله چې څوك مړ شي، لومړۍ پوښتنه به د توحید د علم ځنې کېږي او بېله معرفت عبادت نه قبلېږي او د توحید او معرفت یواځې د پیر کامل نه حاصلېږي. هغه و چې حاجي ګدای او څلور ملګري یې د پیر کامل په تلاښ شول. لنډه دا چې په ډېره خوارۍ یې له پیر روښان سره ولیدل او هغه توجه ورته وکړه. په دې پېنځو تنو کې ډېر فیض حاجي ګدای واخیست او عجب و غریب واقعات به یې لیدل.

که به یې د چا مخ ولید او یا به یې د سرود اواز تر غوږ شو او یا به یې خوندور خواړه خولې ته ورغله او

---

[55] الهداد د بایزید روښان لمسی وو چې د مغولو له خوا رشیدد خان خطاب ورکړ شوی و. دا هغه وخت دی چې د حالنامې مؤلف او نور روښانیان له الهداد )رشید خان( سره په لومړي ځل په هندوستان کې پر هغه جاګیر، چې د مغولو د خوا ورکړ شوی و، استوګن شوه.

[56] ددې بنده نه مطلب د علي محمد خپل ځان دی

[57] حالنامه، د پښتو اکاډمی ټېپ شوې نسخه، 337 او 338 مخ.

[58] روښانیان، د مغلو تاریکیان، 116 مخ

[59] د روښان یاد، 194 مخ

[60] حالنامه، 338 مخ

يـا بـه يـې خوشـبويي حـس كـړه، پـه دې تولـو صـورتو كـې بـه يـې د دوسـت دوسـت نـارې وهلـې او پـه دې بـاره كـې حاجي ګداى لاندې شعر ويلى دى:

ځلـــور ځـــــيزه لطـــــــيف دي
هر يو مې د فقير په ځان نـــاساز دي
كـــــه مــــا فهم دليـــل وكـــه
يــــو ديـــــدن دى بل اواز دى
يـــو بـــوى بـــــل مـــزه دى
هر چې ما ورنكه د هغه ډېر بزه دي[61]

شعرونه يې مات و ګوډ شانته دي، نه ده معلومه چې دا د كاتب غلطي ده او كه څنګه؟

لنـده دا چـې حـاجي ګـداى د روښـاني لارې تكـړه لاروى او شـعر يـې هـم وايـه. د نـورو شـعرونو پـه بـاره كـې يـې معلومات نشته.

***

## ميـر خـان روښـانـى

ميـر خـان روښـانى مـوږ پـه دې ډول پېژنـو، چـې د دولـت لـواني پـه ديـوان )252 مـخ، د كابـل چـاپ( يـوه اوږده قصيده د مير خـان پـه نامـه شـته، چـې تـر 100 بيتـو زياتـه ده. دا سړى هـم د روښـاني مكتب شـاګرد ښـكاري، خـو كلـه چـې دولـت ژونـدى و )1058ق( ښـايي دا روښـاني نـاظم بـه مـړ و. دولـت د ګـنج عـارفين تـر بيـان وروسـته چـې د رسـول صـلى الله عليـه وسـلم معجـزات دي ، دا قصـيده ددغـې اصـطلاح پـه شـرحه كـې راوړې ده، چـې داسـې شـروع كېږي:

نـــــن مـــــــي زړه لــــــه خفتــــــي ګــــــنج كـــــه ځــــو وينــــــا
مخفــــــــي ګـــــــنج د بـــــــي شـــــــريكه بـــــــي همتـــــــا
يــــــو عجيــــــب ښاپســــــــــته نـــــــور و بـــــــــي مثالـــــــه
منـــــــزه لــــــــه ســــــــبزه و ســــــــرخه هـــــــــم بيضـــــــا
نــــــه يــــــي رنــــګ نـــــه يــــــي مثـــال ســـته نـــه يـــي لـــوري
پـــــــاك ســـــــــــاده او منــــــــــــزه ؤ تعلـــــــــــــى
هــــــم كامــــــــل هــــــــم مكمـــــــــل او هــــــــم غنـــــــى و
پـــــــاك لـــــــه فقـــــــر لـــــــه نقصـــــــانه لـــــــه فنــــــا[62]

ددې قصيدې ډېر بيتونه دي، ما يې يو څو بيتونه د مثال په ډول راوړل.

نـو پـه دې ډول مير خـان هـم د روښـاني ډلې پـه ناظمـانو كـې د قصيدې خاونـد ګڼـل كېـږي خـو څنګـه قصيده او شعر خو نه دى، خو نظم به وي[63].

***

## كـــــريمـــــــداد

كريمـداد روښـاني د روښـاني دورې يـو پيـاوړى شـاعر دى. دى نـه د اخونـد درويـزه زوى كريمـداد دى او نـه د روښـان لمسـى )د جـلال الـدين زوى( كريمـداد دى. بلكـې دده د ديـوان پـه مونـدلو سـره مـو وپېژنـدى چـې دا كريمـداد دربيم كريمداد دى چې د فارسي په كلام كې يې له ځان سره "بنګشي" ليكلى دى[64].

د كريمـداد يـو نيمګـړى ديـوان مونـدل شـوى دى چـې د انـډيا افس لنـدن پـه كتـابتون كـې خونـدي دى او پـه 1964م كـال د ښـاغلي خيـال بخـاري پـه سريزه د پېښـور پوهنتـون د پښـتو اكېډيمى لـه خـوا پـه پبلـك ارټ پـريس كـې چـاپ او خپـور شـوى دى. دا ديـوان نيمګـړى دى ځكـه چـې د ديـوان رديـف تـر "نـون" پـورې رسـېدلى خـو نـوره برخـه يـې نيمه خوا شوې ده.

دكريمـداد شـعر خـوږ او روان دى او پـه شـاعرى كـې يـې د وحـدت الوجـود فلسـفه ښـكاره ده او دكامـل پيـر وجـود يـې ضـروري ګڼلـى دى. د كريمـداد ديـوان لـه 9 مـخ څخـه تـر 30 مـخ پـورې د بايزيـد روښـان او د هغـه د اولاد يادونـه كوى او هم په ديوان كې يې څو ځايه د بايزيد روښان ستاينې شته چې څو بيتونه يې دا دي:

د وحـــدت ونـــه يـــوه ده پـــه يـو اصل

---

[61] حـالـنـامـه، 220 مـخ

[62] د دولـت لـوانـي ديـوان، 652 مـخ

[63] د زېـري ورځـپـانـه، 7 ګـڼـه، 1356هــ ش كـال، د غـوايـی 14 ددې ګـڼې پـه لـومړي مـخ كـې د ميـر خـان روښـاني پـه نظمـونـو كې قصيده تـر عنـوان لانـدې مضمون خپـور شوى دى چې ليكونكى يې پـوهـانـد عبـدالحـى حبيبـي دى.

[64] عيشى ام بـنګشى ام خـاك رهم ديـــــن و دل بــــاخته در راه تـو ام

په کثرت باندې خوره شوه په ځو ښاخه
کریمداد حکمت موندلی
له روښان د دین سقراطه

د کریمداد له اشعارو ښکاري چې تر 1028هـ کال وروسته په شمس اباد کې زیږیدلی او بیا په رشیداباد([65]) کې استوګن شوی دی. په شاعرۍ کې یې د ګنګا د سیند د غاړو او د نور هندوستان د ښکلا ذکر کړی دی. په 1056هـ کال یې شعر وایه چې دا نېټه په یوه بیت کې داسې څرګندوي:

کریمداد دا بیان کښلی
په زر شپږ پنځوسم کال کې

داسې ښکاري چې د نوموړي شاعر کورنۍ به هم د ځینو نورو روښانیانو په ډول له الهداد روښاني (رشید خان) سره هندوستان ته تللې او هلته به استوګن شوي وي([66]). د کریمداد له اشعارو څخه ښکاري، چې شمس اباد او ګنګا به رشیداباد ته څېرمه وي.

کریمداد په فارسي ژبه هم خواږه او روان شعار ویلي دي خو په فارسي اشعارو کې یې خان ته "عیني بنګشی" ویلي دي او په دې اشعارو کې دده خپل نوم نشته. دا څرګنده نه ده چې دده ددیوان مصحح ښاغلی خیال بخاري دا کلام یوازې له دې امله چې د کریمداد له دیوان سره موښتی راغلی دی دده بولي او که کوم بل دلیل هم لري. په هر حال، تراوسه دا وینا هم دده بلل کېږي او موږ یې د کریمداد فارسي وینا بولو([67]).

د شعر نمونه:

ای زما د زړه انیسه
پناه غواړه له ابلیسه
د ده ډېر دي افاتونه
ورسره مه شه جلیسه
ځو دده په نغوته درومي
زر به بېل نکړي له میسه
د همت بلندي غواړه
که په ذات نه یې خسیسه
د مزدورو مزدور مشه
ای د لوی کلي رئیسه
دا ګمان دی اغزن بوټی
جامه ژغوره له دې هیسه

کریمداد په حساب پوه شه
چې یو دی له چالیس
دا حکمت یې دی موندلی
له روښان ارسطالیس

✸✸✸

## قادر داد

هم له دغې ډلې څخه د محمد زمان زوی قادر داد ، د روښان پیر له کورنۍ څخه تر 1118 ق پورې ژوندی و چې پلار یې هند ته فرار شوی او هلته به مړ وي. (قادرداد دمحمد زمان زوی، دپیرداد لمسی، دکمال الدین کړوسی او دپیرروښان کوسی وو – فاروق أعظم). دی هم اوږدې اوږدې عرفاني غزلې لري چې کله کله یې

[65] هغه سیمه ده، چې د هندوستان مغل پاچا جهانګیر له خوا و الهداد )رشید خان( ته د جاګیر په ډول ورکړ شوه. د رشید اباد په نوم یادېږي. )حالنامه(.
[66] الهداد د جلال الدین زوی او د میا روښان لمسی و. (جلال االدین په 1009 هـ ق کی ومړ). الهداد لومړی وار پر 1026ق کال دشمالي هندوستان پاچا مغل جهانګیر ته ایل شو. جهانګیر د رشید خان خطاب ورکړ. زوی او ورور یې برمته ځینې وګرځول او دی یې د بنګښو د مغلي حاکم )مهابت خان( سره بېرته )روه( ته رخصت کړ. الهداد پر 1028هـ ق کال بیا مغلو ته پورته شو، جهانګیر بیا ونازاوه، منصبدار یې کړ او په دکن کې یې د جنګېدونکیو مغلي لښکرو په مرسته د هندوستان جنوب ته ولېږه. الهداد مغلو په نوکرۍ کې څلور زري منصب ته ورسېد )د دولت لواڼي د دیوان سریزه، د عبدالشکور رشاد لیکنه(.
[67] د روښان یاد، روښاني لیکنې، د حبیب الله رفیع لیکنه، 195 مخ

دغه غزلې د قصیدې درشل ته هم قدم ږدي)68(.

دده د اشعارو مجموعه هم تر موږه نه ده رارسېدلې. یواځې پېنځلس پاڼکي یې په ورکه خزانه کې خوندي دي. شعر یې خوږ، روان او د روښاني لارې لاربښوونکی دی. د مینې او محبت اشعار یې ویلي دي. په دې ډول یې په روښاني ادب کې د مینې او عشق وېناوې ورزیاتې کړي دي)69(.

د کلام نمونه یې دا ده:

دلربا به که پلو له مخه واکه
ګدایان به د دیدن واړ توانا کا
که ګنجونه د دیدن راته څرګند کا
د نیستی نوم به ورك له ما ته تا کا
د اسمان ستوري به کل واړه غائب کا
که یو خلی مخ ښکاره مهر ارا کا
هسی نه چې زه او ته باندې شیدا یو
د خوبانو مدح تل ارض و سما کا
چې پیاله د محبت یې شي تر شنډو
د منصور په شان د انالحق صدا کا
چې له خپله سره شه قادر داده)70(
.. .. ..

✸✸✸

## اورکزی

اورکزی هم د روښاني دورې شاعر دی چې د 1175هـ په شاوخوا کې یې ژوند کاوه. د نوم نه یې ښکاري چې دی به په قام اورکزئ و، خو اصلي نوم یې نه دی معلوم.

د میرزا خان د دیوان په نسخه کې دده څه منتخب کلام شته. د کلام نه یې ښکاري چې دی د ښې طبعې خاوند و. ښاغلی حبیب الله رفیع لیکي: په کوټه کې د ښاغلي سیال کاکړ په کورني کتابتون کې د قابل اورکزي په نامه یو دیوان شته چې د احمد شاه بابا په وخت کې یې ژوند کاوه او له روښاني اورکزي سره یې د ژوند وخت یو دی. نو کېدای شي چې قابل اورکزی هم همدا روښانی اورکزی وي)71(.

د اورکزي اشعار خواږه او د مینې ډك دي. کېدای شي چې ده به هم د اشعارو دیوان درلود. د اشعارو نمونه یې دا ده:

چې په زړه کې یې رښتیني محبت وي
میسر به یې په خلقو کې حلوت وي
خیالات د معشوقې ژواك د عاشقانو
ګنړه کله په هجران کې سلامت وي
د اوله یې خصلت بې پرواهي دی
و ترکانو خدایي ورکړي صلابت وي
لعل ستا د زلفو مښك نسیم غارت کا
لغه پسه یې پې کل باندې قسمت وي
د کاکلو په سواد جهان تیاره کړي
ظهور ستا له حسنه صبح سعادت وي
د ورکزي غزل تحفه څي و جانان ته
که منظور یې په جناب د اجابت وي)72(

✸✸✸

## روښاني ډوله لیکنې )73(

دروښانیانو تحریك یو داسې تحریك و چې تردېر وخت یې د ادب او تصوف پیروان وروزل او په دې ډول یې د پښتو ادب پانګه درنه کړه. خو د بده مرغه د روښاني د ورې ټول اثار تر موږ نه دي رارسېدلي؛ بېله هغو

---

68 د زیري ورځپاڼه، د 1356 هـ ش کال لومړۍ ګڼه، د کابل پښتو ټولنه، د پوهاند عبدالحی حبیبي لیکنه.
69 د روښان یاد، 196 مخ
70 د پښتو غزل، ښاغلی افضل رضا، 61 مخ . د مقطع اخر بیت نشته.
71 د روښان یاد، 197 مخ
72 پښتو غزل، افضل رضا، 70 مخ
73 د روښان یاد روښاني لیکنې 200 مخ.

شاعرانو چې نومونه یې تر اوسه یاد سوي دي. ځيني نور داسې شاعران هم شته چې په صراحت سره يې خپل ځانونه روښاني نه دي بللي بلكې يا خو يې نومونه د معلومو روښاني شاعرانو په كلام كې ياد شوي دي او يا يې د وينا له مخې دا اټكل كېږي چې دا به هم روښانيان وو.

زه دلته يوازې ددغو څو شاعرانو نومونه يادوم:

1- اخوندمياداد 2- شيخ فريد 3- اخوندمصري

4- ادين 5- ازاد 6- سعيد 7- احمد.

***

## اريانا دايرة المعارف

څلورم ټوك د افغانستان د دائرة المعارف د ټولنې خپرونه د چاپ كال 1341هـ ش 1962م سپتمبر، د چاپ ځاى كابل، دولتي مطبعه د 542 مخ نه تر 544 پورې پكښې د پير روښان بايزيد تر سرليك لاندې د روښان پير يادونه شوې ده.

***

## ادبي ستوري (لومړى ټوك)

مؤلف يې ښاغلى حبيب الله رفيع دى. په كال 1353هـ ش د كابل مجلې پښتو ټولنى له خوا خپورشوى دى. په دې كتاب كې د پښتو د پنځوسو (50) تنو نوموركو شاعرانو پېژندګلوي شوې ده او د دوى ورك آثار رابرسېره او د لسو تنو نامتو شاعرانو ورك پاركي راغونډ شوي دي. دا ټوك يې له متعلقاتو 276 مخه لري.

ددې كتاب په لومړي مخ كې د ميا علي محمد يو نوموركى شاعر معرفي راغلى ده. په دويم او درېيم مخ كې يې د شاعر د پېژندګلوى لپاره د روښانيانو پر فلسفه او د دوى پر ادبي خدماتو يو سرسري نظر اچول شوى دى.

په اخر كې ليكونكي د اټكل په توګه دا ويلي دي چې دا علي محمد به روښانى شاعر علي محمد مخلص وي كوم چې يادونه يې د اخند درويزه د خولې شوې ده او د ميا روښان د پيروانو او د روښاني شاعر ارزاني ورور يې بللى دى.

***

## ادبي ستوري (دويم ټوك)

ددې ټوك ليكونكى هم ښاغلى حبيب الله رفيع دى. دا كتاب په كال 1356ش (1977م) ليكل شوى دى او په 1359ش (1980م) كې د ميا فقير الله جلال ابادي د مړينې د 200 تلن په وياړ د اطلاعاتو او كلتور د وزارت د هنر د رياست له خوا په دولتي مطبعه كې د 500 ټوكو په شمېر چاپ شوى دى. دغه كتاب ټول 390 مخه لري چې د 24 تنو نارينو او (7) تنو ښځينه ؤ شاعرانو پېژندګلوي پكې شوې ده او د څلورو نامتو شاعرانو وركې وېناوې پكې راغلي دي.

ددې كتاب په لومړي مخ كې د شيخ ادم روښاني تر عنوان لاندې د يوه نوموركي شاعر پېژندګلوي شوې ده چې په وروسته مخونو كې د شيخ ادم روښاني اشعار له نورو روښاني اشعارو سره پرتله شوي دي او په دې ډول د روښانيانو يادونه شوې ده.

بيت:

د كامل دعايي مله ده
د ادم غشى به نه ځي له هدفه

د كتاب په 25 مخ كې د مير خان روښاني تر عنوان لاندې د يوه بل نوموركي روښاني شاعر پېژندګلوي شوې ده.

د ميرزا حنان بيتونه:

يو ميرزا، مير خان، دولت د علم كان و
د سلوك شعر يې كړى دى افضل
بل اخند مياداد د عشق په ميو مست و
ښه شيرين الفاظ ويلي دي واصل

***

## املاء او انشاء

مؤلف يې مرحوم ګل پاچا الفت دى او پر 1338هـ ش (1959م) كال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوى دى. د كتاب په 68 مخ كې (د پښتو پخواني نثر) تر عنوان لاندې يو مضمون ليكل شوى دى. موضوع يې د پښتو د تاريخ په اوږدو كې د پښتو د نثري آثارو په جمله كې د خير البيان يوه نمونه راوړل شوې ده او همدارنګه ليكونكي د خير البيان د نسخې او د هغه د نثر په ځرنګوالي څه رڼا اچولې ده.

***

# انتخاب د خیر البیان او مخزن (د زوړ نثر نمونې)

دا یو وړکوټی کتاب دی چې د پښتو اکاډمۍ پېښور یونیورسټۍ له خوا د ایم.ای د زده کړیانو لپاره په شاهین پریس پېښور کې چاپ شوی دی. د چاپ کال یې نه دی لیکلی.

ددې کګتاب د دربېیم مخ نه تر 27 مخ پورې د خیر البئان د متن څو نمونې راوړل شوي دي.

✸✸✸

## بـي بـي نـوره

دا کتاب د ښاغلي سید تکریم الحق کاکا خېل (روغ لېوني) تالیف دی. په 204 مخونو کې د رحمن نیوز ایجنسۍ (محله جنګي) پېښور له خوا چاپ او خپور شوی دی. موضوع یې د کورني ژوند حالات او د خاوند له خوا مېرمنې ته اټکلي لیکونه دي. د چاپ نېټه یې نه ده معلومه خو د لیکونو تاریخ یې 1954م دسمبر نه تر 1958م جنورۍ پورې دی. مقدمه یې سید تقویم الحق کاکاخېل لیکلې ده چې د 11 مخ نه تر 14 مخ پورې پکې د بایزید انصاري او دده د پیروانو د نثر یادونه شوې ده.

✸✸✸

## پښتـانـه

د 1350هـ ش کال د وږي د میاشتې په نهمه (1971م کال) په کابل کې د هغه وخت د قبایلو د مستقل ریاست له خوا د میا خان اپریدي په اهتمام چاپ او خپور شوی دی. ددې خپرونې د دویم ټوك په دربېیم مخ کې د "پیر روښان نهضت او جنګونه" تر سرلیك لاندې تر 6 مخ پورې یادونه راغلې ده.

✸✸✸

## پښتانه د تاریخ په رڼا کې

د ښاغلي سید بهادر شاه ظفر کاکاخېل تالیف دی چې د 1384هـ ق کال د ذي الحجې په میاشت کې په پېښور کې د یونیورسټي بك ایجنسۍ له خوا چاپ او خپور شوی دی. دا کتاب 1400 مخونه لري. د کتاب له 664 مخ نه تر 707 مخ پورې د "روښاني تحریك" تر عنوان لاندې د روښانیانو د ژوند حالات، مبارزه او د هغه طرز فکر د هغه اولاد او د هغو مبارزه او له روښانیانو سره د مغولي شاهانو کړه وړه په خورا عالمانه ډول څېړل شوي دي. کاکاخېل صاحب لیکي:

" دا خبره د فکر وړ ده چې حضرت اخند درویزه چې په بایزید کوم الزامات لګولي دي هغه دومره شدید خوفناك بلکې شرمناك دي چې د داسې صفاتو یو سړی په مسلمانانو کې بالخصوص په پښتنو کې دومره اثر او رسوخ نشي حاصلولای، څومره چې بایزید انصاري په پښتنو کې حاصل کړی و. په دې بنا دا الزامات قطعي د مسلك د اختلاف نتیجه ده او صداقت ته نژدو نه معلومېږي." (پښتانه د تاریخ په رڼا کې)

✸✸✸

## پښتـانـه شعراء

لیکوال یې څېړندوی عبدالله بختانی دی او د افغانستان د علومو د اکاډمۍ د ژبې او ادبیاتو د انسټیټیوټ له خوا په 1457 کال خپور شوی دی. ددې کتاب د څلورم ټوك د 908 مخ نه تر 927 مخ پورې د بایزید روښان، علي محمد مخلص، ملا عمر، واصل روښاني او کریمداد تر نومونو لاندې د دوی یوه لنډه لنډه پېژندګلوي شوې ده.

✸✸✸

## پښتانه شعراء

د پوهاند حبیبي صاحب او د هغه وخت د پښتو ټولنې د نورو غړیو له خوا تالیف شوی دی چې پر 1320هش کال د کابل په عمومي مطبعه کې د محمد ګل نوري په اهتمام چاپ او د پښتو ټولنې له خوا خپور شوی دی.

ددې کتاب د لومړي ټوك په 23 مخ کې (د روښانیانو ډله) تر عنوان لاندې تر 27 مخ پورې د بایزید روښان او دده د شاګردانو یادونه شوې ده.

" دا ښکاره ده چې خیر البیان یو مشهور مفکر چې په پیر روښان یا پیر تاریك مشهور دی لیکلی دی. اخون درویزه چې ددغه سړي د مسلك لوی مخالف او دښمن دی وایي چې دغه سړی بایزید نومېدی. د عبدالله زوی و، پلار یې اصلاً د قندهار و چې په کاڼي ګرم کې اوسېدی." (مخزن الاسلام).

په دې کتاب کې د خیر البیان سبك، د خیر البیان د سبك خواص او ددې سبك پر مشاهیرو علمي او تحقیقي بحث شوی دی.

✸✸✸

## پښتو ادب

د کتاب لیکونکی ښاغلی عبدالحلیم اثر سلارزی د باجوړ دی. پهٔ 1370هـ کال کې د اداره اشاعت سرحد قصه خوانۍ بازار پېښور ښار له خوا خپور شوی دی او عبدالخالق خلیق صاحب په علمي پرنټنګ پریس لاهور کې چاپ کړی دی. دا کتاب ټول 362 مخونه لري او په 63 فصلونو مشتمل دی او پر پښتو ادب یې هر اړخیز او عالمانه تحقیق کړی دی.

ددې کتاب په 71مخ کې د پخواني نثر تر عنوان لاندې د بایزید انصاري خیر البیان په لومړنیو لیکل شوې نثرونو کې بللی دی او په 73 مخ کې یې د پیر روښان د خیر البیان د لیك یوه نمونه ورکړې ده.

✸✸✸

## پښتو سندرې

د ښاغلي ګل پاچا الفت تالیف دی، چې پر 1325هـ ش کال د پښتو ټولنې له خوا د کابل په عمومي مطبعه کې چاپ شوی دی. ددې کتاب په 12 مخ کې د روښانیانو دوره تر عنوان لاندې تر 20 مخ پورې د بایزید روښآن او د هغه د ادبي پیروانو یادونه راغلې ده.

✸✸✸

## پښتو غزل

دا کتاب ښاغلي افضل رضا ترتیب او تدوین کړی دی. د پېښور پوهنتون پښتو اکاډمۍ په کال 1978م د محترم استاد پریشان خټك په سریزه خپور کړی دی او د سیف الرحمن سید په اهتمام سپین زر سروسرز چاپ کړی دی.

ددې کتاب موضوع د اکبر زمینداوري )لومړی غزل بول چې د 750هـ په شاوخوا کې اوسېدی( څخه بیا تر ګلستان نومي شاعر پورې چې د څوارلسمې پېړۍ شاعر دی، د غزلو نمونې او د هغو په باب معلومات او د شاعرانو لنډه پېژندګلوي راغلې ده.

ددې کتاب له 54 نه تر 69 مخ پورې د روښانیانو ډله تر عنوان لاندې د لاندینیو روښاني شاعرانو پېژندګلوي او د هغو څو څو غزلې یې د بېلګې )نمونې( په ډول رانقل کړي دي. ارزاني، میرزاخان انصاري، قادر داد، مخلص، دولت لوانۍ، میا داد او اورکزی. کتاب ټول 387 مخونه لري.

✸✸✸

## پښتو قرات

د یوولسم ټولګي لپاره د افغانستان تعلیمي کتاب چې په 1354 کال د افغانستان د پوهنې د وزارت د تالیف او ترجمې له خوا چاپ شوی دی. مؤلف یې پوهاند عبدالشکور رشاد دی. ټول 159 مخه لري او د 110 مخ نه تر 113 مخ پورې د "پیر روښان او د هغه تالیفات" تر عنوان لاندې یادونه پکښې شوې ده.

✸✸✸

## پښتو نثر ته کره کتنې

لیکوال یې عبدالحی حبیبي او د افغانستان د علومو د اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو علمي او تحقیقي مرکز )پښتو ټولنې( له خوا پر 1360 کال کې چاپ شوی دی. ددې کتاب په څلورم څپرکي کې )پښتو نثر په تاریخ مرصع کې( تر سرلیك لاندې په 47 او 48 مخونو کې د روښانیانو د نثر یادونه شوې ده.

✸✸✸

## پښتونستان

د عبدالروف بېنوا تالیف دی چې په 1130هـ ش کال د کابل په عمومي مطبعه کې په 479 مخونو کې چاپ او خپور شوی دی.

ددې کتاب له 306 مخ نه تر 316 پورې د " روښانیانو کورنۍ" تر سرلیك لاندې د بایزید روښان او د هغه د کورنۍ او مبارزې یادونه راغلې ده.

✸✸✸

## پښتو منتخبات

د پروفیسر ډورن ټولوونه او سریزه یې څېړنوال محمد صدیق روهي ژباړلې ده. د زلمي هېوادمل په اهتمام پر 1356 کال د کابل د پښتو ټولنې له خوا دویم ځل چاپ شوی دی.

ددې کتاب د سریزې په اووم مخ کې یې د بایزید انصاري تالیفاتو ته اشاره کړې ده.

***

## تـــاریـخ ریـاسـت سـوات

د محمـد اصـف خـان تـالیف او د ښـاغلي عبـدالودود برتاکـالي پېښـوري پـه کتابـت چـې پـه 1958 م کـال د سـتمبر پـر 27 نېټـه بشـپړ شـوی دی. ددې کتـاب د لـومړۍ برخـې پـه 27 مـخ کـې د بایزیـد انصـاري المشـهور پیـر روشـن او د هغه د عمر مختصر حالات تر عنوان لاندې تر 58 مخ پورې د بایزید روښان یادونه راغلې ده.

***

## تـــاریـخ مـرصـع

د خوشـال خـان خټـك د لمسـي افضـل خـان خټـک تـالیف دی. دا کتـاب پـه 1974م کـال د پیـاوړي محقـق دوسـت محمـد خـان کامـل د هلـو ځلـو پـه نتیجـه کـې چـاپ شـوی دی. د کتـاب اصـل مـتن 624 مخـه دی، لـه متعلقـاتو سـره 1492 مخونـه لـري. پـه 238 مـخ کـې د بایزیـد روښـان د یـادونې عنـوان داسـې لیکـي: ذکـر مشـتمل پـه احـوال د پیـر روښان او دده د اولاد چې په دا ملك د کابل د صوبې څه نیك او بد دده او دده د اولاد په سبب واقع شوي دي.
د تـاریخ مرصـع لیکـونکی چـې د بایزیـد پـه بـاب کـې څـه لیکلـي دي هغـه اکثـره د اخنـد درویـزه او د هغـه د اثـر مخزن الاسلام پـه رڼـا کـې دي. " نـور بایزید د هغه ځایه ننګرهـار تـه راغی، پـه مهمنـدو کـې یـې د ملـك سـلطان احمـد کـره قـرار و مسکن ونیـو. یـو مـدت یـې ورتـه تیـر کـړ امـا ننګرهـار تـابع د عالمـانو و، اطاعت او پیـروي یـې دده قبولـه نکړه. له هغه ځایه بایزید راروان شه پېښاور ته راغی په غوریا خېلو کې قرار ونیو."
" هـر ګـاه پـه پښـتنو کـې پـه هغـه وخـت کـې علـم کـم و اکثـره تـابع دده شـول او ده خپـل شـهرت پـه پیـري او پېشوایي کـړې و او عـوام النـاس تـه بـه یـې وې چـې بې پیره کاملـه و خـدای تـه لار نشته. راځـئ زه پیـر کامـل یـم چـې هـدایت او رهنمـایي درتـه وکـړم. پښـتانه یـې پـه سـبب د کـم علمـي پـه دا فریفتـه کـړه پـه دا خبـر نـه و چـې پـه تفسـیر د بیضـاوي کـې یـې راوړي دي چـې لویـه وسـیله د خـدای د معرفـت اختیـارول د اطاعـت او عبـادت او تـرك د عصـیان او د ګناه دي او بېله استقامت د شریعت غرا او ملت بیضا و خدای ته لار نشته.
بیت:

مـحالست سعدی که راه صفا
توان رفت جز در پی مصطفی

څـو رسـالي ده پـه هغـه وخـت تصـنیف کـړې، ایـت او علـم حـدیث یـې دواړه خپـل سـندونه کـړي وه. امـا پـه هغـه وخـت عالمـان نـه وه چـې دده سره یې مباحثـه کړې وای چـې ایت او احادیث پـه موقـع دي یـا غیـر موقـع دي. هـر چـې ده ویـل مریـدانو بـه یـې هغـه کـړل. اخـر الامـر تیـپه د خلیلـو د ده مریـدان شـول، بیـا مهمنـدزي د هشـنغر ورغلـل، دی یـې و هشـنغر تـه راوسـت. هـر چـه پـه پښـتانه کـې جاهـل تـر هغـه دده معتقـد وه. د هشـنغر پـه قلعـه ډېـر کـې یـې ځـای ورکړ." )تاریخ مرصع(.
ځیني لیکوالان د افضل خان نظر دده د خانزادګی او دده د ذاتي ګټو په نظر کی نیولو لپاره ګڼي.

***

## تـکـــــــل

د صـاحب شـاه صـابر د اشـعارو مجموعـه ده چـې لـه 1973 کـال نـه یـې تـر 1984م کـال پـورې ویلـې دي. پـه 1986م کال چاپ شوې دي، خو د چاپ ځای یې نه دی ښودلی.
د "باغي" په نامه یو اوږد نظم کې یې د بایزید، جلال، احداد، میرزا خان او دولت یادونه کړې ده.
د کتـاب پـه اخـر کـې یـې د شخصیاتو او مقامـاتو پـه پېژنـدګلوی کـې د پورتنیـو اشخاصـو د الایـې پـه شـمول یـوه لنډه پېژندګلوي کړې ده.

***

## تـېـــر یـــــادونـــه

ویـونکی یـې ښـاغلی حبیب الله رفیـع دی چـې پـه 1354ش کـال د مرغومي پـه لـومړۍ نېټـه د اطلاعـاتو او کلتـور د وزارت د افغانسـتان د تـاریخ ټـولني لـه خـوا چـاپ شـوی دی. لـه 48 نـه تـر 50 مـخ پـورې د "روښـان تـه" تـر سرلیك لاندې یې د بایزید روښان په ستاینه کې یو ښکلی نظم ویلی دی.

***

## خیـــر الـبـیـان

تصـنیف د بایزیـد روښـان )انصـاري( او مقدمـه پـرې ښـاغلي حبیـب الله رفیـع لیکلـې ده او د پښـتو ادبـي مرکـز سـرای نورنـګ )بنـو( لـه خـوا پـه کـال 1986 کـې چـاپ شـوی دی. ددې کتـاب پـه 33 مـخ کـې د بایزیـد روښـان

پېژندګلوي او پر ادب باندې يې ښه پوره څېړنه شوې ده. (په کابل کی دپښتو ټولنی لخوا د خیرالبیان دچاپ سوي نسخې ذکر مخکی سویدی – فاروق أعظم).

✱✱✱

## د افغانستان پېښليك

ليکوال يې اروابښاد پوهاند حبيبي او په 1353هـ ش کال د کابل په دولتي مطبعه کې د بيهقي کتاب خپرولو د مؤسسې له خوا چاپ او خپور شوی دی. ددې کتاب د لومړي ټوك په لاندې مخونو کې د بايزيد روښان يادونه راغلې ده:

123، 127. 128، 129، 130، 132، 133، 135، 138، 139 او 140 مخونو کې.

✱✱✱

## د پښتو د ادبياتو تاريخ

مؤلف يې اروابښاد پوهاند عبدالحی حبيبي دی. په 1342هـ ش کال د پښتو ټولنې له خوا د کابل په دولتي مطبعه کې چاپ او خپور شوی دی. ددې کتاب دويم ټوك د لسم څپرکي په 250 مخ کې بيا د کتاب تر پايه يعني تر 368مخ پورې د "پير روښان او دده د نثر مکتب او د پښتو فني نثر" تر سرليك لاندې خورا محققانه او عالمانه ليکنه شوې ده چې نه يواځې د بايزيد روښان ادبي خوا پکې څېړل شوې ده بلکې د پير روښان او دده د کورنۍ کارنامې، د مغلو سره د هغوی مبارزې او روښاني نهضت او جنګونه او دده دعوت او د خلکو رجوع او د بايزيد نصايح او بيا دده علمي او ادبي آثار او دده د مشهور کتاب خير البيان موضوع او مباحث او د بايزيد عرفاني او سياسي افکار په مفصل او مشرح او مستند ډول راوړل شوي دي.

✱✱✱

## د پښتو ادب په تاريخ کې قصيده

ليکوال يې اروابښاد پوهاند عبدالحی حبيبي او د زلمي هېوادمل په زيار او اهتمام د افغانستان د علومو د اکاډمۍ د ژبو او ادبياتو د انستيتيوټ له خوا په 1357ش کال کې خپور شوی دی.
ددې کتاب په دريم څپرکي کې د "قصيده د روښانيانو په مکتب کې" تر سرليك لاندې، له 36 مخه تر 74 مخ پورې د روښاني شاعرانو قصيدې په بشپړه توګه څېړل شوې دي.

✱✱✱

## د پښتو د نثر تاريخي او تنقيدي جاېزه

دا کتاب د ايم. فل مقاله ده. ليکونکې يې بي بي مريم ده او په کال 1986م کې د لطف الله په اهتمام په جدون پريس پېښور کې چاپ شوې ده. ددې کتاب په دريم باب کې د 78 مخ نه تر 136 مخ پورې د )بايزيد انصاري( تر عنوان لاندې د هغه پر ژوند، تصنيفاتو او له هغه سره د اخوند درويزه مخالفت څېړلی دی.

✱✱✱

## د پښتو د نثر تاريخ

)له 223 هـ نه تر 1350هـ پورې(

مؤلف يې ښاغلی محمد افضل رضا او په کال 1968م د اپريل په 15مه نېټه د عظيم پبلشنګ هاوس خيبر بازار پېښور له خوا په منظور عام پريس پېښور کې چاپ شو دی.
ددې کتاب په دريم باب کې له 120 مخ څخه تر 184 مخ پورې د )پښتو نثر دويم دور د نهمې هجري صدۍ نه تر يوولسمې هجري صدۍ )بايزيد انصاري( تر عنوان لاندې يو اوږد او مفصل بحث لري.
"د بايزيد او اخون درويزه خپلو کې شخړې د پښتو ادب پنګه بې کچه درنه کړه. هغه وايي چې بايزيد روښان پښتون ليکوال و چې پښتو ادب يې په شعوري ډول د يو خاص غرض دپاره استعمال کړو او خپل تعليمات يې پکې پښتنو ته وړاندې کړل. ول څه وخت چې د بايزيد د تعليماتو خبر اخون درويزه صاحب ته ورسېد، نو د خپل استاد پير بابا په وينا يې د استاد سره اوږه په اوږه د بايزيد مخالفت شروع کړ. اول دا معامله د خبرو مناظرو او مباحثو په شکل کې وه، ولې وروستو دې داسې صورت اختيار کړو چې خبره ډاګې شوه او نوبت يې قتلونو او جنګونو ته ورسېدو. د اخون صاحب چې د بايزيد سره په کومو عقيدو کې اختلاف وو په هغو کې وحدت الوجود هم شامل دی چې په هر دور کې ترېنه پيلات پورته شوی. دا شخړه په دريمه هجري صدۍ کې شروع او تر بايزيد پورې..."

✱✱✱

## د پښتونخوا د شعر هار و بهار

ټولوونکی يې جيمز ډارمسټېټر دی چې په 1356هـ ش کال د زمري پر 15مه نېټه د پښتو ټولنې له خوا په درېيم ځل چاپ شوی دی. ددې کتاب په سر کې يو مضمون )په پښتو ژبه کې اولسي ادب( تر سرليك لاندې چې ليکوال يې ډارمسټېټر او ژباړن يې روان فرهادي دی، توضيحات د پوهاند عبدالحی حبيبي او پښتو کوونکی يې حبيب الله رفيع دی. ددې کتاب له 10 مخ نه تر 12 مخ پورې د پير روښان او اخون درويزه بحث راغلی دی.

✸✸✸

## د پښتونستان مسئله د حق خود اراديت په رڼا کې

مؤلف يې محمد ابراهيم عطايي او په 1348هـ ش کال د وږي د مياشتې په نهمه نېټه د افغانستان د قبايلو د رياست له خوا خپور شوی دی.

ددې کتاب په 71 مخ کې )د روښان نهضت او جنګونه( تر سرليك لاندې تر 79 مخ پورې د بايزيد روښان يادونه راغلې ده.

✸✸✸

## پښتانه شعراء حصه اول

دا کتاب د لومړي ټوك پښتانه شعراء لنډ شوی شکل دی چې د مرحوم عبدالخالق خليق او اجمل خټک له خوا دوه ځله لومړی ځل په 1951ع کال او دويم ځل 1964ع کال د اداره اشاعت سرحد له خوا په پېښور کې چاپ شوی دی.

دې کتاب د48 مخ څخه تر 61 مخ پورې د ميرزاخان او د دولت لواني لنډه پېژندګلوي او د اشعارو نمونې وړاندې کړي دي.

په دې ځای کې اجمل خټك د ميجر راورټي هغه تيروتنې تکرار کړي دي، چې ليکلي يې دي: د ميرزاخان نوم فتح خان دی، ميرزاخان په قوم يوسفزی دی. همدغسې ددې کتاب په 120مخ کې د بايزيد روښان او د خيرالبيان پېژندنه شوې ده داسې ليکي:

بايزيد يا پيرروښان يا پيرتاريك يو عالم او فلسفي سړی و، په علمونو پسې يې لوی لوی سفرونه کړي وو، هندوستان او ترکستان يې ورپسې کتلي وو او په اخر کې يې د خپل علم او فلسفې په رڼا کې د پيري او مريدي لار ونيوه او يو نوی مسلك يې اختيار کړو. دده ډېر مريدان پيدا شول او دوی د خپل مسلك تبليغ کولو. د پير روښان ملګرو د خپلې عقيدې تبليغ په اشعارو او په نظمونو کې هم کولو ځکه چې دا يوه ډېره اثرناکه طريقه وه.

✸✸✸

## د پښتو ادبي سوغات

دغه تذکره او ادبي کتاب د قاضي عبدالسلام زيادتي تاليف و چې په 1948م کال په پېښور کې چاپ شوی دی او په اهتمام د محمد حسين منظور عام برقي پريس ګورنمنټ پرنټرز.

دا کتاب 391 مخه لري. دې کتاب له 220 مخ څخه تر 225 مخ پورې د ميرزا خان انصاري او دولت لواني لنډه پېژندګلوي او د هغو د کلام نمونه راوړې ده.

په دې کتاب کې هم نوموړي ليکوال د ميجر راورټۍ هغه تېروتنه تکرار کړې ده چې ليکي: د مرزا خان انصاري نوم فتح خان دی او په قوم يوسفزی دی)[74](.

✸✸✸

## پښتو رساله

پښتو مياشتنۍ مجله د 1988م کال د جولايي د مياشتې ګڼه، طابع يې سيد احمد احمد، د محمد جاويد خليل په اهتمام په حميديه اليکټرك پريس پېښور کې چاپ او د پښتو اکاډمۍ له خوا خپره شوې ده.

ددې رسالې په 48 مخ کې )د پښتو اکېډېمۍ قلمي نسخې( تر سرليك لاندې يو مضمون خپور شوی دی. ليکونکی يې حبيب الله رفيع دی. ددې قلمي نسخو په لړ کې يې د بايزيد روښآن او مخلص حالنامه معرفي کړې ده.

✸✸✸

## د خيبر ادب

د کتاب ليکونکی ښاغلی مراد شينواری دی او په کال 1958م په منظور عام پريس پېښور کې چاپ شوی دی. ددې کتاب په 21 مخ کې )د روښانيانو دوره( په نامه د ميرزا خان انصاري، قادر داد او اورکزي

---

74

پېژندګلوي او د هغوی پر ادبیاتو څېړنه شوې ده.

***

## د دولت لواني دیوان

مصنف یې دولت لواني، سریزه یې پوهاند عبدالشکور )رشاد( لیکلې ده. د عزیز الله او محمد عارف غروال په سریزه د کابل د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی. نوموړی دیوان د بایزید روښان د تصوف او سلوک په اړه لویه قصیده لري چې یو بیت یې دا دی:

بل صفت د بایزید مسکین بیان کړم
خاص و عام ځنې و نغوړې په غوږونو

او اخر بیت یې داسې دی:

د معنی شاهد به مخ ورته څرګند کا
کـه په دا کلام عمل وکړي پښتونه

بې له دې قصیدې نه دولت څو ځایه نور هم د بایزید روښان ستاینه کړې ده.

***

## درنـــــه پـښتو

د ښاغلي پروفیسر پرېشان خټک تالیف دی چې په 1978م کال پېښور یونیورستی پښتو اکادیمی له خوا چاپ شوی دی.

په دې کتاب ګوټي کې د پښتنو نارینه او ښځینه قهرمانانو د مېړانې تاریخي واقعات راوړل شوي دي چې د هغوی نه په 81 مخ کې د بي بي شمسو تر عنوان لاندې د روښانیانو هغه تاریخي واقعه راوړل شوې ده چې د بایزید روښان تر وفات وروسته د هغه پېنځه زامن له یوسفزو سره په جګړه کې شهیدان شول. "د بایزید روښان مېرمن بي بي شمسو د یوسفزو په قید کې وه چې د زامنو سرونه یې ورته راوړه. بي بي شمسو اف قدر هم ونه کړ او نه یې تر سترګو اوښکې راغلې بلکې دا یې وویل چې زامن مې څه په غلا او کاسیرۍ کې نه دي قتل شوي، د خدای په لاره کې یې سرونه ورکړي دي؛ شاباشی زامنو زه ستاسې په مور والي فخر کوم."

***

## د روښـان یـاد

دا د بایزید روښان د نړیوال سیمینار د مقالو مجموعه ده چې په 1353ل کال د مرغومي له 15 نېټې نه تر 22 نېټې پورې دوام درلود. د ښاغلي حبیب الله رفیع په زیار او اهتمام د کابل د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی. په دې سیمینار کې د افغانستان او نورې نړۍ 25 پوهانو او محققینو د بایزید روښان د شخصیت په باره کې خپلې مقالې لوستلې وې چې زه دلته صرف د محقق نوم او د هغه د مضمون سرلیک وړاندې کوم:

1_ څېړنمل محمد صدیق روهي:
)د روښان پېژندګلوي او روښاني نهضت تر سر لیک لاندې مقاله(

2_ محترمه مېرمن معصومه عصمتي:
) د روښان د نهضت سیاسي اوضاع(

3_ ښاغلی محمد اسماعیل مبلغ:
) نګاهی بر تصوف پیر روښان(

4_ استاد قیام الدین خادم:
)د روښانیانو مبارزې(

5_ څېړنوال عبدالله خدمتګار بختاني:
) په پښتو ادب کې د روښاني آثارو مقام(

6_ ښاغلی عبدالباري جهاني:
) د روښاني نهضت د پرمختک او ماتې عوامل(

7_ ښاغلی عبدالجلیل وجدي:
) د روښانیانو روښانه ملي لار(

8_ ښاغلی عبدالقیوم نورزی:
)د روښانیانو د مبارزو څرنګوالی(

9_ ښاغلی محمد ابراهیم عطایي:
) د روښاني نهضت پر سیمه ییزه پېژندنه یو تحلیلي څېړنه(

10_ پروفیسور نیکولای الکساندر وویچ دوربانکوف:
) د افغانانو د کلتور په تاریخ کې د بایزید روښان )خیر البیان( د پښتو ژبې مقام او اهمیت(

11_ ښاغلی حبیب الله رفیع:

) روښاني ليکنې(
12_ پوهاند محمد رحيم الهام:
) د خير البيان ژبني خصوصيتونه(
13_ استاد دکتور شاه حسيني تهراني:
) نهضت روشانی از نظر فلسفه، شعر و ادب(
14_ پوهنوال محمد حسن ضمير:
) بايزيد روښان او د هغه وخت د سياسي اوضاعو تحليل(
15_ څېړنمل محمدين ژواك:
) بايزيد روښان د مليت د بنسټ ايښوونکي په حيث(
16_ پوهاند عبدالحی حبيبي:
) د پير روښان پر ژوند، پېښو او آثارو باندې څېړنه(
17_ پروفيسور عبد قادر ميانيازوف:
) د تاجکستان او افغانستان ادبي او کولتوري اړيکې(
18_ ښاغلی غلام غوث شهامت:
) دروښاني نهضت د نفوذ ساحه(
19_ پوهاند عبدالشکور رشاد:
) خير البيان نظم دی که نثر؟(
20_ څېړنمل دوست محمد دوست:
) د روښاني ادب د پښتو يوه منظومه رساله(
21_ پروفيسور انور علي دمسکونه:
) نکاتی چند در باره نهضت روشانی(

***

## د روښانيانو ملي نهضت

ليکوال يې روسی ليکونکی اسلانوف، ژباړن يې محمد اکبر معتمد او په 1353ل کال د کابل د پښتو ټولنې له خوا د بايزيد روښان د بين المللي سيمينار په وياړ چاپ شوی دی.

دا يو وړوکی کتاب دی چې 66 مخه لري. له 4 مخ نه تر 30 پورې د ژباړن سريزه خپره شوې ده چې په هغه کې د بايزيد روښان آثار او د هغه مبارزه څېړل شوې ده.

د مضمون سرليك دی د روښانيانو ملي نهضت )په شپاړسمه او اوولسمه پېړۍ کې( د پښتو په ادب کې انعکاس.

د مضمون سرليکونه: د روښانيانو تاريخ، د روښانيانو د حرکت خصوصيت، خوشحال خان او د روښانيانو کره وره.

دغه ليکونکي هم د نورو روسي ليکوالانو په شان روښاني تحريك فيوډالي ضد بزګری تحريك بللی دی. يعنې محتوا يې د سوسيالستي نظام غوښتونکي وه. هغه ليکی" خوشحال خان ختك د فيوډالي طبقې څخه دی او دا دده د آثارو ددغو لاندينو مواقعو څخه څرګنديږي:

"د روښانيانو د ډلې سره د خوشحال خان ښکاره دښمني ددغې ډلې د کلکو مخلصانو بلکې بنګش قوم سره دده دښمني، ددغې ډلې د مشرانو سره د ده عداوت او د روښاني شاعرانو )لکه ارزاني( سره دده مبارزه شوه او بله دا چې ده تل په خپلو اثارو کې د يوه قوي فيوډالي حکومت ضروريات بيان کړي دي او د ملت د مقاومت له منځه وړلو طرفدار و."

)د روښانيانو ملي نهضت، 31 مخ(

***

## د ميرزا خان انصاري ديوان

ميرزا خان د بايزيد روښان لمسی او د پښتو ژبې يو نوميالی شاعر دی. ديوان يې پر 1959م کال د ښاغلي همېش خليل صاحب په ترتيب او سريزه په بابو حيدر روډ پېښور ښار کې چاپ شوی دی. د ديوان د )ح( مخ نه تر )ق( مخ پورې د بايزيد روښان د ژوند حالات د هغه تصانيف او د تصوف فلسفه په خورا عالمانه او تحقيقي ډول تشريح شوې ده.

د ميرزا خان انصاري ديوان د کابل د پښتو ټولنې له خوا هم په 1354هـ ش کال چاپ شوی دی چې سريزه، سمون او لمنې يې څېړنمل دوست محمد دوست کړي دي.

د ميرزا خان په ديوان کې ډېر ځايه د بايزيد روښان ستاينه شوې ده. څو بيته يې دا دي:

د ميرزا کلام شرين شو

پــیر روښـــان لـــه برکته
واړه عیب و هنر خپل پـــخپـله ګوري
د میرزا کلام روښـــان شـــو لـــه سراجه

٭٭٭

## د واصل روښاني څو شعرونه

د واصـل روښـاني څـو شـعرونه چـې د بایزیـد روښـان د بـین المللـي سـیمینار پـه ویـاړ پـه 1353هــ ش کـال د کابـل د پښتو ټـولنې لـه خـوا چـاپ شـوی دی. مقدمـه او تصـحیح یـې پوهانـد عبدالشـکور رشـاد او سـریزه یـې محمـد صـدیق روهي او ډاکتر سیدال شاه پولاد کړې ده. کتاب له مقدمې سره 48 مخه لري.

" پـه هندوسـتان کـې د لـودي پـاچهی تـر ړنګېـدلو یـو کـال دمخـه )پـه 931هــ ق( د اورمـړو پښـتنو پـه یـوه داسـې کورنۍ کـې چـې د شـېړو پښـتو څخـه سـتانه )روحـاني( او عالمـه کـورنۍ یادېدلـه، یـو هلـك وزیږېـده. ددغـه هلـك پـلار )قاضـي عبـدالله( پـه ارثـي توګـه د اسـلامي تصـوف لـه تاریخـه سـره ښـه اشـنا و او د تبـرك دپـاره یـې پـر خپـل زوی بانـدې د طیغوریـه طریقـې د مؤسـس نـامتو بـزرګ بایزیـد طیغـور بسـطامي )پـه 261هــ ق مـړ( نـوم کېښـود. دغـه پښتون بایزیـد د خپـل وخـت نـامتو بـزرګ شـو. ډېـر پښـتانه یـې مریـدان شـول او پـه خپلـو ارادتمنـدانو کـې یـې د روښـان پیر لقب وګاټه."

) "د واصل روښاني څو شعرونه" مقدمه(

٭٭٭

## د یونس دیوان

نقـل، مقابلـه، سـمون، مقدمـه او حاشـیه یـې څېړنـدوی عبـدالله بختـاني کـړې ده او د 1356هــ ش کـال د تلـې پـه 25مــه نېټــه د اطلاعــاتو او کولتــور د وزارت د پښــتو د پرمختیــا او پیاوړتیــا د امریــت لــه خــوا د عبــدالله ســحر او حفیظ الله رهجو په اهتمام چاپ شوی دی.

ددې کتـاب د سـریزې لـه لـومړي مـخ څخـه تـر درېـیم مـخ پـورې د بایزیـد روښـان او دده د نظریـې او مبـارزې یادونه راغلې ده.

٭٭٭

## رحمان بابا

د رحمـان بابـا دیـوان د ښـاغلي اروابـاد دوسـت محمـد کامـل مومنـد پـه تحقیقـي، علمـي، تـاریخي او ادبـي جـاج سـره د پرنتـر پبلشـرز بکسـیلرز سـمال اندسـتریز اسـتیټ کوهـاټ روډ پېښـور لـه خـوا دویـم ځـل چـاپ شـوی دی. د چـاپ نېټـه یـې نـه ده لیکلې. ددې کتـاب لـه 23 مـخ نـه تـر 25 مـخ پـورې د بایزیـد روښـان پـر پیروانـو او د هغـو پـر آثارو یې یوه تته رڼا اچولې ده.

٭٭٭

## روحاني تړون

دا کتـاب د ښـاغلي عبـدالحلیم اثـر افغـاني تـالیف دی. پـه 1072مخونـو کـې د دارالاشـاعت بـاجوړ )ملاکنـډ ایجنسـۍ( لـه خـوا د 1965م کـال د اکتـوبر پـه میاشـت کـې چـاپ شـوی دی. د کتـاب د 534 مخـه بیـا تـر 541 مخـه پـورې یـې د روښانیه، حلولیه، باطنیه فرقو دور تر سرلیك لاندې د پیر روښان یادونه کړې ده.

٭٭٭

## روښانیان د مغلو تاریکیان

مؤلـف یـې ښـاغلی عبـدالاکبر خـان اکبـر او سـریزه یـې خیـال بخـاري صـاحب لیکلـې ده. پـه 160 مخونـو کـې پـه 1966م کـال د اکتـوبر پـه 24مـه نېټـه د پېښـور د قصـه خـوانی بـازار د ادارۀ اشـاعت سـرحد لـه خـوا چـاپ شـوی دی.

پـه دې کتـاب کـې اکبـر صـاحب د بایزیـد روښـان پـر ژونـد، مبـارزه، تصـوف او د هغـه د پیروانـو پـر حـالاتو پـوره څېړنه کړې ده. زه دلته د اکبر صاحب د خیالاتو یو لنډ اقتباس وړاندې کوم:

" کـه سـړی بـې غرضـه، بـې تعصـبه د دغـې وخـت پـه واقعـاتو او تـاریخي حـالاتو نظـر اوکـړي، نـو پـه دې نتیجـه بـه اورسـي چـې کـوم پیـران، عالمـان د مغلـو مخـالف وه او د پښـتنو خیرخواهـان وه، پـه اصـل و نسـب هـم د پښـتنو د نسـل نــه وه. هغـه د غیـر پښـتون پیـر مـلا پـه حقلـه ښـه مسـلمانان نـه و، ولـې چـې د وخـت د پاچاهـانو مخـالف و. لکـه بایزیـد، کریمـداد، مـرزا خـان، شـیخ فریـد، پیـر طیـب، پیـر پهلـوان، شـیخ الیـاس، پیـر جـلال، دولـت لـوانی، ازاد میـر اورکـزی، یوسـف خـان افریـدی، بهـار خـان مهمنـدزی، پاینـده خـان مهمنـدزی، مـلا دولـت مهمنـدزی )محمـدزی( وغیـره. دا ټـول پښـتانه د مغلـو بـرخلاف وه او د پیـر روښـان مریـدان او پرهـدار وو. اخـون درویـزه هـم خپـل نسـل

ازبکو ترک ثابتوي او دا هم لیکي چې زما نیکه سره پښتنو ډېره بدي کړې وه. دده بې عزتي یې کړې وه او د بلخ ازبکو ددې پښتنو نه بدل اخیستی و."

✱✱✱

## روهي ادب

مؤلف یې ښاغلی محمد نواز طائر صاحب دی او د پښتو اکېډیمي پېښور یونیورستي له خوا چاپ شوی دی. دا کتاب په دوو جلدو کې دی چې د لومړي جلد له 178 مخ نه تر 214 مخ پورې تر لاندینیو عنوانونو لاندې مفصل بحث شوی دی:

د بایزید علمي مقام، د خیر البیان مطالب، د بایزید صوفیانه مسلك، د بایزید تصانیف، د روښانیانو مسلك، د روښانیانو ادب او تعلیمات، روښانیان او سماع او د روښانیانو ادبي خدمات.

✱✱✱

## فالنامه د مصحف د خوشحال خان خټك

مؤلف یې خوشال بابا، سریزه او مرتب یې حبیب الله رفیع او خپرونکی یې خوشحال ریسرچ سیل دی. د چاپ کال یې 1985م دی. ددې کتاب د سریزې له 4 مخ نه تر 7 مخ پورې د روښانیانو په الف نامه باندې بحث شوی دی. کتاب ټول 86 مخه لري.

✱✱✱

## کتاب ښود

د ښاغلي حبیب الله رفیع په زیار او کوښښ پر 1356هـ ش کال د اطلاعاتو او کولتور د وزارت له خوا (په دوو وروستیو پېړیو کې د پښتو چاپ شوو اثارو سیمینار) په ویاړ چاپ شوی دی چې ټول 275 مخه لري. ددې کتاب د ب په ردیف په 49 مخ کې د بایزید انصاري نوم راغلی دی.

✱✱✱

## مخزن الاسلام

د اخون درویزه مشهور تالیف دی چې پر 1969م کال د پېښور یونیورستي پښتو اکاډمي په اهتمام په حمیدیه پریس کې چاپ شوی دی او سید تقویم الحق کاکاخېل صاحب وربانديې اوږده مقدمه لیکلې ده، چې د مقدمې د (لهـ ( مخ څخه تر )سهـ( مخ پورې د اخون درویزه او بایزید انصاري تر سرلیك لاندې یادونه لري.

او هم په خپله د مخزن د متن د لومړي مخ او 122 مخ نه تر 136 مخ پورې د بایزید روښان غندنه ده او لکه څنګه چې اخون درویزه ددې کتاب په سر او پای کې لیکي: د مخزن الاسلام د لیکلو سبب د بایزید روښان وجود و، دا کتاب په مخزن درویزه، مخزن پښتو او مخزن اخوند هم مشهور دی. لکه خوشحال خان چې وایي:

که ژوندی شي افلاطون
په سوات کې ونیسئ سکون

✱✱✱

## نوې رڼا

مؤلف یې ښاغلی قیام الدین خادم دی او د ښاغلي سید قاسم (رشتیا) او محمد ابراهیم کندهاري په مرسته چاپ شوی دی. دا د اجتماعي افکار سل مقالې دي چې په 1342هـ ش کال چاپ شوي دي.

په دې کتاب کې د "افغان ملیت او پښتني ښځې" تر سرلیك لاندې د بایزید د ښځینه لمسیانو د مبارزې یادونه شوې ده.

✱✱✱

## ورکه خزانه

د ښاغلي همېش خلیل تالیف دی چې په 1960م کال د دسمبر په میاشت کې د پېښور ښار د جهانګیر پورې د بابو حیدر روډ د دارالتصنیف له خوا چاپ او خپور شوی دی. ددې کتاب دویم ټوك د لومړي مخ نه تر پنځه څلویښتم مخ پورې د بایزید انصاري تر سرلیك لاندې د بایزید روښان د ژوند پېښې راغلي دي او د میرزا خان انصاري دا بیت ورته لیکل شوی دی:

دا فقیر مرزا ثنا د میا روښان کا
چې دانش یې د کل علم سربلند دی لکه شمع

✱✱✱

## اريانا دايرة المعارف

څلورم ټوك، د افغانستان د دايرة المعارف د ټولنې خپرونه، د چاپ كال يې 1341هـ ش )1962م( سپټمبر، او د چاپ ځاى يې كابل دولتي مطبعه دى. د كتاب له 542 مخ نه تر 544مخ پورې د )پير روښان بايزيد( تر سرليك لاندې يادونه شوې ده.

٭٭٭

## تـــــــاريخ افغــــــانستان
### )در عصر كوركانى هند(

مؤلف يې خداى بخښلى پوهاند عبدالحى حبيبي دى چې په1341هـ ش كال د افغانستان د تاريخ ټولني له خوا د كابل د پوهنې په مطبعه كې چاپ او خپور شوى دى.

ددې كتاب په 136 مخ كې يې د "نهضت هاى ملى در مقابل مغل" تر سرليك لاندې پر لاندې موضوعاتو باندې رڼا اچولې ده:

روښانيان و نهضت ايشان، فلسفۀ اين حركت، بايزيد روشن، جلال الدين، فتح غزنى و كشته شدن جلال الدين، احداد، كشته شدن احداد، عبدالقادر، كريمداد، هاديداد، الهام داد، مرزا خان انصارى او قادر داد.

د كتاب له 136 مخ څخه تر 162 مخ پورې د روښانيانو بحث دى.

٭٭٭

## تاريخ مختصر افغانستان

مؤلف يې پوهاند عبدالحى حبيبي صاحب دى چې په 1399هـ كال د وړې د مياشتې په لومړۍ ورځ د افغانستان د اكېډيمى د تاريخ ټولنې له خوا د كابل په دولتي مطبعه كې چاپ شوى دى.

ددې كتاب د دويم ټوك په شپږمه برخه او له 48 مخ نه تر 62 مخ پورې د "روښانيان" تر سرليك لاندې د بايزيد روښان يادونه راغلې ده.

٭٭٭

## تذكرة الابرار والاشرار

مؤلف يې اخون درويزه دى چې په 1309هـ كې د هندوستان په هند پريس مطبعه كې چاپ شوى دى. ددې كتاب په 135 مخ كې د تذكره سوم تر سرليك لاندې د بايزيد روښان غندنه شوې ده او هغه ته يې ملعون، مرتد او كافر ويلي دي او په 148 مخ كې د بايزيد روښان د كتاب خير البيان په باب خبرې لري.

" اين ملعون كتاب را تصنيف كرده بعضى كلمات او را به زبان عربى بلا ادراک ترتيب جمع اورده و بعضى را به زبان فارسى وبعضى را به زبان افغانى و انرا خيرالبيان نام برده. و چون مملو از كفر و الحاد و مشحون از افتراء و فساد بوده فقير انرا شرالبيان ناميده و اگر خر البيان نامند بهتر است."

) "د تذكرة الابرار و الاشرار" 128 مخ(

٭٭٭

## دبستان مذاهب

دبستان مذاهب يو فارسي كتاب دى چې مصنف يې د بايزيد روښان د مرګ نه شپېته-اويا كاله وروسته د هند په بېلابېلو سيمو كې ګرځېدلى او د هغه وخت د رابجو بېلابېلو فرقو حالات يې راجمع كړي دي چې ټول دولس مذهبي عقيدې دي.

كتاب له واقعاتو سره افساني هم لري او دولس مذهبي عقيدې پكې ځېرل شوي دي او يو باب پكې د روښانيانو پر موضوع ليكل شوى دى. ددې باب په درې فصلونو كې اول فصل د روښانيانو پر هغه خيالاتو مشتمل دى چې مصنف وايي: ما د )پير روشن د كتاب( حالنامه نه نقل كړي دي، د كتاب په دويم فصل كې د روښانيانو نور معلومات ليكل شوي دي چې مؤلف د نورو ماخذونو نه راغونډ كړي دي او په دريم فصل كې يې د روښانيانو تاريخي حالات بيان كړي دي. په كتاب كې د مؤلف نوم نشته خو صمصام الدوله شهنواز خان ددغه كتاب مؤلف ذوالفقار دستاني )اصفهانى( بللى دى، چې مؤيد يې تخلص وو.

٭٭٭

## لغـــات نـــامـــه

لغات نامه د دهخدا تاليف دى چې په 1348هـ ش كال د خرداد په مياشت په تهران كې چاپ او خپور شوى دى او د "ب" په رديف كې په 618 مخ كې د بايزيد تر نوم لاندې داسې ليكي: " بايزيد انصاري از صوفيۀ زمان اكبر شاه درافغانستان ملقب به پير روشن بود و رجوع به قاموس الاعلام تركى، جلد 2 ص 1225

شود."

***

## عمل صالح

عمل صالح مشهور په شاجهان نامه د محمد صالح کنبولاهوري تاليف چې د بنګال د رايل ايشيا ټيک سوسايټي له خوا په 1939م کال د کلکتې بپټسټ مشن مطبعه کې چاپ شوی دی.

ددې کتاب د لومړي ټوک په 363 مخ کې تر دغه سرليک لاندې د روښانيانو يادونه شوې ده. مضمون تر 379مخ پورې غځېدلی دی.

" بيان محو اثار و رسوم بدعت که در ميان طوائف افغانان کوه نشين به سرحد کابل شيوع و وقوع يافته بود، از توجه اشرف ..." .

***

## فرهنګ زبان و ادبيات پښتو

دا کتاب د ښاغلي زلمي هېوادمل په زيار او زحمت راټول شوی دی. په 1356هـ ش کال د افغانستان د ښوونې او روزنې او د تاليف او ترجمې له خوا په 549 مخونو کې د عبدالکريم پتنګ په اهتمام په دري ژبه چاپ شوی دی.

ښاغلي هېوادمل دغه اثر خپل استاد پوهاند عبدالحی حبيبي صاحب ته اهداء کړی دی.

په دې فرهنګ کې د دويمې هجري پېړۍ )له 139 څخه تر 154هـ څخه تر 1397 هـ پورې( د پښتو ژبې د هغو نثر ليکونکيو او شاعرانو احوال او د هغوی د کلام نمونې راغلي دي چې په دغه دوران کې يې ژوند کاوه. د معرفي شويو کسانو شمېر 2000 تنو ته رسېږي چې نمونه يې د الفبا په ترتيب راغلی دي.

ددې کتاب په لاندينيو مخونو کې د روښان او روښاني شاعرانو مختصره خو جامع پېژندګلوي شوې ده:

7، 29، 71، 58، 179، 383، 399 او 466 مخونو کې د ابابکر قندهاري، ارزاني روښاني، بايزيد روښان، خواجه محمد، دولت لواني، قادر داد، کريمداد او مخلص علي محمد پېژندنه شوې ده.

***

## صراط التوحيد

دا کتاب د بايزيد روښان تاليف دی چې د يوه ليک په ډول يې ليکلی دی او دخليفه دولت په لاس يې د هند مغولي پاچا اکبر ته لېږلی و.

دا کتاب په 1952م کال کې ښاغلي عبدالشکور د پېښور ميوزيم پخواني مهتمم چاپ کړ چې 116 مخونه لري. لومړي 30 مخه يې خپل سرګذشت په دري ژبه ليکلی او پاتې کتاب يې په عربي او دري ژبه ليکلی دی.

د کتاب په پای کې يې راوړي دي چې دا کتاب په 978هـ کال ليکل شوی دی.

***

## ماثر الامراء

د صمصام الدوله شاهنواز خان تاليف دی او په 1790م کال په کلکته کې د بنګال د ايشيا ټيک سوسايټی له خوا چاپ او خپور شوی دی.

ددې کتاب د دويم ټوک په 242 مخ کې د رشيد خان انصاري تر نوم لاندې د بايزيد روښان يادونه شوې ده.

***

## مجاهدات روشانيان عليه تجاوزات امپراطوری مغل هند

د 1329هـ ش کال په سر کې د عبدالروف بېنوا يوه ليکنه د کابل د اصلاح د ورځپاڼې په لومړي مخ کې خپره شوه. په دې مضمون کې د روښانيانو مبارزه په پوره ډول ځېړل شوې ده.

***

## منتخب التواريخ

د عبدالقادر بن ملوک شاه بدواني تاليف دی. په 299، 346، 349 او 354 مخونو کې تر دې عنوان لاندې د روښانيانو ذکر راغلی دی:

مباحثه اهل الاسلام انصاري، ذکر پير روشنايی، محاربه با افغانان روشنايی.

***

## ميخانه راز

دا يـو نظـم دی چې ظفر خـان د هنـد د مغولي پاچـا جهـانګير لـه خـوا چې لـه 1032هــ ق كـال څخـه تـر 1038هــ ق كال پوری د كابل ګورنر او د روښانيانو دښمن و، ويلی دی.

د بايزيـد روښـان د لمسـي احـداد د مړينـي پېښـهٔ يـې د يـوه دښـمن پـه حيث د يـوه نظـم پـه شـكل كـې ليكلـې ده او هـم يې د بايزيد په غندنه كې بيتونه ويلي دي او بيا د هغه د زوی جلال الدين د مړينې كيسه ليكې.

قلمي نسخه يې د پوهاند رشاد صاحب په كتابتون كې موجوده ده.

✸✸✸

## نـظـری بــه ادبـيـات پـشـتـو

مؤلـف يـې ښـاغلی پوهانـد عبـدالحی حبيبـی صـاحب دی او پـر 1357هــ ش كـال د عبـدالكريم پتنـګ پـه اهتمـام د ادبياتو او بشري علومو د پوهنځي له خوا خپور شوی دی.

ددې كتـاب لـه 25 مـخ نـه تـر 27 مـخ پـورې د بايزيـد انصـاري د پيـری او مبـارزې او د هغـه د تاليفـاتو يادونـه شوې ده.

✸✸✸

## خيــــــــر البيـــــان

دا د بايزيـد روښـان مشـهور كتـاب دی چـې پـر 1967م كـال د جـون پـه مياشـت كـې د حـافظ محمـد عبدالقـدوس قاسمي پـه ترتيـب، تـدوين او حواشـي او د مولانـا عبـدالقادر پـه پېژنـدګلوی او د ښـاغلي خيـال بخـاري پـه اهتمـام د پېښـور پـه خيبـر ميـل پـريس كـې چـاپ شـوی دی. (پـه كابـل كـې دپښـتو ټـولنې او پـه بنـون كـې دپښـتو دادبـی مركـز سرای نورنګ لخوا د خيرالبيان دچاپ سوو نسخو ذكر مخكی سويدی – فاروق أعظم).

كتـاب سـريزه پـر دې چـې د بايزيـد روښـان مـذهبي افكـار څرګنـدوي، پـه مقدمـه كـې يـې د مولانـا عبـدالقادر تـر پېژندګلوی وروسته د مولانا محمد عبدالقدوس قاسمي له خوا دا موضوعات څېړل شوي دي:

1. د بايزيد انصاري كورنی او ابتدايي حالات
2. د بايزيد علمي زده كړه
3. د بايزيد د طريقت، پيری او مريدی سلسله
4. له خپل پلار سره د بايزيد اختلاف
5. د بايزيد د دعوت خپرېدل
6. د اخوند درويزه مخالفت
7. د هند له امپراطوری سره د بايزيد مبارزه
8. د بايزيد اولاد
9. د روښانيانو سياسي مؤقف
10. د بايزيد د اولاد شجره
11. د بايزيد خلفاء
12. د بايزيد تصانيف
13. د خير البيان پېغام او د بايزيد مسلك.

✸✸✸

## اردو دايـرة الـمـعـارف اسـلامـيـه

دويـم جلـد، د پنجـاب دلاهـور پوهنتـون پـه اهتمـام )د 1ج_1فـن( پـوری 1386هــ_1966هــ لـومړی طبـع. ددغـه ټوك پـه 137 مـخ كـې د افغـان پـه رديـف كـې د پښتو ادب تـر سـرليك لانـدې د بايزيـد انصـاري او خيـر البيـان ذكـر كـړی دی او دا يې د پښتو لومړی په لاس راغلی اثر ګڼلی دی.

✸✸✸

## پـټـــهــــــــان

د انګريـز سياسـي او مـؤرخ )اولـف كيـرو( تـاليف دی او سيد محبـوب علـي پـه اردو ژبـاړلی دی. پـر 1967م كـال د پېښور د پښتو اكاډمۍله خوا په خيبر ميل پريس كې چاپ شوی دی.

د دې كتاب په 277، 280، 285، 292، 293 او 319 مخونو كې د بايزيد روښان يادونه شته.

نومـوړی (انګريـز ليكـوال د يوبـل پخوانی انګريـز ليكـوال راورټـي لـه خـولې چـې دواړه د هنـد پـه نيمـه وچـه كـې دبرتـانوی اسـتعمار سياسـی كـاركونكي وه) ليكلـي دي چـې هغـه وايـي چـې د بايزيـد پـلار انصـاري و او بيـا يـې سمدسـتي اعتـراف كـړی دی چې عبـدالله تاجـك و، خـو د اورمـړو سره اوسـېدلی دی او بيـا يـې دا هـم ليكلـي دي چـې پـه كـانيګرم كـې د اورمـړو سره ډېـرې كـورنی داسـې دي چـې د خـود پسـندی پـه وجـه يـې خـان تـه سيد يـا انصـاري لقـب

ورکړی و.
بیا اولف کیرو لیکي چې: "زما په خیال چې د بایزید پلار به د خپل مذهبي حیثیت د اوچتوالي په وجه خپل ځان ته انصاري لقب ورکړی وي، خو بیا هم د اورمړو سره اوسېدلی دی. که بایزید نسلي طور اورمړ نه وي نو په تربیتي اعتبار خو اورمړ و."
)پټهان، 281 مخ(

***

## پښتو )ادب ایک تعارف(

دا کتاب پروفیسر عبدالروف نوشهروي لیکلی دی او په 1986م کال په پاپولر پریس پېښور کې چاپ شوی دی.
دا کتاب په یوولس بابه کې لیکل شوی دی. په دویم باب کې یې د "ابتدایی اثار" تر سرلیك لاندې د بایزید انصاري اثر "خیر البیان" پېژندګلوي او بیا د بایزید روښان پېژندګلوي او د هغه تالفیات، تصوف او د هغه د آثارو پښتو، فارسي او عربي نمونې رانقل کړي دي.
له 33 مخ څخه تر 35 مخ پورې او بیا یې په 65 مخ کې د "روشنائی مکتبۂ فکر کی شعراء" تر سرلیك لاندې د بایزید مکتب یو فکري انقلاب بللی دی او ددې دورې په شاعرۍ کې یې معنوي او ظاهري بدلون څرګند کړی دی او همدا یې زیاته کړې ده چې بې له بایزید نه د هغه نورو مریدانو او پیروانو لکه مخلص، ارزانی، میرزا خان انصاري، واصل او دولت تصوف یې د شاعرۍ په واسطه و پښتو ته ورننیوست او په دې ډول یې د پښتو د ادب لمن پراخه کړه.

***

## پښتو شاعری

دا کتاب لیکونکی ښاغلی فارغ بخاري او ښاغلی رضا همداني دی چې په 1966م کال د انجمن ترقی اردو )پاکستان( له خوا په کراچۍ کې چاپ شوی دی.
په دې کتاب کې د امیر کروړ نه نیولي بیا تر ملا نعمت الله پورې د پښتو شاعران پر څلورو دورو وېشل شوي دي او د هر یوه شاعر یوه یا دوه غزلې یې په اردو شعر ترجمه کړې دي. په دې لړ کې په دویم دور کې "میرزا خان انصاري" "دولت خان لوانی" تر سرلیك لاندې د پورتنیو شاعرانو په پېژندګلوی کې د بایزید روښان یادونه راغلې ده او د نوموړیو شاعرانو څو غزلې په اردو شعر ترجمه شوې دي.

***

## پښتون کون؟

دا هغه تحقیقي، تاریخي او تنقیدي اثر دی چې مؤلف یې محترم استاد پرېشان ختك دی او مولانا عبدالقادر ته یې په خپل ډېر اخلاص منسوب کړی دی. بیا کتنه )نظر ثاني( یې پروفیسر محمد نواز طائر او پروفیسر جهانزیب نیاز کړې ده او د "خوشحال ریسرچ سیل" په سلسله کې په جدون پریس کې د پښتو اکاډمی پېښور یونیورسټی له خوا چاپ شوی دی. کتاب له متعلقاتو سره 620 مخه لري او په 595 مخونو کې د پښتنو پر اصل او نسل او بیا په تېره د خټکو په قبیله او په هغه کې د خوشال خان او د هغه د اولاد پر کړو وړو ښه پوره رڼا اچولې ده او نورې څېړنې یې کړې دي.
ددې کتاب له 242 مخ نه تر 258 مخ پورې د بایزید انصاري قبیله )اورمړ او انصاري( څېړلې او بیا یې د هغه ټول ژوند او مبارزه په مختصر ډول سره څېړلې ده.

***

## پہلی لسانی اور ثقافتی کانفرنس

دا د هغو مقالو مجموعه ده چې پر 1986م کال د اپریل په 29مه نېټه د صوبه سرحد د نومیالیو پوهانو او محققینو له خوا د پېښور پوهنتون په یوه تالا کې ولوستل شول چې ما )لیکونکي( هم پکې ګډون درلود.
وروسته دا مقالې د ښاغلي محمد نواز طائر په ترتیب او تدوین د پښتو اکاډمی پېښور یونیورسټی او د اکاډمي ادبیات پاکستان اسلام اباد په تعارف په هم دغه کال په جدون پریس پېښور کې چاپ شوې او د صوبه سرحد وزیر اعلی ارباب محمد جهانګیر خان ته منسوب شوې.
دا مجموعه 324 مخه لري او د 18 مقالو لرونکې ده چې یوه مقاله د "سرحد کی صوفی شعراء" تر سرلیك لاندې د ښاغلي پروفیسر جهانزیب نیاز صاحب له خوا لوستل شوې. ددې مقالې په 76 مخ کې یې د پښتو په صوفیانه ادب کې پر روښاني تحریك د هغو پر علم و ادب د بایزید انصاري او د هغه د پیروانو پر تصوف او ادب څېړنه کړې ده.
او په همدغه کنفرانس کې یوه مقاله د "پشتو ادب" تر سرلیك لاندې د پروفیسر افضل رضا له خولې

ولوستل شوه چې 212 مخ کې د خير البئان په نامه د بايزيد انصاري لنده پېژندګلوي د هغه په مبارزه او تصنيفاتو باندې يې رڼا اچولې ده.

***

## تاريخ رياست سوات

دا کتاب د ښاغلي الله بخش يوسفي تاليف دی چې د محمد علي ايجوکيشنل سوسايټۍ له خوا په عظيم بپلشنګ هاوس 27، نيو مارکېټ کابلی ګېټ پېښور ښار کې چاپ شوی دی. ددې کتاب له 55 مخ نه تر 59 مخ پورې د "تحريك روشنايى" تر سرليك لاندې د بايزيد روښان يادونه راغلې ده.

***

## توزک جهانګيری

د شهنشاه نورالدين جهانګير د ژوند حالات چې پخپله يې ليکلي دي، ترجمه او حواشي يې اعجاز الحق قدوسي او نظرثاني يې د سيد حسام الدين راشدي له خوا په 1970م کال شوې او په زرين ارټ پريس لاهور کې چاپ شوی دی.

ددې کتاب په 110 مخ کې د "الله داد پسر جلال خان کی بغاوت کې تفصيل" تر سرليك لاندې د الهداد، د جلال الدين زوی او د پير وښان د لمسي په نوم څه ليکل شوي دي.

***

## خوشحال خان خټك
## (بابای پشتو شاعری)

مؤلف يې شاه جهان خان او د پښتو اکاډمۍ پېښور يونيورسټۍ له خوا په 1985م کال کې چاپ شوی دی. کتاب له متعلقاتو سره 165 مخه لري. په 17 فصلونو کې يې د خوشال خان د ژوند او ادب پوره پېژندګلوي کړې ده. د "پشتو زبان کی قدامت اور ادوار" تر سرليك لاندې يې د ميرزا خان انصاري پر شاعرۍ څېړنه کړې او په دې لړ کې يې په 22 مخ کې د بايزيد انصاري يادونه کړېده. په دې برخه کې زه له دغه کتابه د ميرزا خان انصاري د غزل يوه مقطع دلته رانقلوم:

د نيك بخت په بخره شهد
د کم بخت په ځان لاشه يم

د ميرزا په خوله وهيږم
يو روښان بې مثله زه يم

***

## رود کـوثـر
### اسلامی هند اور پاکستان کی مذهبی اور روحانی تاريخ )عهد مغليه(

مؤلف يې ډاکټر شيخ محمد اکرام دی او په 1975م کال د اداره ء ثقافت اسلاميه له خوا په نسيم پريس لاهور کې چاپ شوی دی.

ددې کتاب په 43 مخ کې د "روشنيه فرقه" تر سرليك لاندې او بيا د "پير روشن ميا بايزيد انصارى" تر سرليك لاندې يو مضمون خپور شوی دی چې د پير روښان د ژوند حالات يې په تفصيل سره بيان کړي دي او بيا "پير روشن کی متعلق اختلافات" تر سرليك لاندې يې يوه موضوع څېړلې ده او هغه دا چې د حالنامې قلمي نسخه چې اوس په عليګړهـ پوهنتون کې خوندي ده، هغه اصل نه ده بلکې د حالنامې يو نوی اېډيشن دی.

د مصنف تر مړينې 70 يا 80 کاله وروسته د عالمګير (اورنګزيب) په زمانه کې د هغه ديوه مخلص مريد له خوا ترتيب شوې دی. نوموړی ليکوال دا وينا د ډاکټر ظهور الدين صاحب د مضمون په حواله ليکي چې سرليك يې "پاکستان مې فارسی ادب" دی او د حالنامې 1-2 مخونه يې د سند په ډول وړاندې کړي دي او دا مضمون د کتاب )رود کوثر( تر 58 مخ پورې دوام لري.

***

## شیخ رحمکار صاحب
### )کاکا صاحب(

مؤلف يې محترم مؤرخ او محقق سيد بهادر شاه ظفر کاکاخېل دی. په 1986م کال په کوهاټ روډ پېښور کې چاپ شوی دی او د حضرت شيخ رحمکار صاحب عقيدت مندانو ته يې منسوب کړی دی. په 73 فصلونو او 347 مخونو کې يې د حضرت شيخ رحمکار بابا )مشهور په کاکا صاحب( سوانح ليکلي ده. که څه هم محترم ليکونکی يې مختصر ګڼي خو ډېر مشرح دی.

ددې کتاب په وروستۍ برخه کې يې د "سياسي حالات" تر سرليك لاندې د "تحريك روشنيه کی بانی کا مختصر حال" او "روشانيو کا سياسی موقف" تر سرليکونو لاندې د بايزيد انصاري يادونه کړې ده.

د کتاب له 334 مخ څخه تر 347 مخ پورې يې د بايزيد انصاري لنډه پېژندنه او د هغه مذهبي او سياسي مبارزه په خورا مدلل ډول تشريح کړې ده او شپږ دليله يې راوړي دي چې د هغو په واسطه د بايزيد روښان مخالفت شوی دی. شپږم دليل يې زه د بېلګې په ډول وړاندې کوم:

" د بايزيد سياسي او مذهي جدوجهد دواړه نامکمل او بې کفايته و. وروسته يې اثرات پاتې نشو، مګر د پښتو ژبې د ادب دپاره دده خدمات د قدر وړ دي او موږ يې ستايو."

✸✸✸

## صوفيائی خټك

مؤلف يې ډاکتر عبدالرشيد دی او د عثمان غني په اهتمام په اسحاقيه پرنټنګ پريس کراچۍ کې چاپ شوی دی او د جمال المعروف په فقير بابا چشتي نوم ته منسوب شوی دی. دا کتاب له متعلقاتو سره 185 مخه دی چې پکې د لاندينيو پيرانو بحث په مفصل ډول شوی دی:

مست بابا، بهادر بابا، فقير بابا، ميرزا ګل بابا، حضرت شيخ بابر بابا، پير بابا، بايزيد انصاري، اخوند درويزه او پنجو بابا.

د کتاب له 157 مخ څخه تر 164 مخ پورې د بايزيد انصاري لنډه سوانح، د هغه مبارزه او تاليفات )خير البيان، مقصود المؤمنين، صراط التوحيد، فخر الطالبين او حالنامه( يې په ښه ډول تشريح کړي دي او د مضمون په لوستلو کې له بايزيد انصاري سره د ليکونکي مينه ښکاري.

✸✸✸

## ماثر الامراء

د صمصما الدوله شهنواز تاليف دی او پر 1969م کال پروفيسر محمد ايوب قادري په اردو ژبه ژباړلی دی او د لاهور د اردو بورډ له خوا خپور شوی دی. (ددې کتاب اصل په 1790م کال په کلکته کې د بنګال د ايشيا ټيك سوسايټۍ له خوا چاپ او خپور شوی دی – فاروق أعظم).

ددې کتاب د دويم ټوك له 244 مخ څخه تر 252 مخ پورې د "رشيد خان انصاری" تر سرليك لاندې د بايزيد انصاري او د هغه د اولاد يادونه شوې ده.

✸✸✸

## منتخب التواريخ

مصنف يې ملا عبدالقادر ملوك شاه بدايونی او ژباړن يې محمود احمد فاروقي دی.

نوموړی ليکوال د هندوستان د اسلامي شاهانو تذکره، د محمود غزنوي له زمانې څخه د اکبر تر زمانې پورې، په درېو برخو وېشلې ده. دا کتاب پر 1962م کال د شيخ غلام علي اينډ سنز، کشميري بازار لاهور له خوا خپور شوی دی. دا کتاب ټول 778 مخونه لري او په 523، 524 او 525 مخونو کې يې د "پير روشن کی لوټ مار"، "روشنائی قبيله پر فوج کشی" او "روشنائی کی شکست" تر سرليکونو لاندې د بايزيد روښان په ذم کې حالات بيان کړي دي چې يو مثال يې دا دی:

بيت:

اګر بيضه زاغ ظلمت سرشت
نهی زير طاوس باغ بهشت
شود عاقبت بيضۀ زاغ زاغ
کشد مرغ بيهوده طاؤ باغ

ژباړه: )که د تور کارګه )کارغه( هګۍ د جنت د بڼ تر طاوس لاندې کړې، بيا هم د کارګه هګۍ کارګه شي او د جنت د بڼ طاوس بې ځايه خواري کړي. بايزيد انصاري يې له کارګه او د هغه زوی جلال الدين يې د کارګه د بچي او د ډهلي سلطان )اکبر پاچا( يې د جنت د بڼ له طاوس سره تشبيه کړي دي.

✸✸✸

## يوسفزي

د كتاب مؤلف الله بخش يوسفى دى او د كتاب موضوع د مردان، ملاكند، سوات، بونير، دير او باجوړ د سيمو تاريخ دى.
كتاب په 1960هـ كال اقبال كالوني كراچى خپور كړى دى چي ټول 701 مخونه لري او تر 691 سرليكونو لاندې د يوسفزو پښتنو تاريخ، پر هغوى باندې د نورو واكمني او د هغو كړه وړه په ښه او مفصل ډول تشريح شوي دي.
ددې كتاب له 248 مخ څخه تر 256 مخ پورې د "تحريك بايزيد انصارى" او "حضرت اخون درويزه" تر سرليكونو لاندې د بايزيد انصاري تحريك او د اخون درويزه مخالفت په لنډ خو جامع ډول تشريح شوي دي.

***

## بايزيد انصاري

دا د ايم.فل او پي.ايچ.ډي مقاله ده چي د پېښور پوهنتون د پښتو څانګي زده كوونكي اختر خان ليكلي ده. د ايم.فل مقاله 62 مخه ده او په 8 پاركو كي يې د بايزيد روښان زېږېدنه، وړوكوالى، تعليم، تصوف، كشمكش، هجرت، قيام، اغاز، مصاف، مرينه او د مړيني كال او بيا يې د پي.ايچ.ډي مقاله كي پراخوالى وركړى دى. ددې مقالې لارښود ښاغلى پرېشان خټك دى.

***

## پښتو درې مياشتنى رساله

د 1377هـ ش كال د ربيع الاول او د 1957م كال د اكتوبر د مياشتي ګڼه چي د پښتو اكاډمى پېښور يونيورستى له خوا د مولانا عبدالقادر په نګراني او د ښاغلي خيال بخاري په چلونه چاپ او خپره شوې ده.
ددې مجلې په 24 مخ كي د مولانا عبدالقدوس په قلم د )بايزيد روښان( تر سرليك لاندې يو مضمون خپور شوى دى، چي تر 36 مخ پورې غځېدلى دى. دا مضمون خورا علمي او تحقيقي اثر دى.

***

## پښتو درې مياشتنى رساله

د 1958م كال د جولايي-اګست- سپتمبر د مياشتو لومړى جلد، څلورمه ګڼه د مولانا عبدالقادر په نګراني او د ښاغلي خيال بخاري په چلونه د پېښور يونيورستى پښتو اكاډمى له خوا په منظور عام پريس كي چاپ شوې ده.
ددې رسالي له 103 مخ څخه تر 119 مخ پورې د بايزيد روښان مذهبي افكار تر سرليك لاندې د مولانا عبدالقدوس په قلم يوه پخه ليكنه شته.
په دې ليكنه كي د صراط التوحيد، دبستان مذاهب، خير البيان، د ارزاني ديوان، تذكرة الابرار او مخزن الاسلام د مرزا دولت ديوانونو يوه لنده، خو جامع معرفي سوي ده. زه يې يو څو كرښي د بېلګي په توګه رانقلوم:
" مغل مؤرخينو )لكه طبقات اكبري، مأثرالأمراء، عمل صالح، مصنفين( هم په خپلو كتابونو كي د بايزيد او د روشانيانو په باب كي خپل معلومات درج كړي دي، خو دوى چي څومره ددې علاقي نه په سوونو ميله لري و، دغه هومره ددې ځاى د حالاتو نه بې خبره وو، ځكه دوى چي څه ليكلى اكثره ګپي شپي ويشتلي دي. دغه ټولي ګپي شپي ذكاو الله خان په خپل اردو كتاب "تاريخ هندوستان" كي راجمع كړي دي او يوه لويه افسانه يې ترې جوړه كړې ده.
ابو القاسم رفيق دلاروي په انمه تلبيس كي هم ددغه رواياتو نه كار اخيستى دى."

)پورتنى رساله، 160 مخ(

***

## پښتو رساله

د 1983م كال د مى د مياشتي د ګڼي له 50 مخ نه تر 56 مخ پورې يو مضمون خپور شوى دى چي سرليك يې "بايزيد انصارى پير روشان يا پير تاريك( دى. ددې مضمون ليكونكى ښاغلى عبدالحليم اثر دى.

***

## پښتو رساله

د 86_1985م كال د رسالو مجموعه ده چي د پېښور پوهنتون پښتو اكاډمى له خوا خپره شوې ده.
ددې رسالې په 106 مخ كي يو مضمون خپور شوى دى چي سرليك يې )د مسجع او مقفى نثر نه جديد نظم پورې( دى. د مضمون ليكونكى ښاغلى ډاكتر راج ولي شاه خټك دى. په دې مضمون كي د بايزيد انصاري د خير

البیان یادونه شوې ده.

٭٭٭

## پښتو رساله

د 1987م کال میاشتنۍ رسالې کلیز نمبر 52 مخ کې د (جمال او رومان د پښتنو) تر سرلیك لاندې یو مضمون خپور شوی دی. د مضمون لیکونکی ښاغلی ډاکتر راج ولي شاه خټك دی او په دې ډول یې د بایزید انصاري یادونه کړې ده:

" د پښتنو په تاریخ کې شپاړسمه عیسوي پېړۍ داسې ده چې موږ ته یې د فخر وړ فلسفي راکړې دي. دغه باشعوره فلسفي پیر روښان بایزید انصاري دی چې بنیادي توګه بایزید یو صوفي و. د هغه پرورش هم په یوه خاص مذهبي ماحول کې شوی و، خو نابغه و، د خپل ماحول او مروجه مذهبي روایتونو نه مطمئن نه و.

دده نه وړاندې چنګیز خان، هلاکو خان، امیر تیمور د مظالمو خونړی دور تېر شوی و چې په نتیجه کې مسلمانان صوفیان د تنهایۍ په غارونو کې پټ شوي وو، دنیا یې پرې ایښې وه او په اسلامي تصوف کې هم د عیسایت، بودازم او هندوانو په شان د جوګیتوب او رهبانیت روایت خور شوی و.

بایزید هسې خو صوفي و، ولې مزاج یې پښتون و. د عمل قایل و نو ځکه په اسلامي تصوف کې یې د تجدید په ذریعه د یوې نوې فلسفې روح و رپوك وهلو. د تصوف په لاسوو کې یې توره ورکړه او د جنګ میدان ته یې راوستو. د تصوف ددې نوي رجحان په شا د هغه پښتون فکر او هم د هاغه رومانیت و. هغه ولوله، جوش او د دلیل په جذباتو دانایي وه. د روح بصیرت و، د وجداني پوهې رڼا وه."

٭٭٭

## پشاور یونیورسټی جرنل

مدیر اعلی یې پروفیسر پرېشان خټك دی. د رسالې په 100 مخ کې یو مضمون خپور شوی دی چې سرلیك یې (په پښتو نثر د عربي اثر) دی. لیکونکی یې ارباب محمد یعقوب خان او موضوع یې د ټولو پښتنو ادیبانو په اثارو کې د عربي اثر دی. په دې لړ کې یې د بایزید انصاري خیر البیان هم د بېلګې په توګه رااخیستی دی.

"وکښه هغه حرفونه چې په هره ژبه سازېږي د فایدې دپاره د ادمیانو ته دانایی له هر ځیزه مانه زده بیرون حرفونه د قرآن."

(پورتنۍ رساله، 1000 مخ)

٭٭٭

## زېري

دا رساله د افغانستان د اطلاعاتو او کولتور د وزارت او د پښتو د پرمختیا او پیاوړتیا د امریت له خوا چاپېدله.

ددې مجلې د لومړي کال لومړۍ (د 1355هـ ش کال د تلې د میاشتې) په ګڼه کې یو مضمون خپور شوی دی چې سرلیك یې (په لاتیني تورو د پښتو فونمیك) دی. په دې مضمون کې د روښانیانو او د هغو رسم الخط یادونه شوې ده. (د مضمون سرلیك د رسالې په شپږم مخ کې دی).

د همدې مجلې ددې کال د لیندۍ او مرغومي د میاشتو د ګڼې په 18 مخ کې د (خیر البیان) تر سرلیك لاندې یو مضمون خپور شوی دی. لیکونکی یې زلمی هېوادمل دی او پر لاندینیو موضوعګانو پکې بحث شوی دی:

د خیر البیان مؤلف، د خیر البیان محتویات، د خیر البیان نثر، د خیر البیان خطي نسخې او د همدې مجلې د دویم کال (1356هـ ش) کال د تلې او لړم د ګڼې په 67 مخ کې د روښانیانو او د هغو د پیروانو پر لیکونو بحث شوی دی.

٭٭٭

## زېری

دا مجله د کابل د پښتو ټولنې له خوا خپرېږي او علمي، ادبي، تاریخي او هنري مضامین خپروي. د 1355هـ ش کال د کب د میاشتې ګڼه د افغان سید جمال الدین د اتیایم تلین د نمانځنې علمي غونډې او د پښتو ټولنې سوغات (خصوصي نمبر) دی. ددې مجلې په نهم مخ کې یو مضمون خپور شوی دی چې سرلیك یې (د روښانیانو ادبي مکتب) دی. لیکونکی یې عبدالقیوم دی او مضمون پر لاندې وړو سرلیکونو باندې مشتمل دی:

خیر البیان، د خیر البیان لومړۍ یا اساسي ژبه، د خیر البیان موضوع. دلته د بایزید انصاري پر نورو تصنیفاتو هم رڼا اچول سوېده.

همدارنګه ددې مجلې په پېنځم مخ کې یو مضمون خپور شوی دی چې سرلیك یې (د خیر البیان مؤلف په کوم کال مړی دی؟) دی. ددې مقالې لیکونکی پوهاند عبدالشکور رشاد دی. دا مضمون د خیر البیان کابل چاپ په مقدمه کې چاپ شوی دی او د بایزید روښان په بین المللي سیمینار کې لوستل شوی دی او د "روښان یاد" نومي کتاب د مقالو په مجموعه کې چاپ شوی دی.

***

## زېړی

د 1356هـ ش کال د زمري د میاشتې خصوصي دویم نمبر، د کابل د پښتو ټولنې له خوا (په دوو وروستیو پېړیو کې د پښتو د چاپي آثارو د بین المللي سیمینار غړو ته د پښتو ټولنې سوغات) په ډول وړاندې شوې ده.

ددې مجلې په لسم مخ کې یو مضمون خپور شوی دی چې سرلیک یې (د پښتو اثارو په خپرېدو کې د سوات د حکومت ونډه) دی. د مضمون لیکونکی حبیب الله رفیع دی. نوموړي لیکوال په دې مضمون کې د سوات تاریخچه، د شیخ ملي نه بیا د سوات پاچا صاحب عبدالودود ګل شهزاده خدمات په ښه ډول ځېړلي دي. په دې لړ کې یې د بایزید روښان د مبارزې داسې یادونه کړې ده:

"... په لسمه هجري پېړۍ کې د پښتنو یو بل مفکر سیاس او د پښتنو پر خپلواکۍ او ازادۍ مَیِن شخص بایزید روښان هم د خپلو ملي غورځنګونو او ملي مبارزو لپاره د سوات سیمه خوښه کړه. ده دده زامنو او دده پیروانو له همدې ځایه د ګورګاني ښکېلاک (استعمار) پر ضد مېړنۍ مبارزې وکړې او د پښتني واکمنۍ د بیا ټینګولو هڅې یې وکړې او د بایزید روښان ارزښتناک آثار هم د همدې سیمې محصول دي."

***

## د زېړي کالنۍ

د افغانستان د علومو د اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو انستیټیوټ له خوا په 1357هـ ش کال کې خپره شوې ده. ددې مجموعې له 25 مخ نه تر 31 مخ پورې یو مضمون خپور شوی دی چې سرلیک یې (په روښاني نهضت کې د موسیقۍ سره رابطه) دی. د مضمون لیکونکی ځېړنوال دوست دی او د همدې مجموعې په 342 مخ کې د عبدالقیوم نورزي یو مضمون خپور شوی دی چې سرلیک یې (د روښاني نهضت سره د مخالفت علتونه) دی. مضمون له 343 مخ څخه تر 362 مخ پورې دوام لري.

***

## ژوندون

### اووه ورځنۍ رساله

نوموړې رساله د افغانستان د اطلاعاتو او کولتور له خوا خپرېږي. د 1359هـ ش کال د دلوې د څلورمې یا د 1981م کال د فبرورۍ د میاشتې په 43 او 44 شماره کې یې یو مضمون خپور شوی دی چې سرلیک یې (خیر البیان د بایزید روښان اثر) دی. د مضمون لیکونکی زرین ګردیوال په دې مضمون کې د بایزید روښان پوره پېژندګلوي کړې ده.

***

## سالنامه

د کابل د ادبي انجمن له خوا په 1311هـ ش (1933/1934م) کال، خپره شوې ده، ټول 414 مخونه لري. ددې رسالې په 399 مخ کې د (پښتو ته یوه کتنه) تر سرلیک لاندې یو مضمون خپور شوی دی چې لیکونکی یې امین الله زمریالی دی. نوموړی لیکوال د پښتو د شاعرانو په لړ کې د بایزید روښان او د هغه د پیروانو شاعرانو نمونه یاد کړي دي، خو میرزا خان انصاري یې "میرزا جان انصاري" لیکلی دی.

***

## د زیري ورځپاڼه

د کابل د پښتو ټولنې له خوا خپرېږي، چې د بنسټ کال یې 1316هـ ش دی او د چهارشنبې 1 ګڼه 1356 کال د وري د میاشتې دریېمه، پرله پسې 2249 ګڼه ده.

ددې ګڼې په لومړي مخ کې یو مضمون خپور شوی دی چې سرلیک یې "د روښان پیر د ډلې یو شمېر ناظم قصیده سازان" دی.

د مضمون لیکونی پوهاند عبدالحی حبیبي دی، په دې ډول یې د روښاني قادرداد مقام ټاکلی دی. قادر داد د روښانیانو په صف کې د کریمداد بنګښ ترڅنګ، خو وروسته د درېدلو حق لري. ځکه چې په کلام کې یې شعریت تر واصل دروند ښکاري. محتاوی او موضوع خو یې یوه ده، خو کله کله هنر هم پکې ځلېږي او سړی ویلای شي چې غزل یې د شعر ښکلاوې لري. لکه:

چې مدام په زړه کې خیال لري و جنګ ته
څوك به څه وایي دې مست شوخ و شنګ ته
چې پرې آه د عاجزانو اثر نکه
د نرمۍ خوی به څه ستایي و سنګ ته
لکه زه چې د هجران په اور ګداز شوم

خـــــــــداى دې هســـــــــــي ســـــــــــاعت پـــــــــېښ نكـــــــــه پتنـــــــــګ تـــــــــه.

)وركه خزانه، 1-113(

ليكوال ليكي چې د قادر داد د كلام په نمونو كې يوه اوږده قصيده هم شته چې په دې ډول شروع كېږي:

ابتدا چې د حمل په درست جهان سي
زمكه سبزه زرغونه هم كوهستان سي

او وروسته يې د قصيدې د مختلفو برخو تشريح په ښه ډول كړې ده. زه يې يواځې وروستى بيت رانقلوم:

هـېڅ سـړى بـه غلط نـه يي قـادر داده
كه پيرو د انصاري بـايزيد روښان سي

)وركه خزانه، 1-228(

✸✸✸

## د زيـري ورځـپـانـه

چهار شنبه 2 ګڼه، د 1356 كال د وري د مياشتې لسمه، پرله پسې 2450 ګڼه.

ددې ګڼې پـه لـومړي مـخ كـې يـو مضـمون خپـور شـوى دى چـې سـرليك يـې )د كريمـداد بـنګښ پـه ديـوان كـې قصايد( دى. ليكونكى يې پوهاند عبدالحى حبيبي دى.

د پښـتو ادب د قصـيدې پـه اوږده تـاريخ كـې چـې كلـه مـوږ د غـوري دورې تـر لـوړو او ښـكليو قصـيدو راتېـر شـو، نـو د روښـاني مكتـب د بـې خونـدو منظومـاتو سـره مخـامخ كېـږو او داسـې وينـو چـې لـه 800 ق راپـه دې خـوا پـر پښـتو ادب بانـدې د هنـري ركـود او د ښكلا د فقر دوره راغلـې ده، خـو كلـه كلـه پـه خپلـه پـه دغـه ډلـه كـې ځينـې د ذوق خاونـدان او د هنـر او ښـكلا روزونكـي شـاعران هـم پيدا شـوي دي چـې لـه هغـو څخـه يـو كريمـداد دى. دى پـه دري شعر كې ځان "عيشى" بولي.

د روښـاني ډلـې د منظومـاتو پـه لـړ كـې د كريمـداد ځينـې قصـيده وشـمه منظـومې د هېرولـو وړ نـه دي. دده ديـوان اكثـره پـه هغـو اوږدو تغزلاتـو ډك دى چـې سـړى يـې غـزل نشـي بلـلاى، خـو د قصـيدې ټـولې ځانګړتيـاوې او تعريفونه هم لري.

كريمـداد هـم عمـر پـه هندوسـتان كـې تېـراوه، پـه قوم بـنګښ و. ځينـې فارسـي غزلـې هـم د ديوان پـه پـاى كـې لـري چـې ادبـي ارزښـت يـې متوسـط دى، خـو دده پښـتو وينـا تـر نـورو روښـانيانو قـوي ښـكاري او سـړى ويـلاى شـي چـې كريمداد يو ناظم و چې د شعر درشل ته ورنږدې شوى و.

✸✸✸

## د زيـري ورځـپـانـه

چهارشنبه، 3 ګڼه، د 1356هـ ش كال د وري د مياشتې 17، پرله پسې 4451 ګڼه.

ددې ګڼې پـه لـومړي مـخ كـې يـو مضـمون خپـور شـوى دى چـې سـرليك يـې دى )د كريمـداد بـنګښ د قاصـېدو هنـري خـوا(. ليكونكى يـې پوهانـد عبـدالحى حبيبـي دى. كريمـداد كلـه د قصـيده سـرايانو پـر سـنت برابـر د بهـار د منـاظرو تثبيـت لـري او بيـا خپلـو عرفـاني او تلقينـي مطـالبو تـه تخليص او ګريـز كـوي او دلتـه نـو سـړى دا منـي چـې زمـوږ د پښـتو ادبيـاتو كـړى د لـوى افغانسـتان پـه سلسـله الـذهب پـورې نښـلي او هغـه رنګـه مطالـب چـې سـنايي پـه خپلو عرفاني او اخلاقي قصيدو كې ځاى كړي و، د كريمداد په كلام كې هم هغسې ښكاري. لكه دا قصيده:

ښـــــــــه نســـــــــيم چـــــــــې زېـــــــــرى راوړه لـــــــــه بهـــــــــاره
عنـــــــــدليب مـــــــــې پـــــــــه فغـــــــــان شـــــــــه تـــــــــر ګلـــــــــزاره
پـــــــــه وصـــــــــال يـــــــــې د ګـــــــــل ډېـــــــــره خوښـــــــــي وشـــــــــوه
چـــــــــې پـــــــــه ځـــــــــان يـــــــــې محنـــــــــت وڅكـــــــــاؤ لـــــــــه خـــــــــاره

✸✸✸

## ســــالـنـــامــــه

پـه 1314هــ ش )1935/1936م( كـال د كابـل د ادبـي انجمـن لـه خـوا چـاپ شـوې ده. لـه متعلقـاتو سـره ټـول 500 مخه لري.

پـه دې رسـاله كـې د )پښـتون( تـر سـرليك لانـدې يـو مضـمون خپـور شـوى دى؛ د مضمون ليكـونكى د كابـل د ادبـي انجمـن غـړى جنـاب امـين الله خـان )زمريـالى( د اسـلام او پښـتانه، غزنويـان او پشـتانه، غوريـان او پښـتانه، پـه حجملـه كـې د اكبـر جـلال الـدين مغـل او پښـتانه تـر سـرليكونو لانـدې د پيـر روښـان مبـارزه او هغـه د اولاد مبـارزه او له مغولو سره د هغه مخالفت بيان كړى دى.

د روښان په هكله د ليكونكي معلومات يواځې د اخوند درويزه له رواياتو څخه ښكاري.

✸✸✸

## كـابـــل مـجـــلـه

د پښتو ټولني مياشتنۍ خپرونه، د 1348هـ ش كال د غويي او د 1969م كال د اپريل او مئ د مياشتو ګڼې په ديارلسم مخ كې د "روښانيانو نهضت" تر سرليك لاندې د روسي پښتو پوه د م.ك.اسلانوف يوه ليكنه خپره كړې ده چې معتمد شينواري له روسي ژبې څخه پښتو ته ژباړلې ده او د كابل مجلې د پورتنۍ ګڼې تر 19 مخ پورې خپره شوې ده.

✱✱✱

## كابل مجله

د افغانستن د پښتو ټولني مياشتنۍ مجله ده. د 1350هـ ش كال د تلې او د 1971م كال د ستمبر او اكتوبر د مياشتو په 622 ګڼې له 58 مخ څخه تر 68 مخ پورې د "روښانيانو او د هغوی د مبارزې" تر سرليك لاندې د ښاغلي غلام سرور شريفي يوه ليكنه خپره شوې ده چې تر بايزيد دمخه د پښتنو سياسي او اقصادي وضع او له پښتنو سره د مغولو پر وضع باندې د اسلانوف "د روښانيانو خلقي نهضت په رڼا كې" رڼا اچولې ده.

✱✱✱

## كابل

د كابل د پښتو ټولني مياشتنۍ خپرونه ده چې علمي، اجتماعي او ادبي مضامين خپروي.

د 1349هـ ش )1971م كال( د دسمبر او جنورى د مياشتو په ګڼه كې له 36 مخ څخه تر 51 مخ پورې "بايزيد انصاري او د روښانيانو نهضت" تر سرليك لاندې يو اوږد مضمون خپور شوی دی چې د افغانستان تاريخ دويم ټوك څخه چې د )رومادين روسي ليكوال( تاليف دی او ګل محمد نورزي ژباړلی دی.

ليكوال تر اخره حده كوښښ كړی دی چې روښاني تحريك يو سوسيالېستي تحريك ثابت كړي. دی وايي"... دغه نهضت د خپل اصلي ماهيت له مخې ضد فيودالي جريان و." په دې مضمون كې روښاني تحريك ته مطلق بزګري نهضت ويل شوی دی. په دې ډول يې د روښانيانو مبارزه او د هغو ماتې څېړلې او بيا يې نتيجه ګيري كړې ده.

✱✱✱

## كابل مجله

د 1351هـ كال د چنګاښ او د 1972م كال د جون- جولايي د 630 ګڼې له 5 مخ څخه تر 9 پورې د "بايزيد روښان" تر سرليك لاندې د ښاغلي محمد صفدر سالارزي يوه ليكنه خپره شوې ده.

✱✱✱

## كابل

)ژبنی او ادبي څېړنې(

د افغانستان د علومو اكاډمۍ د ژبو او ادبياتو علمي او تحقيقي مركز پښتو ټولني له خوا خپرېږي.

ددې مجلې د 1360هـ ش كال د سنبلې- ميزان د مياشتې په ګڼه كې د )واصل روښاني الفنامې( تر سرليك لاندې د بريښنا په ليكنه د واصل د لاندې بيت په پيل يو مضمون دی:

روښنـــائی وتـــه راووزه
خوی عمل د روښاني كړه

ددې ګڼې له 26 نه تر 45 مخ پورې يو اوږد مضمون ليكل شوېدی.

✱✱✱

## كابل

د 1350هـ ش )1972م( كال د نومبر-دسمبر مياشتو په ګڼه كې د مجلې په لومړي مخ د "اورمړي ژبې" په نامه يو مضمون خپور شوی دی.

د مضمون ليكوال څېړنيار دوست محمد دوست دی. په دې مضمون كې اورمړي ژبه، چې د افغانستان ژوندۍ ژبه ده او بايزيد روښان )اورمړ( هم ددې ژبې ويونكی و، په دې مضمون كې يې كانيګرم اورمړي ژبه د لوګر )د افغانستان يو ولايت دی( له اورمړي ژبې سره مقايسه كړې ده. په دې مقايسه كې لغات، متلونه او توكي د مقايسي لپاره راغلي دي.

او هم دا ډول ددې مجلې په 67 مخ كې يو بل مضمون شته چې سرليك يې "د بايزيد د تبليغ شروع" دی او د مضمون ليكوال ښاغلی غلام سرور شرعي دی.

✱✱✱

## کـــــا بـــــــل

مياشـتنۍ پښـتو خپرونــه ده چې علـي، اجتمـاعي او فلسـفي مضـامين خپـروي. د 1355هـ ش کـال ځلورمــه ګڼــه يــا د 1976م کـال د جـون-جـولايي پــه ګڼـه کې يـو مضـمون خپـروي چې سـرليك يـې )د پښـتو ادب دوه نـيم زره کلـن تـاريخ )د ابتدا نه تراوسه ددغه ادب مسير( دی.

ليکـونکی يې معتمـد او موضـوع يـې د پښـتو ادب پــه مسـير کـې د روښـانيانو او د هغــه د مخـالفينو پـر ليکونـو او ادبيـاتو رڼـا اچـول شـوې ده. پـه لسـمه هجـري پېړۍ کې د روښـانيانو دوره پيـل کېـږي، پـه دغـه وخـت کـې پـه پښـتو ادب کې د نوي فکر اساس ايښودل کېږي.

دغـه نهضـت کـه لـه يـوې خـوا لـه اخونـد درويـزه سـره پـه مـذهبي مسـايلو اختـه دی او پـه دې لار کـې د ادب او هنـر نـه کـار اخلـي، نـو بلـې خـوا لـه مغولـو سـره پـه سياسـي موضـوعاتو بحـث دی. مـرګ ژوبلـه تېـروي، تـوره او قلـم يـې دواړه رااېسـتلي دي. پــه دغــه کشــمکش او اخ و ډب کــې د پښــتو ادب خــوا زياتــه قــوي کېــږئ او دا دوره د پښــتو ادبياتو د انکشاف يوه وتلې دوره ګڼل کېږي.

او همدارنګـه د کابـل مجلـې پـه ذکـر شـوې ګڼـه پـه 78 مـخ کـې يـو مضـمون خپـور شـوی دی چـې سـرليك يـې )خواجه عبدالله انصاري پير هرات او بايزيد انصاري پير روښان د نثر مقايسه( دی.

د مضـمون ليکـونکی ځېړنـدوی عبـدالله خـدمتګار دی. پـه دې مضـمون کـې يـې د خواجـه عبـدالله انصـاري )پيـر هـرات( د نثـر ډول او د هغـه مخـالفين او د خيـر البيـان نثـر او د بايزيـد انصـاري د مخـالفينو مقايسـه پـه ښـه ډول ځېړلې ده.

د دواړو لويـو شخصـيتونو مهمـه ادبـي مقارنـه پـه دې کېـدای شـي چـې د هـرات پيـر پـه پېنځمـه پېـړۍ کـې پـه ژبـه او قلـم د قـرآن مجيـد د ادبـي فـورم يادګـار او مسـجع نثـر يـې پـه دري ادبيـاتو کـې لـوړ مقـام تـه ورسـاوه چـې تـر ده ورسته يې بيا زيات رواج وموند.

د هـرات د پيـر د زمـانې نـه پېنځـه پېـړۍ وروسـته پـه لسـمه هجـري پېـړۍ کـې بايزيـد روښـان پيـر د مبـارزې بېـرغ جګ کړ او ددې مبـارزې پـه تـرڅ کـې يـې د قـرآن مجيـد پـه پيـروي د مسـجع نثـر د فـن نـه يـې پـه پښـتو ژبـه کـې کار واخيست چې تر ده وروسته يې هم دوام وموند.

✸✸✸

## کـــــا بـــــــل

د 1355هـ ش کـال د زمـري مياشـت پېنځمــه ګڼــه )1976م کـال د جـولايي-اګسـت( د مياشـتو پـه ګڼـه کـې لـه 5 مـخ څخه تر 11 پورې يو مضمون خپور شوی چې سرليك يې )د پښتو نثر په مختلفو مرحلو کې( دی.

د مضمون ليکونکی معتمد دی، دا چې پير روښان ولې د ځان لپاره مقفی او مسجع نثر غوره کړی، ليکي:

"... د بايزيـد خبـرې چـې د بزګـر او دهقـان دپـاره ډېـرې ضـروري او ګټـورې وې بايـد پـه ژبـه يـاد او حفـظ شـي. ده بـه ورتـه پـه اسـان ترتيب کـولی چـې هغـه د مقفـی نثـر ترتيـب دی... د بايزيـد حکمـت او فلسـفه دا وه چـې د بزګرانـو تکليف کم شي او په اسانۍ سره د ده تعليمات او لارښوونې د دوی په ذهن کې کېني."

پـورتنی بيـان يـې ) د پښـتو بـديعي نثـر( د مسکو چـاپ د روسـي ليکـوال مـوف ګ. ف ګيـرس پـه حوالـه ليکلـی دی او همداسې د پورتني ماخذ په حواله ليکي:

" دا احتمـال هـم شـته چـې بايزيـد بـه مقفـی نثـر ځکـه انتخـاب کـړی و چـې ده داسـې پـېش بينـي کـړې وه کـه چېـرې دده کتـاب دده د دښـمنانو لـه خـوا د منځـه يـوړ شـي، نـو د خلقـو پـه ذهـن کـې بـه د شـعر غونـدې پـاتې وي او پـه شفاهي ډول به د يوې خولې نه بلې خولې ته لاړ شي او دا يو اوږد فکر و چې ده کړی ؤ."

✸✸✸

## کـــــا بـــــــل

د 1356هـ ش کـال دويمـه ګڼـه يـا د 1977م کـال د اپريـل-مـۍ د مياشـتو د ګڼـې پـه 141 مـخ کـې يـو مضـمون چـې سـرليك يـې دی )پښـتو نثـر د تـاريخ پــه اوږدو کــې( چــاپ شــوی دی چــې دپوهنيــار محمــد صــابر څېړنــه ده او د روښاني دورې پر نثر يې داسی رڼا اچولې ده:

ددې دورې نــه وروسـتــه )1000( زر هجـري يـانې لسـمې پېـړۍ پـورې پښـتو نثـر نسـبت و لـومړۍ دورې تـه زياتـه وده کـړې ده. ډېـر کتابونـه او آثـار پکې ليکـل شـوي دي خـو لـه بـده مرغـه ددې دورې ټـول اثـار پـه لاس کـې نشـته. خـو د هغـو آثـارو لـه مخـې چـې همـدا اوس شـته، ددې دور نثـر وزنـوال او مسـجع دی. د فکـر او موضـوع لـه پلـوه کـوم خـاص بـدلون پکـې نـه دی راغلـی؛ تصـوفي، عرفـاني او دينـي افکـار او خيـالات پـه شـدت سـره پکښـي دي. ددې سـبك علـم بـرداران ميـا روښـان او اخونـد درويـزه دي، کـه څـه هـم دغـو دواړو فکـر مخالفـت درلـود، خـو د ليـك دود له پلوه يې لاره يوه وه.

✸✸✸

## كابل

د 1356هـ ش كال شپږمه ګڼه )1977م كال اګست-ستمبر( د مياشتو د ګڼې په 89 مخ كې يو مضمون خپور شوى دى چې سرليك يې دى )په شپاړسمه او اوولسمه پېړۍ كې د پښتنو ملي جنبش ته يوه لنډه كتنه(.

د مضمون ليكوال روسى ليكوالان ډاكتر عارف عثمانوف او پولاد عثمان دي او رونګټ او عبدالقيوم ترجمه كړي دي. هغوى ليكي:

" همدا سبب چې افضل خان ختك چې د فيوډالي پوړيو استازى او د ختكو د خانزاده ګانو ځخه و د روښانيانو د جنبش ځخه كركه او نفرت ښكاره كوي... بايزيد انصاري په مذهبي فورم كې داسې اعلان كوي چې و ټولو مريانو، بزګرانو، ګاونډيانو او نورو تر ستم لاندې د رنځ او خوا ته د وتلو لاره )د آزادي لاره( پرانيستې ده."

د روښانيانو نهضت چې د وخت اجتماعي، اقتصادي او سياسي شرايطو په نظر كې نيولو سره د شكل له مخې يو مذهبي او ديني تحريك و، خو د محتوا له مخې په خپله زمانه كې يو ولسي او مترقي جنبش و.

لنډه يې دا چې ليكونكى د روښانيانو مخالفين د فيوډالانو او ګوركانيانو د امپراطورۍ وفاداران او نمايندګان ګڼلي دي.

✸✸✸

## كابل

د 1356هـ ش كال اومه ګڼه )1977م كال د سپتمبر-اكتوبر ګڼه(. ددې ګڼې په 103 مخ كې يو مضمون خپور شوى دى چې د مخكينۍ مياشتې ياني شپږمې ګڼې پايڅوړ دى چې سرليك يې دى )16-17 پېړيو كې د پښتنو ملي جنبشونو ته يوه لنډه كتنه(.

د مضمون ليكونكى ډاكتر عارف عثمانوف او پولاد عثمان دي او رونګټ او عبدالقيوم ترجمه كړى دى. د مضمون په دې برخه كې يې روښاني تحريك د مغولو شاهانو )د اكبر باچا نه تر اورنګزېب( په مقابل كې په مختصر ډول څېړلى دى.

د ډهلي د دربار مؤرخ عبدالقادر ملوك شاه بدواني د جلال الدين د خويونو په يادولو سره دې وړوكي، احمق، ناپوهه او په داسې نورو كلماتو سره يادوي او زياتوي چې دى د اعليحضرت د ښه پېرزوينې او خاصو مهربانيو په ارزش نه پوهېده، نو ځكه دا بدبخته، بد مرغه او بې هوښه ماشوم د اعليحضرت د كوره وتښتېد او بېرته خپلو افغانانو ته ورغى. د افغانانو عوام الناس او نور باغي كسان هم دده پر شاوخوا راټول شول او د هندوستان لويه تجارتي لار يې بنده كړه.

✸✸✸

## كابل

د 1356هـ ش كال لسمه ګڼه )78-1977م كال د دسمبر او جنورۍ ګڼ ( په 54 مخ كې يو مضمون خپور شوى دى چې ليكونكى يې ډاكتر محمد حسن كاوون دى او د مضمون سرليك دى )د هندوستان كورګانيانو پر ضد د پښتنو مبارزې - له بابره تر اورنګزيب پورې )1500-1689(. هغه ليكي:

"... له كورګانيانو سره د پښتنو د مخالفت دويمه مرحله د روښانيانو په تحريك سره شروع شوه چې ددغه تحريك مؤسس بايزيد انصاري )1525-1581( نومېده... ددغه منظور دپاره ده دشدت او زور داسې دكتورين فارموليز كړ چې اصلي جوهر يې د جاهلو خلكو او د نفس او د خداى د دښمنانو له منځه وړل روا ګڼل و. داسې خلق ده )مړه( وبلل او دده په فكر بايد دداسې مړو مال د وارثانو ترمنځ وويشل شي، خو عجيبه دا ده سره له دې چې دى د سنت او اهل جماعت په خلقو كې پيدا او اوسېده، اسماعيلي مذهب ته مايل شو. تر دې حده پورې چې په يو قول سره دى د سنت نه زيات د تشيع په خوا و.

بايزيد په غالب احتمال سره غوښتل چې دده تحريك د اسماعيليانو په شان د مبارزې ټينګه روحيه ولري. په دې كار كې دى مؤفق شو ځكه چې افغانان ددغه تحريك مذهبي روحيې وخوځول او دوى بېله دې چې د ژوند او مرګ پروا ولري، د ګوركاني امپراطورۍ له لښكره سره وجنګېدل. يوازې دا نه و، بايزيد ولسونه په داسې اصولو سره جلب كړل.

چې دده په فكر دده د پيروانو دپاره ګټور و لكه د شريعت ځخه خلاص والى؛ يوازې پير ته نه بل چاته اطاعت كول، د غير روښاني اولس د مالو د ضبطه روا بلل او په پاى كې په ټول جهان باندې د حاكميت اميد لرل..."

لنډه يې دا چې ټوله مقاله په دې ډول نظرياتو بناء ده او ليكوال د خپلې وينا د ثبوت لپاره ځاى ځاى ماخذ ښودلى دى.

✸✸✸

## وړمه

د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي د خپرونو نه د شپږم کال دریمه ګڼه )د 1341هـ ش کال د زمري_وږي د میاشتو ګڼه( کې یو مضمون خپور شوی چې سرلیك یې )د عبدالله انصاري او بایزید انصاري تصوف( دی. د مضمون لیکونکی پوهاند صدیق الله رښتین دی. دا مضمون له 13 مخ څخه تر 34 پورې اوږد دی.

✸✸✸

## وږمه

د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو له پوهنځي نه خپرېږي. د فلسفي، علمي، اجتماعي او هنري مضامینو لرونکې ده. ددې مجلې د 1351هـ ش کال په لومړۍ او دویمه ګڼه کې یو مضمون خپور شوی دی چې سرلیك یې دی )پیر روښان او دده تصوفي ښوونځي- د منځ ته راتګ عوامل(. دا مضمون له 56 مخ څخه تر 70 مخ پورې دوام لري. د مضمون لیکونکی د کابل پوهنتون استاد پوهنیار علمي دی.

✸✸✸

## وږمه

د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو د پوهنځي له خوا خپرېږي. د نوموړې مجلې د 1355هـ ش کال د دویمې ګڼې په 13 مخ کې یو مضمون خپور شوی دی چې سرلیك یې دی )پښتو پېژندنه(. ددې ترمخه دا مضمون دپښتو څېړنو بین المللي مرکز د پرانستو په بین المللي سیمینار کې ویل شوی وو.

د همدې مجلې په 25 مخ کې )د پښتو ادبي او علمي کورنۍ( تر سرلیك لاندې یو مضمون خپور شوی دی چې په هغه کې د روښاني کورنۍ پېژندنه او تعریف شوی دی او بیا د لاندې روښاني شاعرانو یادونه شوې ده:

ارزاني، علي محمد مخلص، واصل روښانی، میرزا خان انصاري، دولت لوانی، خواجه محمد، د علي محمد مخلص د پلار )ابابکر(... او نورو ذکر راغلی دی.

✸✸✸

## وږمه

د 1356هـ ش کال د لومړۍ ګڼې په 29 مخ کې یو مضمون خپور شوی دی چې سرلیك یې دی )د خیر البیان مقدمې او لغات نامې ته یوه کتنه(. د مضمون لیکونکی صدیق الله رښتین دی.

په دې مضمون کې د کابل چاپ خیر البیان چې د مکروفلم له مخې عکاسي شوی دی، په سریزه کې یې د پوهاند حبیبي صاحب، ښاغلي بې‌نوا او پوهاند رشاد مقالې خپرې شوي دي.

ښاغلی پوهاند رښتین د کابل د عکسي خیر البیان پر متن او په تېره د هغه پر حاشیه یې تنقید کړی دی.
ښاغلی حبیبي د مقدمې په 32 مخ کې رساله غوثیه د پیر روښان اثر بولي، (خو رښتین صاحب وایې):"خو زما په فکر دغه کتاب د شیخ نعمت د زوی همدان تالیف دی او د روښان آثارو تلخیص شوی دی. په دغه مقاله کې )قال مسکین( له عبارت څخه داسې ښکاري، چې د کتاب مؤلف بل څوك دی چې دده د خولې روایت کوي. دغه راز د رساله غوثیه د نامه نه هم دغه خبره جوتېږي، ولې چې یو مرید د خپل پیر او غوث د وینا په باب څه لیکي، نو هغه ته یې نسبت کول مناسب ښکاري، خو خپل اثر ته په خپله رساله غوثیه ویل صحیح نه برېښي."

د مقدمې په 28 مخ کې (رشتین صاحب) وایي چې حالنامه د علي محمد بن ابوبکر قندهاري له خوا تکمیل شوې ده. دا خبره صحیح ده، خو دومره یادونه هم پکار وه چې د حالنامې د اصلي نسخې په لومړي مخ کې دا عبارت لیکل شوی دی: )تالیف خلیفه علو خان شینواري( ددې خبرې مطلب دا دی، چې خلیفه علي محمد مخلص په خټه شینواری و، البته نیکونه یې له کندهاره تېرا ته راغلي وو.

✸✸✸

## اولس

دا رساله د بلوچستان له کوېټې ښار نه خپرېږي. د 1986م کال د اکتوبر میاشت د 26 کال نهمه ګڼه کې یو مضمون د )پښتو کلاسیکي ادب( تر سرلیك لاندې خپور شوی دی چې لیکوال یې محترم استاد ډاکټر اقبال نسیم خټك دی.

ښاغلی لیکوال د پښتو د مکتوبونو په جمله کې د روښاني مکتب ذکر کړی دی او د پښتو په معلومو کتابونو کې یې لومړی نثري کتاب خیر البیان ګڼلی دی او د بایزید روښان مکتب یې د کلاسیك ادب سرخېل ګڼلی او هم دغسې یې له روښاني مکتب سره تعلق لرونکي شاعرانو او ادیبانو ذکر هم کړی دی.

## اسلامـــــي دائـــرة الـمعـــــارف

(پـــه انـګرېـزی ژبـه)

The Encyclopedia of Islam

R.Hartmann Houlsma, T.W. Arold.Edited by M.t

لـومړی ټـوک لـه A څخـه تـر D پـورې د چـاپ کـال 1193م د چـاپ ځـای لنـدن، 686 پـه لـومړي سـتون کـې د Bayazid Ansari, Pir Roshan سرلیك لاندې د بایزید روښان یادونه راغلې ده:

✱✱✱

## اسلامـي دائـرة الـمعـارف

(پـه جرمـنـي ژبـه)

ENZYKLOIPEDIE DES ISLAM BANDI

د لـومړي ټـوك لـه 714 مـخ څخـه تـر 715 مـخ پـورې د Bayazid Ansari Per Roshan تـر نامـه لانـدې د بایزید روښان یادونه راغلې ده او په 1913م کال په لندن کې چاپ شوی دی.

✱✱✱

## پـښـــــتـو

د افغانستان د علومو اکاډمی د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز درې میاشتنی خپرونه ده.

د 1360هـ ش کـال د پسـرلي د میاشـتو پـه ګڼـه کـې پـه روسـي ژبـهٔ یـو مضـمون خپـور شـوی دی، چـې سـرلیك یـې (خیر البیان دی). په دې مضمون کې په خیر البیان او روښاني آثارو باندې رڼا اچول شوې ده.

✱✱✱

## د افـغـانـسـتـــــان تـــــاريـخ

(پـه روسـي ژبـه)

مؤلـف یـې روسـی لیکـوال رومـودین او پـه 1965م کـال پـه مسـکو کـې چـاپ او خپـور شـوی دی. ددې کتـاب د دویـم ټـوك لـه 33 مـخ نـه تـر 48 مـخ پـورې د بایزیـد انصـاري او روښـاني نهضـت تـر سـرلیك لانـدې د بایزیـد روښـان یادونـه شوې ده.

✱✱✱

## د پـښـتـو قـلـمـي نـسخو كـتـلاك

(پـه انـګرېـزي ژبـه)

ددې کتاب په لومړي او 59، 61، او 64 مخونو کې د بایزید روښان یادونه شوې ده.

Catalogue of Pashto Manuscriopts in the Libraries of the British Isles.

دا کتـاب پـه 1945م کـال د James Fullar Blumhardt لـه خـوا ترتیـب او د بـرټش میـوزیم لـه خـوا پـه لنـدن کې چاپ شوی دی.

✱✱✱

## قـامـوس الاعــلام

(پـه ترکـي ژبـه)

د شمس الدین سامي تالیف دی چې په 1306هـ ش کال د استانبول د مهران په مطبعه کې چاپ شوی دی. ددې کتاب د دویم ټوک په ۱۲۳۵ مخ کې د بایزید روښان یادونه داسې راغلې ده:

" د اکبر شاه په زمانه کې په افغانستان کې زېږېدلی او له نومیالیو صوفیانو څخه و، چې لقب یې "پیر روښنی" و او ده یو روښني طریقه ایجاد کړې وه او د افغانستان په غرونو کې یې یو کوچنی حکومت تشکیل کړی و. "

✱✱✱

# پایخوړ

## (ضمیمه)

زما ددې مقالې تر ترتیب او تدوین کولو وروسته ماته ځینې مواد په لاس راغلل چې زما ددغې مقالې موضوع وه، نو ځکه ما ضروري وګڼل چې په پایخوړ کې یې ولیکم.
له دغو موادو څخه یو هم د قلندر مومند صاحب (د خير البيان تنقيدی مطالعه) نومي اثر دی.

## د خير البيان تنقيدي مطالعه

دا یو تنقیدي اثر دی چې لیکونکی یې ښاغلی قلندر مومند صاحب دی او خپل والد محترم ته یې منسوب کړی دی. په 1988م کال د پېښور په کوهاټ روډ کې خپور شوی دی. کتاب له مقدمې، اشارو او ضمیمو سره ټول 326 مخه دی. د کتاب لیکونکی لیکي چې دا نسخه (خیر البیان) نه د کابل عکسي نسخه ده او نه د پېښور چاپي نسخه ده، بلکې دا نسخه له دغو دواړو نسخو نه اخذ شوی یو درېیم قرات دی چې زما د تحقیق مطابق اصل خیر البیان دی.

لیکونکی روښاني تحریک او ادب پوره ډول څېړلی دی او خپلې رایې او نظریې یې وړاندې کړي دي. په کتاب کې ډېرې خبرې دي چې بېل بحث غواړي. له هغو څخه یوه دا چې هغه ناروا الزامونه چې د اخوند درویزه صاحب له خوا پر بایزید روښان باندې تړل شوي دي قلندر صاحب دا کار په مخزن کې د وروستیو خلکو لاسوهنه ګڼلې ده او په دې ډول یې پیر بابا او اخوند درویزه تر یوې اندازې سپین کړي دي. د دوی روح دې له قلندر صاحب څخه خوشحاله اوسي.

✸✸✸

## پښتو میاشتنی مجله

د پېښور د پښتو اکاډمی له خوا خپرېږي چې د 1988م کال د اګست د میاشتې ګڼې په 25 مخ کې یې یو مضمون خپور شوی دی چې سرلیك یې دی (پیر روشان چېرته دی؟). لیکونکی یې مولوي احمد حسن لسوندي دی.

لیکونکی د پیر روښان په پېژندنه کې په وزیرستان کې د روښان له نخشو او نښانو څخه د یوې خانقا یادونه کړې ده. لیکي: "په کانیګرم منځ ښهر کې یو ځای دی، د لویو لویو کاڼو په مربع شکل کې دی. دې متعلق خلك وايي چې دلته پیر تاریك ځان ته مکه جوړه کړې وه. د ژمي د یخنۍ په باره کې چا د غسل متعلق تپوس ځینی اوکړو چې غسل څنګه پکار دی؟ پیر تاریك جواب کې وايي: په چرخه چرخیده دي یا په ویله پورې کیده دي یا اوړي ته کاته دي. یعنې منګي باندې راتاو شه یا ویاله باندې پورېوزه او که دا نشي درنه کیدای نو کله چې د اوړي موسم راسي نو بیا هله لامبل پکار دي."

او بیا د روښان د قبر په اړه لیکي:

" تراوسه د روښان د قبر تعین نه دی شوی خو د دوی ذکر شوو ځایونو پسې چې ما کومې ډیوې بلې کړې دي هغه هم قطعي نه دي ګوندې څوك نور به هم څه تحقیق او تطبیق وکړي."

د لیکونکي مطلب دا دی چې تراوسه چې د بایزید روښان قبرونه تعین شوي دي، قطعي نه دي، وروسته به د نورو څېړنو او پلټنو په پایله ومونذل شي.

✸✸✸

## یادونه

یوه خبره چې د یادونې وړ ده، هغه دا ده چې په دې کتاب کې د خیرالبیان ذکر دوه ځایه راغلی دی (لومړی مخ او 83 مخ). یو دعکسی نسخی او بل د چاپی. څرنګه چې زما سره دخیرالبیان عکسی نسخه نه وه چې په تفصیل سره پر ړغیدلی وای نو ځکه په کار وه چې ددواړو نسخو معلومات مې یو کړی وای خو د موضوع د اهمیت په خاطر می همداسي پریښوول. بله نیمګرتیا داده چې دا دواړه معلوماته باید پو په بل پسې راغلی وای خو دلته بیځایه دپیښور چاپ خیرالبیان د فارسی او اردو کتابونو په کتار کي راغلی دی.

ددې کتاب بله نیمګړتیا دا ده چې د کابل عکسي خیر البیان دلته زما لاس ته رانغی، نو ځکه یې ما په رساله کې پوره پېژندګلو ونه کړای شوه. خو دومره مې یاد دي چې په 1350هـ ش کال د کابل د پښتو ټولنې له خوا د محترمو لیکوالو (پوهاند عبدالحی حبیبي، عبدالروف بېنوا او پوهاند عبدالشکور رشاد) ورباندې ګټورې سریزې لیکلې وې.

پاتې دې نه وي چې د عبدالروف بېنوا مقاله زما سره په خپلو یادښتونو کې وه او په دې مقاله کې مې استفاده څنې کړې ده.

پای